# د عامه
# اړیکو
# پالیسي 2011

## د معلوماتو تبادله او
## ښکاره کول

Asian Development Bank

# د عامه
# اړیکو
# پالیسي 2011

د معلوماتو تبادله او
ښکاره کول

Asian Development Bank ADB

2011 © د اسيا پرمختيايي بانک

د چاپ ټول حقوق محفوظ دي. په 2011 ميلادي کال کې خپور شوې دی
په فلپاين کې چاپ شوی دی

ISBN 978-92-9254-395-2 (Print), ISBN 978-92-9254-396-9 (PDF)
د خپروني د زيرمي شميره. TIM146277

د اطلاعاتو په خپروني کې فهرست شوې دی

د آسيا پرمختيايي بانک
د عامه اړيکو پاليسي 2011: د معلوماتو تبادله او ښکاره کول.
منداليونګ ښار، فلپاين: د آسيا پرمختيايي بانک، 2011.

1. د معلوماتو ښکاره کول. 2. د معلوماتو تبادله. 3. د آسيا پرمختيايي بانک
I. د آسيا پرمختيايي بانک

په دغه سند کې ديوې ځانګړې جغرافيايي سيمي نوم ذکر کول او يا د مرجع په توګه يادونه او يا يوې سيمي ته د هيواد اصطلاح کارول، د آسيا پرمختيايي بانک له لورې د نوموړې سيمي په اړه حقوقي قضاوت او يا د هويت ورکولو په معنی نه دی.

د آسيا پرمختيايي بانک د دغه معلوماتو چاپ او فوتوکاپي چې د شخصي او غير سوداګريزو موخو د کارولو لپاره وي او د آسيا پرمختيايي بانک ته يې مناسب اعتبار ورکول شي، هڅوي. د آسيا پرمختيايي بانک د ليکلي اجازې او رضايت پرته کاروونکو ته د سوداګريزو موخو لپاره د دغه سند پلورل، بيا ويشل او يا يې مثنی جوړول منع دي

يادونه: په دغه سند کې د "$" د امريکايي ډالر لپاره کارول شوې ده.

د آسيا پرمختيايي بانک
6 د آسيا پرمختيايي بانک جاده، د مندالوينګ ښار
1550 ميترو، مانيلا، فلپاين
تيليفون 4444 632 2 63+
فکس 2444 636 2 63+
www.adb.org

د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ
د عامه معلوماتو او ښکاره کولو له واحد سره اړيکي ونيسئ (InfoUnit)
د بهرنيو اړيکو ځانګه
فکس 2649 636 2 63+
disclosure@adb.org

د ډيرو مطالعاتو لپاره دغه پاڼي ته مراجعه وکړئ: http://www.adb.org/Disclosure

د آسيا پرمختيايي بانک د رييسانو د بورد لورې د 25 اکتوبر 2011 ميلادي کال کې تصويب شوې پاليسی سند دی.
په داسي پاڼو کې چاپ شوې دی چې بيا کارول کيداې شي.

"اس دستاویز کا انگریزی سے اُردو زبان میں ترجمہ کیا گیا ہے تا کہ زیادہ سے زیادہ لوگ اس سے مستفید ہوسکیں. ایشیائی ترقیاتی بینک نے اس ترجمہ کی درستگی کی توثیق کرنے کی کوشش کی ہے لیکن ایشیائی ترقیاتی بینک میں استعمال ہونے والی زبان چونکہ انگریزی ہے اور اس دستاویزکا اصل متن بھی انگریزی زبان میں ہے لہذا اسی کو مستند خیال کیا جائے. کسی بھی حوالہ جات کے لیے اس دستاویز کے اصل انگریزی متن ہی سے رجوع کیا جانا چاہیے."

په داسي پاڼو کې چاپ شوې دی چې بيا کارول کيداې شي

# د مطالبو فهرست

مخففات يا لنډنوم iv
د لغاتونو تعريف v
د بيا کتنې ډله vi
عمومي لنډيز 1
1 پيژندګلوي 4
2 په عامه اړيکو کې د آسيا پرمختيايي بانک تجربه 5
د پاليسي موخې 5
د پاليسي د پلي کولو ارزونه 5
3 د عامه اړيکو په اړه نړيوال دود 8
4 د 2005 ميلادي کال د پاليسي په اړه وړانديز شوې پراختيا 9
5 پاليسي يا تګلاره 11
6 د ښکاره کولو جزييات 13
د هيواد د شراکت او سيمه ايزې همکاري ستراتيژيګانې 13
پروژې او پروګرامونه 14
پروژو اوپروګرامونو پورې نور اړونده معلومات 18
پاليسي ګانې او ستراتيژي ګانې 19
عملياتي اصول او پروسيجرونه 19
نور معلومات 19
د احتمالي ښکاره کولو استثنات 22
7 د عامه اړيکو کړنلاره 25
د پام وړکتونکي 25
دپام وړ کتونکو ته د رسيدلو کړنلاره 25
ژباړه 26
8 د پلي کولو تنظيمات 27
دندې او مسؤليتونه 27
د معلوماتو د ترلاسه کولو پروسيجر 29
څارنه او رپورټ ورکونه 32
د پاليسي د پلي کيدو نيټه او بيا کتنه 32
9 د سرچينو اغيز او ونډه 33
10 د بياکتنه مطابقت 34
ضميمې
1. د بهرني مشوري پروسه 35
2. د نورو څو اړخيزه پرمختيايي بانکونو کې د معلوماتو ښکاره کول 37
3. د 2005 کال د عامه اړيکو پاليسي، د عامل اړيکو د پاليسي دڅيرني سند او د نړيوال بانک او بين الامريکايي پرمختيايي بانک معلوماتو ته د لاس رسی د پاليسيو پرتله 42
4. د عامه اړيکو د پاليسي د کاري چوکات پايلې 47

# مخففات یا لنډنوم

| | | |
|---|---|---|
| ADB | – | د آسیا پرمختیایي بانک |
| ADF | – | د آسیا پرمختیایي وجوه |
| AfDB | – | د افریقا پرمختیایي بانک |
| CPS | – | د هیواد د شراکت ستراتیژي |
| DEC | – | د پرمختیا د اغیزمنتیا کمیته |
| DER | – | د بهرنیو اړیکو پراختیا |
| DMC | – | د پرمختګ په حال کې غړي هیوادونه |
| EBRD | – | د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک |
| EIA | – | د چاپیریال د اغیز ارزونه |
| EIB | – | د اروپا د پانګي اچوني بانک |
| IAP | – | د شکایتونو څیلواکه بورد |
| IDB | – | بین الامریکایي پرمختیایي بانک |
| IED | – | د ارزوني څیلواکه څانګه |
| IEE | – | د چاپیریال لومړني ازماینت |
| IFC | – | نړیوال مالي شرکت |
| IPP | – | د اصلي وګړو پلان |
| IPSA | – | د بیوزلي او ټولنیز لومړني تحلیل |
| MIGA | – | د څو اړخیزه پانګه اچوني د تضمین اداره |
| NGO | – | غیري دولتي سازمان |
| OAI | – | د روڼتیا او فساد ضد اداره |
| PDS | – | د پروژې د اطلاعاتو پاڼه |
| PDAC | – | د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته |
| RCS | – | د سیمیزې مرستي ستراتیژي |
| RRP | – | د جمهور رییس رپورټ او سپارښتني |
| TA | – | تخنیکي مرستي |

# د لغاتونو تعریف

| | | |
|---|---|---|
| غیزمن وګړي | – | هغه وګړي چې د آسیا پرمختیایي بانک د پروژې یا پروګرام د مرستې له امله په مثبت او یا منفی ډول اغیزمن شوي وي |
| بورد | – | که چیرې په کوم بل ډول نه وي واضح شوي، نو د آسیا پرمختیایي بانک د رییسانو بورد ته ویل کیږي. |
| پور اخیستونکي | – | کله چې یوې بشپړې پروژې ته اطلاق کیږي، نو په دې معنی ده چې د آسیا پرمختیایي بانک څخه یې مرسته ترلاسه کړې ده. |
| مشتري | – | په غیر حکومتي پروژو باندې پلي کیږي، په دې معنی چې پور اخیستونکي، ګټه اخیستونکي، د وجوه آمرین، پانګه ترلاسه کوونکي، او یا اړونده اداره چې د آسیا پرمختیایي بانک څخه پور او یا تضمین اخلي او یا پانګې پکې اچوي. |
| بشپړ | – | یو سند ته په کتو سره، د تیاریو څخه پیل د ټولو پړاونو په ګډون چې د آسیا پرمختیایي بانک د چمتوالي اړونده مسؤلې څانګې ټولې اړتیاوې پوره کړي. |
| وروستني رپورټ | – | هغه رپورټ چې (i) د آسیا پرمختیایي بانک ته د وروستني رپورټ په توګه په رسمي ډول سره سپارل شوې وي، (ii) د آسیا پرمختیایي بانک دا په ګوته کړي چې د آسیا پرمختیایي بانک له لورې په مرسته شوې پروژه یا پروګرام په تیاریو کې کافي کیفیت کارول شوي، او (iii) نورو بدلونونو ته اړتیا نلري |
| غیر دولتي پروژه | – | هره پروژه چې د پور، تضمین، د شتمنیو په پانګه اچولو او یا کوم بل مالي ترتیباتو له لیارې تمویل شوې وي چې (i) چې د غړي هیواد او یا حکومت له لورې یې تضمین نه وي شوي، یا (ii) د غړي هیواد یا حکومت له لورې یې په دې شرط سره تضمین شوې وي چې د آسیا پرمختیایي بانک ته اجازه نه ورکوي چې د آسیا پرمختیایي بانک او د اړونده غړي هیواد سره د تضمین کوونکي لپاره پور ډیر، معطل یا فسخ کړي او یا کوم بل پور او یا تضمین ورکړي. |
| دولتي پروژه | – | هره پروژه چې د پور، بلاعوضه مرستې یا د کوم بل مالي ترتیباتو له لیارې تمویل شوې وي چې (i) چې غړي هیواد پورې تمدید شوې وي، یا (ii) د غړي هیواد له لورې یې تضمین شوې وي. |
| په یا دې (څرک) | – | (دې) تصویب، دوران، بشپړیدو، منلو، بحث کولو، صادرولو، تر لاسه کولو کلمې په دې معنی دي چې هر کله یې پلي کول مناسب وي، او د تصویب، دوران، بشپړیدو، منلو، بحث، صدور ترلاسه کولو یا سپارلو یې له دوه اونیو (14 کاري ورځو) څخه ډیر وخت نه وي تیر شوي. |

# د بيا کتنې ډله

**رييسه کميته**

آر. ايم. ناک، اداري عمومي رييس او رييس آر. ايل. تي. داوسن، لوي مشاورې، د عمومي شورا دفتر (OGC)

کې. ساقي، لوې رييس، د ستراتيژي او پاليسي رياست، پي. سي. ارکوياګا، لوې رييس، د خصوصي سکتور د عملياتو رييس

جی. ميريندا، لوی رييس، مرکزي او لويديځ آسيا څانګه

ايکس. ياو، لوی رييس، د سيميزې او اوږدمهالي پرمختيا څانګه

ای. قوون، عمومي رييس، د بهرنيو اړيکو څانګه (DER)

**د بيا کتنې مشر**

ای. قوون، عمومي رييس، د بهرنيو اړيکو څانګه (DER)

**مشاور**

ايس. ايچ او، د بهرنيو اړيکو متخصص، DER

**د ټيم مشر**

دی. روچ، د اړيکو متخصص ( د معلوماتو ښکاره کول)، DER

**د ټيم غړي**

ايل. تي. نظربيکووا، مشر مشاور، OGC

کی. ملقونی، مشر مشاور، OGC

ايس. هوپر، د اړيکو سرمشاور، DER

اين. ای. سي. ويلالوز، د اړيکو مدير ( د معلوماتو ښکاره کول)، DER

آر. پی. ايس. مامونونګ، د اړيکو مرستيال همغږي کوونکي ( د معلوماتو ښکاره کول)، DER

د عامه
اړيکو
پالیسی 2011

# عمومي لنډيز

د عامه اړيکو پاليسي، د آسيا پرمختيايي بانک يو ژوندي سند دي چې د هغه وګړو لپاره چې دغه اداره خدمت وړاندې کوي، د روڼتيا او حساب ورکونې د هڅو لاربنود دې. پاليسي دا په ګوته کوي چې روڼتيا او حساب ورکونه د پرمختيا د اغيزمنتيا لپاره اړين دي. د آسيا پرمختيايي بانک د بيوزلې څخه پرته د آسيا او د اقيانوس ليدلورې به تر هغه تر لاسه نشي چې د آسيا پرمختيايي بانک د خپلو دخيلو اړخونو د اړتياوو څخه خبر نشي، اوپه ورته توګه سره دخيل اړخونه په سيمه کې د آسيا پرمختيايي بانک ونډه او فعاليتونو باندې پوهه شي او ملاتړ يې وکړي.

د 2005 کال د پاليسي سند د معلوماتو ښکاره کول او بهرنې اړيکې د پوښښ لاندې راولي، چې د آسيا پرمختيايي بانک غړو، مشرانو او تصميم نيونکو، مدني ټولنې، علمي وګړو، رسنيو او وګړو ته چې د آسيا پرمختيايي بانک د فعاليتونو له امله اغيزمن کيږي، د معلوماتو او د فعاليت لپاره يو جامع لاربنود دې. د آسيا پرمختيايي بانک د حکومتوالي يو کليدې برخه چې په دغه پاليسي کې پيژندل شوې ده، د آسيا پرمختيايي بانک په اړه د خلکو د معلوماتو د غوښتنې، لاس رسې او د معلوماتو ليږد حق دې. په دغه سند کې همدارنګه په روڼتيا او حساب ورکونې کې د اړيکو حياتې ونډه واضح شوې ده، او بالاخره د آسيا پرمختيايي بانک د پرمختيا د اغيز د لوړتيا په اړه هم پکې خبرې شوې دي.

**د 2005 کال د پاليسي بيا کتنه.** د 2005 کال پاليسي د پلې کيدو څخه پنځه کاله وروسته جامع بياکتنې ته اړتيا لري. همدارنګه، د آسيا پرمختيايي بانک د 2012 ميلادې کال د فبرورې په مياشت کې د پاليسې د اغيزمنتيا په اړه يوه ارزونه ترسره کړه او ځينې بدلونونو وړانديز يې وکړ څو چې دغه پاليسي ته وده ورکړل شې او ځواکمنه شي. په دغه بياکتنې کې هغه وګړو او سازمانونو چې په دغه بياکتنې کې يې دلچسپي درلوده ونډه واخيستله. د مشورې مسودې د 2010 کال د نومبر په مياشت کې خپرې شوې. د پاليسې په اړه د آسيا پرمختيايي بانک د آسيا او د اقيانوس او په نورو غړو هيوادونو کې د اړونده اړخونو سره په پراخه توګه بحثونه ترسره شول. د آسيا پرمختيايي بانک همدارنګه د خپلو دخيلو اړخونو په اړه دوه نړيوالې سروې ګانې ترسره کړې، تر څ، چې د آسيا پرمختيايي بانک د اجرائتو او اړيکو په اړه درک او پوهاوې معلوم کړي. په دغه سند کې له بهر او داخل څخه تر لاسه شوې نظرونه او تبصرې او د درک د نړيوالو سروې موندنې شاملې شوې دي.

**د 2005 کال د پاليسې تجربې.** کله چې د 2005 کال په اپريل کې د عامه اړيکو پاليسې تصويب شوه، نو د څو اړخيزو پرمختيايې بانکونو په منځ کې دغه سند يو پرمختللې او د ښه فعاليتونو لپاره يو کليدې سند وګڼل شو. له هغه مهال وروسته، د آسيا پرمختيايي بانک د عامه اړيکو په برخه کې ډير مهم ګامونه پورته کړې دي. دغه پاليسې د د آسيا پرمختيايي بانک په داخلې کلتور کې داسې لوې بدلونونه را منځ ته کړل چې اوس مهال د آسيا پرمختيايي بانک د ټولو پروژو په اړه د معلوماتو ښکاره کول يو معيارې عملياتي پروسه ګرځيدلې ده. په 2007 کال کې د نړيوالې حساب ورکونې رپورټ چې دې ون ورلډ ترسټ له لورې خپور شو، د آسيا پرمختيايي بانک د روڼتيا د ښه فعاليت په برخه کې 100 سلنه (100%) پکې ترلاسه کړې وه. د آسيا پرمختيايي بانک بهرنې ستراتيژي، چې د دغه پاليسي ملاتړ کوې، د آسيا پرمختياې بانک د پروفايل او د خپلو فعاليتونو په اړه د پوهاوې او د معلوماتو د شريکولو نوښتيزو او د موخه په بنسټ ولاړو هڅو کې نوره مرسته کړې ده. د آسيا پرمختياېي بانک د خپل پروفايل په اړه په لويو رسنيو کې د پوهاوې فعاليتونو او ادارې کارکونکو له لياري په لويو نړيوالو ناستو او کنفرانسونو کې د عامه فعاليتونو په برخه کې د خبرو له لياري لوړ کړې دي. برسيره پر دې، له 2005 کال راهيسې د آسيا پرمختياېي بانک په ويب پاڼه کې د سندونو د شريکولو شميره 145 سلنه لوړه شوې ده. له 6,000 څخه ډير د معلوماتو د ترلاسه کولو غوښتنه شوې ده، چې د آسيا پرمختيايي بانک يې په 95 سلنه قضيو کې معلومات چمتو کړې دي.

**بدليدونکې چاپيريال.** د ډيرو پرمختګونو سره سره، د آسيا پرمختيايي بانک ژمن دې چې په راتلونکې کې روڼتيا او شفافيت نور هم ډير کړي. د عامه ارګانونو د روڼتيا لورې ته حرکت، د عامه وګړو هيلې نورې هم لوړې کړې دي. په دې وروستيو کې، نورو څو اړخيزو پرمختياېي بانکونو د روڼتيا د ډيروالې لپاره معلوماتو ته د لاس رسې نوې پالېسې

پلي کړي يا يې پيل کړي دي. پداسې حال کې چې په ډېرو برخو کې د آسيا پرمختيايي بانک مخکښ دی، خو ځينې نورو ساحو کې بيا شا ته پاتې دي او بايد د معلوماتو د ښکاره کولو په برخه کې د خپلو نورو رقيبانو سره ځان برابر کړي. د آسيا پرمختيايي بانک بايد خپلې هڅې نورې هم ډېرې کړي څو دا باوري کړي چې معلومات اړونده وګړو ته رسيږي. نوي تکنالوژي لکه ټولنيزي شبکې او د ګرځنده ټيليفون وسيلې د آسيا پرمختيايي بانک لپاره نوي فرصتونه برابروي څو چې اړونده وګړو ته ورسيږي. په ورته مهال کې، د آسيا پرمختيايي بانک په دې پوهيږي چې د دخيلو اړخونو يوه لويه ډله تکنالوژي ته لاس رسی نلري، له دې امله، د اړيکو دوديزه ميتودونه تر اوسه هم اړين دي. د 2020 ستراتيژي، د آسيا پرمختيايي بانک اوږدمهالې ستراتيژي کاري چوکاټ دی چې په 2008 کال کې تصويب شوی ده، او د آسيا پرمختيايي بانک د عملياتو او فعاليتونو د حساب ورکونې، ګډون او روڼتيا په اهميت باندې تاکيد شوی دی.

**عمومي تګلاره او پلي کول تاييد شول.** د بياکتنې پايلې دا وې چې پاليسي په بنسټيزه توګه سالمه او په ښه توګه سره پلي شوي ده. له دې امله، د پاليسي بنسټونه به بدلون نه موموي.

**په پاليسي کې وروستني بدلونونه.** بياکتنې پنځه ساحې په ګوته کړلې چې د بدلون اړتيا پکې ليدل کيږي، څو چې د آسيا پرمختيايي بانک وتوانيږي د غوره فعاليتونو په راس کې راشي. لومړني بدلونونه په لاندې ډول دي:

(i) **د شکايتونو خپلواکه بورډ اضافه شو.** د عامه ښکاره کولو د مشورتي کميټې برسيره، چې د غوښتنو د رد د شکايتونو داخلي ميکانيزم دی، د آسيا پرمختيايي بانک به د شکايتونو يو خپلواکه بورډ معرفي کړي چې د شکايتونو د پروسس د اعتبار او ښه فعاليت لپاره د دويمې مرجع په توګه دنده ترسره کړي.

(ii) **استثناءات واضح شول.** د ښکاره کولو په برخه کې د استثناءتو ليست واضح شو. اوه ډوله معلومات چې د ښکاره کولو څخه مستثناء دي سرخط ورکړل شوي دي. د استثناءتو لامل نور هم کره او ګټو ته د هغه زيانونو چې د اړونده معلوماتو د ښکاره کولو له امله را منځ ته کيږي په ګوته شوي دي.

(iii) **د تصميم نيولو بورډ ته د لاس رسي ډېروالی.** د بورډ ډېر اسناد به خلکو او بورډ ته په يو وخت ښکاره شي. په دغه اسنادو کې د حکومتي پروژو لپاره د پور پروپوزلونه، او د سيمېزې همکارۍ او مرستې او د هيواد د ګډون ستراتيژۍ پروپوزلونه، چې دغه پروپوزل د اړونده هيواد د هوکړې پورې تړاو لري چې غواړي دغه ډول پروپوزل ښکاره شي او که نه، او د پاليسي او ستراتيژۍ سند پروپوزل چې د عامه مشورې له پروسې څخه تير شوي وي، شامل دي. په دې توګه د د اړونده دخيلو اړخونو ګډون به د آسيا پرمختيايي بانک د تصميم نيولو په پروسه کې ډېر شي. د بورډ د ناستو متن به د لسو کلو څخه وروسته عامه وګړو ته ښکاره شي، په دې شرط چې په دغه متنونو کې داسې کوم معلومات نه وي چې د استثناء د پاليسي له مخې ښکاره کول يې جواز ونلري.

(iv) **د عامه اړيکو چلند نوی شوی دی.** ددې لپاره چې د پاليسي ملاتړ وشي، د بهرنيو اړيکو ستراتيژي چې په 2005 کال کې جوړه شوې وه، په فعاليتونو کې داخل شوې، څو چې په عامه اړيکو تمرکز وشي. د آسيا پرمختيايي بانک د عامه اړيکو چلند په دې ټينګار کوي چې په آسيا او قيانوس کې د پرمختيايي ننګونو د ډيريدو په ځواب کې د وګړو سره د اړيکو ډيروالي ته اړتيا ډيره ده.

(v) **د نوي کولو چلند به دا باوري کړي چې** د آسيا پرمختيايي بانک اړيکې په ډېريدونکې ډول سره اغيزمنې دي او د 2020 د ستراتيژۍ سره مطابقت لري. د آسيا پرمختيايي بانک به د دخيلو اړخو د هيلو بدلون ته هم ځواب ووايي. د عامه اړيکو چلند به د اړتيا لرونکو وګړو لپاره په غوره توګه سره تنظيم شي. د اغيزمنو وګړو او دلچسپې لرونکو اړخونو سره به فعاليت ترسره شي.

د پروژې د دوران په مهال، د آسيا پرمختيايي بانک پروژې او پروګرامونه به د اړينو اړيکو او معلوماتو شريکولو د باورې کولو لپاره تقويه شي. د آسيا پرمختيايي بانک به همدارنګه د توليداتو په اړه معلومات خپرول - په مستقيم او چاپي ډول سره- ډېر کړي څو چې د پوهاوي په بنسټ په سيمه کې اقتصاد ته پرمختيا ورکړي. برسيره پردې، د آسيا پرمختياېي بانک به سيميز او ملي کنفرانسونه د توليداتو د پوهاوي په اړه د معلوماتو د شريکولو او د حکومتي چاراواکو او کليدي دخيلو اړخونو سره د نظرونو د تبادلې لپاره، وکاروي.

(vi) **نور بدلونونه.** نورو بدلونو کې د ژبو وضاحت، نوي او وروستني معلومات، د آسيا پرمختيايي بانک د سوداګرې د پروسې سره مطابقت، د آسيا پرمختيايي بانک د معلوماتو د نه ښکاره کولو حق چې د استثنايي حالاتو په چوکات کې راځي، او د معلوماتو ډېر ښکاره کول لکه اړونده ملي ژبو ته د پروژو د اطلاعاتو د پانو

ژباړل، تر څو چې په هیواد کې اړونده دخیل اړخونه د آسیا پرمختیایي بانک د پروژو په اړه معلومات ترلاسه کړي، د پروژه د حسابونو د تفتیش ښکاره کول، او د مدیریت او د بورډ د غړو د تنخواه ښکاره کول، شامل دي.

**پالیسي.** د پالیسي موخه د اړونده دخیلو اړخونو د باور لوړول دي څو چې د آسیا پرمختیایي بانک سره کار وکړي او په دې ډول سره د آسیا پرمختیایي بانک د فعالیت اغیز په پرمختیایي کارونو کې لوړ کړي. د پالیسي بنسټونه په لاندې ډول دي:

(i) **په فعاله توګه ښکاره کول.** د آسیا پرمختیایي بانک باید په فعاله توګه د خپلو کارونو په اړه پوهاوي او معلومات او نظرونه د عامه وګړو او دخیلو اړخونو سره شریک کړي. د آسیا پرمختیایي بانک ویب پاڼه به بنسټیزه توګه ددغه فعاله شریکولو مخکښه سرچینه وي. که مناسبه وي، ښکاره شوي معلومات به د نورو لیارو په مرسته هم ښکاره شی. په فعاله توګه ښکاره کول به د آسیا پرمختیایي بانک د تصمیم نیولو کې د ټاکل شوي وخت محدودیت او د دخیلو اړخونو ګډون ته به لاره هواره کړي. د آسیا پرمختیایي بانک باید د انفرادي غوښتنو په بدل کې هم معلومات ښکاره کړي، د هغه حالاتو په استثناء چې په دغه پالیسي په احکامو کې بیان شوي دي، هغه اسناد چې بورډ ته د غور لپاره سپارل شوي دي، د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې د بورډ له لوري د تصویب او یا منلو وړاندې باید خپاره شي. د بورډ نور اسناد باید وروسته د بورډ د تصویب او تایید څخه په ویب پاڼه کې خپاره شي.

(ii) **ښکاره کول غوره ګڼل کیږي.** دغه پالیسي د معلوماتو ښکاره کول غوره ګڼي. ټول هغه اسناد چې د آسیا پرمختیایي بانک یې تولیدوي یا د تولیدولو اړتیا یې وي، کیداې شي چې ښکاره شي، د هغه حالاتوپرته چې پالیسي کې یې ښکاره کول مستثناء ګڼل شوې وي.

(iii) **معلوماتو او نظریو ته د لاس رسي او لیږد حق.** د آسیا پرمختیایي بانک د فعالیتونو په اړه وګړي د معلوماتو او نظریو د غوښتنو، ترلاسه کولو او لیږدولو حق لري. د آسیا پرمختیایي بانک باید معلومات په خپل وخت، واضح او په اړونده توګه چمتو کړي. معلومات باید اغیزمنو وګړو او نورو دخیلو اړخونو ته د ښځو، بیوزلو، او نورو زیانمنونکو ډلو ته په وخت سره ورکړل شي څو چې د پروژې د ډیزاین او پلي کیدو په موده کې کره ونده ولري. د آسیا پرمختیایي بانک باید په انتخابي ډول سره معلومات خپاره نکړي. د دغه پالیسي له مخې خلک به د آسیا پرمختیایي بانک معلوماتو ته انډولیزه لاس رسی ولري.

(iv) **د هیواد ملکیت.** د آسیا پرمختیایي بانک په هغه فعالیتونو کې چې د پرمختګ په حال کې هیوادونو کې یې ترسره کوي د هیواد ملکیت ته ډیر اهمیت ورکوي. له دې امله، مخکې له دې چې ځانګړې اسناد ښکاره کړي، د معلوماتو د محتوا او د ښکاره کولو د وخت په اړه د پرمختګ په حال کې د غړي هیواد نظرونه باید د غور لاندې ونیسي.

(v) **محدود استثناءت.** ښکاره کول یواځې په محدودو حالاتو کې نشي ترسره کیداې. ټول هغه اسناد چې د آسیا پرمختیایي بانک یې تولیدوي یا د تولیدولو اړتیا یې وي، کیداې شي چې ښکاره شي، د هغه حالاتوپرته چې پالیسي کې یې ښکاره کول مستثناء ګڼل شوي وي. د آسیا پرمختیایي بانک حق لري چې د استثنا پالیسي لغوه کړي که چیرې دا په ګوته کړي چې د معلوماتو په ښکاره کولو کې معلوماتو د ښکاره کولو د زیان په پرتله د عامه دلچسپي ډیره ده. د آسیا پرمختیایي بانک حق لري چې معلومات ښکاره نکړي، په استثنایي حالاتو کې، هغه معلومات چې په نورمال حالاتو کې ښکاره کوي ښکاره نکړي، که چیرې دا په ګوته کړي چې د معلوماتو د ښکاره کولو زیان د ګټې په پرتله ډیر دې او یا به راتلونکي د زیان لامل شي.

(vi) **د شکایت حق.** په دغه پالیسي کې د هغه وګړو چې د معلومات غوښتنه کوي د شکایت د پروسې په دوه پړاونو کې د شکایت حق لري، کله چې دوې په دې باور وې چې د آسیا پرمختیایي بانک ددوې غوښتنه د معلوماتو د ورکولو په برخه کې رد او د پالیسي څخه یې تخطي کړې ده. ددې لپاره چې د شکایت پروسې اعتبار ډیر شي، په دویم پړاو به د آسیا پرمختیایي بانک څخه بیل وي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټي ته هم شکایت ورکولای شي چې د پالیسي هغه استثناءت لغوه کړي چې غوښتل شویو معلوماتو ته لاس رسی محدودوي، په دې شرط چې د معلوماتو په ښکاره کولو کې معلوماتو د ښکاره کولو د زیان په پرتله د عامه دلچسپي ډیره وي.

د داخلي پلي کولو تنظیماتو کې به بدلون راشي. خو نورې سرچینې باید ځانګړې شي څو چې د عامه اړیکو هڅې او د شکایتونو خپلواکه کمیته ځواکمنې شي. ■

# 1

# پیژندګلوي

د عامه
اړیکو
پالیسی 2011

.1 دغه سند د عامه اړیکو پالیسي[1]، چې د آسیا پرمختیایي بانک په 2005 کال کې تصویب کړې وه، نوې کوي. څرنګه چې د 2011 کال د اکتوبر په 25 دغه پالیسي د بورډ له لوري تصویب شوه او د 2012 کال د اپریل د میاشتي راهیستي پلي شوې ده، نو په دغه سند کې توضیح شوې پالیسي د 2005 کال په پالیسي کې ذکرشوي احکام لغو کوي.

.2 روڼتیا او فعاله عامه اړیکي بیا هم د اوسني پالیسي کلیدې کړې دي. د ښکاره کولو او د اړیکو دوه بیلو پالیسیو د تعویض کولو سره، د 2005 کال پالیسي د آسیا پرمختیایي بانک د اړیکو د هڅو لپاره یو ځواکمن او متمرکزه چلند را منځ ته کړ. همدارنګه دغه پالیسي د آسیا پرمختیایي بانک د پرمختیایي فعالیتونو د اغیزمنتیا لپاره د بهرنیو اړیکو او د معلوماتو د ښکاره کولو د چلند په بدلون کې لویه ونډه درلوده. څرنګه چې د 2005 کال په پالیسي کې دا اړینه ښودل شوې وه، چې په 2010 کال کې جامع بیا کتنه ترسره شي، چې دغه بیا کتنه په دغه کال کې ترسره شو.

.3 د پالیسي بیا کتنه د رییسه هیئت له لورې چې د عمومي اداري رییس له لوري یې مشري کیدله پر مخ بوړل شوه. د آسیا پرمختیایي بانک د خپلو کارونکو څخه د پالیسي په اړه د هغوې د تجربو د شریکولو او د پالیسي د ښه کولو لپاره د نظرونو غوښتنه وکړه. د آسیا پرمختیایي بانک همدارنګه له بهرنیو دخیلو اړخونو څخه غوښتنه وکړه چې د پالیسي، او د پلي کیدو په اړه فید بک ورکړي او د پالیسي د ښه کیدو لپاره وړاندېزونه وړاندې کړي. برسیره پردې، چې په لیکلي ډول سره نظرونه غوښتل شوي دي، د آسیا پرمختیایي بانک په 12 غړو هیوادونو کې 20 مشورتي ورکشاپونه ترسره کړل، ترڅو چې په پراخه کچې سره د دخیلو اړخونو، د اغیزمن شویو وګړو په ګډون، نظرونه تر لاسه کړي. له 500 څخه ډیرو وګړه په دغه ورکشاپونو کې ګډون وکړ ( په لومړې ضمیمه کې د بهرنې مشورتي پروسه په اړه توضیحات ورکړل شوي دي). په دغه سند کې تر لاسه شوې نظرونه او موضوعات د غور لاندې نیول شوي دي. ■

[1] آسیا پرمختیایي بانک، 2005، د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو پالیسي: ښکاره کول او د معلوماتو تبادله. مانیلا

# په عامه اړیکو کې د آسیا پرمختیایي بانک تجربه

## د پالیسۍ موخې

4. د آسیا پرمختیایي بانک ژمن دی چې د مشمولي اقتصادي ودې، اوږدمهاله اقتصادي وده، او سیمیز تمامیت له لیارې بیوزلي کمه کړي. ددغه موخې د ترلاسه کولو لپاره، د آسیا پرمختیایي بانک بیلابیلې پروژو او فعالیتونو ته مالي وجوه ورکوي څو د پرمختیا ملاتړ وکړي. ددې لپاره چې پروژې غوښتنې پوره کړي او اغیزمنې وي، د آسیا پرمختیایي بانک باید د خپلو پور اخیستونکو او مشتریانو، شریکانو او نورو دخیلو اړخونو نظرونه واخلي، او د خپلو فعالیتونو په اړه یې خبر وساتي. د آسیا پرمختیایي بانک او د دخیلو اړخونو تر منځ د دوه اړخیزه معلوماتو جریان د پوهاوي او باور د را منځ ته کولو لپاره اړین دی، چې د یو ثابت ګډون او شراکت بنسټ جوړوي. د آسیا پرمختیایي بانک لپاره په خپلو پروژو او فعالیتونو کې روڼتیا اړینه ده څو چې د دخیلو اړخونو په منځ کې باور ترلاسه کړي، چې دا کار د یوې پروژې د بریا لپاره اړین دی. برسیره پردې، د هرې اداري ښه حکومتوالي یو لوی اصل دادی چې د خپلو کړنو لپاره حساب ورکوونکې وي. روڼتیا د حساب ورکونې لپاره لومړی شرط دی.

5. د پالیسۍ تولیزه موخه د آسیا پرمختیایي بانک باندې د دخیلو اړخونو د باور لوړول او هغوی ته توان ورکول دي څو چې د آسیا پرمختیایي بانک سره فعالیت وکړي. پالیسي دا پیژني چې د آسیا پرمختیایي بانک د فعالیتونو په اړه وګړي د معلوماتو د غوښتنې، ترلاسه کولو او لیږد حق لري. دغه پالیسي د پوهاوي شریکولو او د ګډې پرمختیا یا د اغیزمنو وګړو سره د دوه اړخیزو اړیکو ټینګولو ملاتړ کوي. پالیسي د معلوماتو د ښکاره کولو ملاتړ کوي، پرته د هغه حالاتو چې مقنع دلیل وجود ولري چې معلومات ښکاره نشي. دغه پالیسي د آسیا پرمختیایي بانک ژمن کوي چې د اداري، مالي او د پروژو اړونده معلومات په فعاله توګه سره په خپل ویب پاڼه کې شریک کړي، چې جدي زماني حدود به پام کې ساتي او همدارنګه داسې میکانیزمونه هم را منځ ته کړي چې څوابونه او شکایات هم تنظیم او کنترول کړي. ددې لپاره چې د آسیا پرمختیایي بانک پرمختیایي فعالیتونو اغیز ډیر شي، دغه پالیسي د آسیا پرمختیایي بانک او د فعالیتونو په اړه پوهاوې او معلوماتو ته ترویج ورکوي، په ځانګړې توګه د عامه اړیکو فعالیتونه او په غړو هیوادونو کې د تصمیم نیونکو او د مشرانو د نظرونو د تر لاسه کولو له لیارې د اړیکو په جوړولو سره ترویج کړي.

6. د آسیا پرمختیایي بانک له لوري ځینې لوې نوښتونو، پالیسي او د پالیسي موخو ته ژمنتیا څواکمنه کړې ده. د 2020 کال ستراتیژي د آسیا پرمختیایي په فعالیتونو او کړنو[2] کې د حساب ورکونې، ګډون او روڼتیا اهمیت پیژني. بشپړه روڼتیا د پاریس د اعلامیې د موخو لپاره چې د مرستو اغیزمنتیا ده هم مرکزي اهمیت لري.[3] د نړیوالو مرستې د روڼتیا نوښت ـ د ګڼو دخیلو اړخونو نوښت په لاسلیک کولو سره چې معلوماتو ته د لاس رسي ډیرول دي- د آسیا پرمختیایي بانک په خپله ژمنه بیا ټینګار کوي چې په منظم ډول او په خپل وخت به د مرستو په اړه تفصیلي معلومات عامه وګړو ته ښکاره کوي تر څو چې د بیوزلې په کمولو سره د مرستو اغیز لوړ کړي.

## د پالیسۍ د پلي کولو ارزونه

7. د آسیا پرمختیایي بانک د 2005 کال د عامه اړیکو پالیسي د پلي کولو څارنه کړې ده او د ارزونې څلور کلنې رپورټونه یې خپاره کړې دي.[4] دغه تفصیلي

---

[2] د آسیا پرمختیایې بانک، 2008. د 2020 ستراتیژي: د آسیا پرمختیایې بانک د کاري چوکات اوږدمهالې ستراتیژي، 2020–2008. مانیلا.

[3] د 2005 کال د مارچ په دویمه د 100 څخه ډیرو هیوادونو او پرمختیایې سازمانونو له لوري ، د آسیا پرمختیایې بانک او د هغه 19 د پرمختګ په حال کې غړي هیوادونو ومانه.

[4] د 2005 کال د مارچ په دویمه د 100 څخه ډیرو هیوادونو او پرمختیایې سازمانونو له لوري ، د آسیا پرمختیایې بانک او د هغه 19 د پرمختګ په حال کې غړي هیوادونو ومانه.

ریپورټونه ښيي چې د آسیا پرمختیایي بانک د پالیسي احکامو، د روڼتیا د ترویج او ښه اړیکو او دخیلو اړخونو ته د نورو معلوماتو د چمتو کولو په برخه کې ښه لاس ته راوړني درلودلې. د ډیرو بهرنیو دخیلو اړخونو له لورې چې ورسره مشوره شوې وه دغه پالیسي ته ښه راغلاست وویل شو او د آسیا پرمختیایي بانک د کارکونکو له لورې پرې ښه پوهه شوې وه.

8. په عمومي ډول سره، د آسیا پرمختیایي بانک اداري او د پروژو اړونده معلومات دخیلو اړخونو او عامه وګړو ته په لویه کچه په فعالانه ډول او د غوښتنې په بنسټ چمتو شوې دي. پالیسي کې دا ښودل شوې ده چې بهرنۍ اړیکې او د معلوماتو د ښکاره کولو ترویج یو له بل سره مرستندویه دي. د پالیسۍ د منلو په مهال، د آسیا پرمختیایي بانک د پوهاوي د ترویج او د آسیا پرمختیایي بانک په اړه د باور را منځ ته کولو په برخه کې مهم ګامونه پورته کړل، چې په ورته وخت کې یې یو لړ سندونه چې تړلې او ازاده پروژې یې د پوښښ لاندې وې، عامو وګړو سره شریکې کړل. ځانګړي خو تکراري د پوهاوي او د معلوماتو شریکولو هڅو د آسیا پرمختیایي بانک د پرمختیایي فعالیتونو او اړونده وګړو ته د معلومات په چمتو کولو کې خپله ونډه لوبولې ده چې پرمختیایي اغیزمنتیا یې لوړه کړې او د آسیا پرمختایي بانک باندې یې عامه باور لوړ کړې دی.

9. په عمومي توګه، د آسیا پرمختیایي بانک په بریالۍ ډول سره د معلوماتو په پلوې باندې هوکړه کړې ده. د ښکاره کولو شکایات، په خپل وخت سره ښکاره کول او د بهرنیو غوښتنو اداره کول په دوامداره توګه سره ښه شوې دي. په 2007 کال کې د نړیوالې حساب ورکونې ریپورټ چې دې ون ورلډ ترست له لورې خپور شو، د آسیا پرمختیایي بانک د روڼتیا د ښه فعالیت په برخه کې 100 سلنه (100%) پکې ترلاسه کړې وه.[5]

10. د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې ډیرې د اړتیا وړ معلومات شتون لري. د 2005 کال د سپټامبر میاشتې تر دسامبر 2010 پورې د آسیا پرمختیاېي بانک په ویب پاڼه کې د سندونو د شریکولو شمیره 145 سلنه لوړه شوې ده. د ویب پاڼې معلوماتو ته لاس رسي هم لوړ شوې دی. برسیره پر دې، د آسیا پرمختیایي بانک ته له 6,000 څخه ډیر د معلوماتو د ترلاسه کولو غوښتنې شوې، چې د آسیا پرمختیایي بانک یې په 95 سلنه قضیو کې معلومات چمتو کړې دي. چې له نیمایي څخه ډیر یې د پروژو په اړه د معلوماتو غوښتنې وې. نورې ډیرې پوښتنې د سوداګریزو فرصتونو په اړه وې. اوه سلنه پوښتنې د مالي وجوه غوښتنې او د غیرې دولتې سازمانونو سره د همکاري په اړه وې. پنځه سلنه غوښتنې چې رد شوې وې، ډیر یې د آسیا پرمختیایي بانک اړونده چارو په اړه وې. د آسیا پرمختیایي بانک همدارنګه ډیر اسنادونه چې د 2005 څخه وړاندې جوړ شوې وه تصفیه او ښکاره کړل. خو بیا هم نورو هڅو ته اړتیا ده څو چې د ښکاره کولو د پالیسۍ سره مطابقت ترلاسه شي. د بیلګې په توګه، د ټولو پروژو د اړتیا وړ لنډیزونه د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼې کې ندې خپاره شوې او یا د اړتیا په بنسټ نه دې نوې شوي، او د دغو لنډیزونو د اطلاعاتو برخه باید نوره هم بشپړه شي.

11. د بهرنیو او داخلي بیاکتنو څخه دا په ګوته شوې ده چې د آسیا پرمختیایي بانک پیژندګلوي او روڼتیا د بهرنیو اړیکو د هڅو له امله د پالیسي د تصویب څخه وروسته ډیره شوې ده. دغه دعوا په رسنیو کې د ډیرو خبرونو، پوهاوې، د رسنیو پاملرنه او د ویب پاڼې د ترافیک احصاییه تاییدوي. د آسیا پرمختیاېي بانک د خپل پروفایل په اړه په لویو رسنیو کې د پوهاوې فعالیتونو او اداري کارکونکو له لیارې په لویو نړیوالو ناستو او کنفرانسونو کې د عامه فعالیتونو په برخه کې د خبرو له لیارې لوړ کړې دې. هر درې کاله وروسته د آسیا پرمختیایي بانک د اجرائتو او اړیکو په اړه د دخیلو اړخونو د درک او پوهاوې د څارنې لپاره سروې ترسره کوي. د 2006 او 2009 سروې ګانو کې دا وموندل شو چې ډیرو دخیلو اړخونو او مشرانو نظرونه د آسیا پرمختیایي بانک په اړه مثبت وه او په دې باور وه چې د آسیا پرمختیایي بانک د آسیا او اقیانوس په پرمختیا باندې ډیر اغیز لري. همدارنګه د آسیا پرمختیایي بانک ډیر د اعتبار او باور وړ او قابلیت لرونکې اداره ګڼل شوې ده. پداسې حال کې چې ځواب ویونکو ویل چې د آسیا پرمختیایي بانک د معلوماتو د غوښتنې په وړاندې ښه فعالیت کوي، خو بیا هم په دې برخه کې د پرمختیا او ودې شونتیا شته. په ځانګړې توګه، د آسیا پرمختیایي بانک د پوهاوې تولیدات په برخه کې د خپلو دخیلو اړخونو سره، په ځانګړې توګه د پرمختیا په حالت کې د غړې هیوادونو سره د شریکولو لپاره ډیرې هڅې ترسره کیداې شي. د دخیلو اړخونو سره د عامه اړیکو د پالیسي د مشورې په مهال دا معلومه شوه چې د پروژو په اړه ډیرو اړیکو ته اړتیا ده، په ځانګړې توګه د اغیزمن شویو وګړو سره اړیکې او معلوماتو د شریکولو اړتیا ډیره ده.

12. له 2005 کال راهیسې، د آسیا پرمختیایي بانک ګڼ شمیر معلوماتي ناستې او د پوهاې د لوړولو ماموریتونه ترسره کړې دي، څو چې د آسیا پرمختیایي کارکونکي او

[5] ون ورلډ ترست. 2007. 2007 د نړیوالې حساب ورکونې ریپورټ. لندن

نور دخیل اړخونه د دغه پالیسي مطابق د ښکاره کولو په اړتیا پوهه شي. دغه هڅې د پالیسي د اړتیا په بنسټ د معلوماتو په ښکاره کولو کې مرسته کړې ده.

13. ددې لپاره چې د پالیسي د ښکاره کولو اصل پلي کولو ملاتړ وشي، د آسیا پرمختیایي بانک د نوې پستونو، منظمو روزنو او د ژباړې د کاري چوکات د پرمختیا لپاره اضافي سرچینې اختصاص کړې دي. پالیسي 12 ژبو ته وژباړل شوه او په پراخه توګه وویشل شوه. د 2005 کال د جولای په میاشت کې، د عامه معلوماتو او ښکاره کولو واحد د بهرنیو اړیکو په څانګه کې تاسیس شو څو چې د پالیسي د پلي کولو څارنه وکړي. دغه واحد د آسیا پرمختیایي بانک ته خدمتونه، تولیدات او توکي برابروي څو چې د ښکاره کولو پالیسي اړتیاوې پوره شي. اوس مهال دغه واحد د آسیا پرمختیایي بانک د معلوماتو د ښکاره کولو اړونده موضوعاتو د مرکز په توګه پېژندل کیږي.

14. مدیریت د یو شرکت د چاپیریال په ترویج کې مهم رول لوبولی دی چې د فعالو عامه اړیکو لپاره ډېر ښه دی. ددې لپاره چې د آسیا پرمختیایي بانک د اغیزمنو اړیکو وړتیا لوړه شي، د بهرنیو اړیکو دفتر د بهرنیو اړیکو د څانګې په درجه ارتقاء ورکړل شوه، چې په مستقیمه توګه رییس ته رپوټ ورکوي. په ورته وخت کې، د آسیا پرمختیایي بانک د بهرنیو اړیکو لپاره اضافي سرچینې اختصاص کړلې، په ځانګړې توګه د سیمیزو دفترونو په ځواکمن کولو کې چې د هیواد په پوهاوي کې کلیدي رول لوبولی شي. له 2005 راهیسې، د بهرنیو اړیکو د آمرینو اته پستونه تاسیس شوې دي ترڅو چې په ساحه کې د بهرني اړیکې په فعاله توګه سره حمایه کړي.

15. د مدیریت د رهبرۍ سره، د آسیا پرمختیایي بانک د معلوماتو د ښکاره کولو اړونده چلند په تولیزه توګه بدلون موندلی دی. په عمومي ډول، کارکوونکي د روڼتیا په ګټو پوهیږي او د معلوماتو د ښکاره کولو په اړه معلومات لري. خو، پداسې حال کې چې د معلوماتو د ښکاره کولو د اړتیاو سره د مطابقت لوړه کچه شتون لري، بیا هم د بشپړ تطابق لپاره، د ناستو د مهال ویش په ګډون ډېرو فعالیتونو او لاس ته راوړنو ته اړتیا ده.

16. د آسیا پرمختیایي بانک د عامه معلوماتو مرکز او کتابتون پروګرامونو بیا کتنه ترسره شوه، او اړونده پروسیجرونه په کارۍ برخه کې شامل شول ترڅو چې په آسیا او اقیانوس کې د آسیا پرمختیایي بانک په اړه د معلوماتو لاس رسی اسانه کړي. په 2009 او 2010 کې، د آسیا پرمختیایي بانک ټاکل شوې کتابتونونه د آسیا د سرچینو پرمختیایي مرکزونو باندې بدل کړل، برسیره پر دې، د ګڼو تمویل کوونکو دنوې ګډون په پیل کې په څو هیوادونو کې د عامه معلوماتو مرکزونه په ازمایښتي ډول پرانیستل شول. د دغه نوې نوښتونو بیا کتنه به د آسیا پرمختیایي بانک د تولیداتو د پوهاوي د ښکاره کیدو او لاس رسي د اغیز د ارزونې لپاره ترسره شي. ■

3

# د عامه اړیکو په اړه نړیوال دود



17. په تیرو دوه تر دریو لسیزو کې د معلوماتو د ازادي په اړه چلند کې په ډراماتیکه توګه بدلون راغلی دی. د معلوماتو ازادي د بشر د اساسي حقونو څخه ګڼل کیږي، لکه څرنګه چې د مدني او سیاسي حقونو په تړون کې ذکر شوی دي. اتباع د حکومتي او خصوصي سکتور د شرکتونو څخه د ډیرې روڼتیا او د حساب ورکونې د لوړو معیارونو غوښتنه کوي. په وروستیو کلونو کې، دغه دود نور هم ځواکمن شوی دی، لکه د معلوماتو آزادی یو لوړه موخه نه دې چې باید وهڅول شي، بلکې یو حق دی چې پلي شي. ډیرو حکومتونو د یادونې وړ قوانین تصویب کړي دي چې د خپلو اتباعو ته یې د حکومتي معلوماتو د ترلاسه کولو د حق تضمین کړی دی. له اتیاوو څخه ډیرو هیوادونو دغه ډول قوانین نافذ کړې دي.

18. له هغه مهال څخه چې د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو پالیسي منلې ده، د اړیکو تکنالوژي وده کړې ده. د نوې رسنیو، د ټولنیزې رسنې په ګډون، د ډیرې کارونې سره، اوس شونې ده چې ډیرو وګړو ته ډیر معلومات له ډیرو لیارو چمتو کړو. د عامه، خصوصي او غیر انتفاعي ادارو له لورې د ورکړل شویو معلوماتو د کچې، ډول او وړاندې کولو په اړه د عامه وګړو هیلې ډیرې شوې دي، ځکه چې د روڼتیا او ښه فعالیتونو د ترلاسه کولو لپاره په پوهاوې کې لوړوالی راغلای دی. اوس مهال د پرمختیایي پروګرامونو لګښت او اغیزمنتیا هم له نږدې څخه څارل کیږي.

19. ډیر ګڼ اړخیزه بانکونو په دې وروستیو کې د معلومات د ښکاره کولو په اړه د افریقا پرمختیایي بانک، د بیاروغونې او پرمختیا لپاره د اروپا بانک، د اروپا د پانګې اچونې بانک، بین الامریکایي پرمختیایي بانک، د نړیوال مالي شرکت، او نړیوال بانک په ګډون، خپله پالیسي نوې کړې ده او یا یې بیا کتنه کوي ( دویمه ضمیمه په ګڼ اړخیزه بانکونو کې د معلوماتو د ښکاره کولو په اړه سروې ښودل شوې ده. دریمه ضمیمه د آسیا پرمختیایي بانک د2005 کال پالیسې د آسیا پرمختیاې بانک د نوې شوې پالیسې او د نړیوال بانک او د بین الامریکایي پرمختیایي بانک معلوماتو ته لاس رسې پالیسې ګانې سره پرتله کوې، لکه څرنګه چې په دغه سند کې تشریح شوې دې.) دواړه نوې پالیسې ګانې- هغه چې منل شوې او وړاندیز شوې- ډیر ګڼ ګډ خصوصیات لري. په ځانګړې توګه دغه پالیسي ګانې د ښکاره کولو د ملاتړ په نظر او اعظمي معلوماتو ته د لاس رسي په بنسټ جوړې شوې دي، چې ډیر واړه او ښکاره استثنا پرته، معلومات عامه وګړو ته وړاندې کړي. دغه پالیسې ګانې همدارنګه د ښکاره کولو روښانه پروسیجرونه او د شکایت میکانیزمونه لري. ■

# 4

د عامه
اړیکو
پالیسی 2011

# د 2005 میلادي کال د پالیسۍ په اړه وړاندیز شوې پراختیا

20.  د 2005 کال د پالیسي بیاکتنې دا ښودلې ده چې د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو پالیسي اوس هم اړونده ارزښت لري او د آسیا پرمختیایي بانک د معلومات د ښکاره کولو او د ښه فعالیت په برخه کې د نورو ګڼ اړخیزو پرمختیایي بانکونو په پرتله غوره دې. خو بیا هم، پنځه داسې ساحې په ګوته شوې چې له مخې یې د 2005 کال پالیسي ځواکمنه کیدای شي. دغه ساحې په 21-25 پراګرافونو کې توضیح شوې دي.

21.  **د شکایتونو څېلواکه بورډ.** د 2005 کال پالیسي یو داخلي اداره جوړه کړې ده- د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه- چې د معلوماتو د غوښتلو د رد بیاکتنه وکړي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټې ته یواځې پنځه قضیې راوړل شوې دي. خو بیا هم، د پالیسي د بیاکتنې په دوران کې، دخیلو اړخونو د خپلواکه بهرنی د شکایتونو ارګان نشتون د یوې کمزورۍ په توګه په ګوته کړې وه. ددې لپاره چې د آسیا پرمختیایي بانک د ښه فعالیتونو په سر کې پاتې شیو د شکایتونو یو خپلواک بورډ به تاسیس کړي، ترڅو چې د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټې له لوري د نیول شویو تصمیمونو بیاکتنه ترسره کړي.

22.  **د استثناءتو توضیحات.** د 2005 کال پالیسي کې د ښکاره کولو په اړه د هیلو یو لیست شامل دی. د ترلاسه شوي فیډبک له مخې، دغه لیست په سمه توګه نه وه جوړ شوي، او له دې امله، په اساني پرې پوهیدل ګران وه. دغه لیست د روښانه عنوانونو په مرسته بیا تنظیم شوې دی. په ځینو قضیو کې، د هیلو لړۍ د ښکار کیدونکو معلوماتو له امله د پیژندل شویو زیانونو په برخه کې چې د استثنا په صورت کې د ګټو خوندیتوب لپاره نوره هم ټینګه شوې ده.

23.  **د تصمیم نیولو څخه وړاندې د بورډ اسنادو ته لاس رسی.** د 2005 کال د پالیسي بیا کتنې کې دا په ګوته شوه چې د عامه وګړو سره د تسوید شویو اسنادو د شریکولو د مودې په برخه کې ښه والي راتللای شي. هغه پالیسی ګانې چې په مستقیم ډول سره دخیل اړخونه اغیزمن کوي، لکه د مصؤنیت د پالیسی بیانیه (2009)، او د سکتور او موضوع اړونده ستراتیژي ګانې و پالیسی ګانې، د آسیا پرمختیایي بانک د مشورو مسوده په ویب پاڼه کې خپره شوې ده او په هیواد کې ناستې تنظیموي څو چې د دخیلو اړخونو څخه فیډبک ترلاسه کړي. خو، له دغه مشورو وروسته، دخیل اړخونه بورډ ته د مسودې د وړاندې کولو او تصمیم نیولو د پروسې په مهال بهر شوې دي. له تصمیم څخه وروسته سند یواځې هغه مهال د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې نصب شو چې د بورډ له لوري وکتل شو. ددې لپاره چې د ستراتیژي او پالیسیو د جوړولو په تیاریو کې د دخیلو اړخونو د ګډون د اهمیت په اړه ټینګار وشي، د عامه اړیکو پالیسي د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې یوه کاري پاڼه او د پالیسي او ستراتیژي د سندونه چې د عامه مشورو څه تیر شوې وي لګول کیږي او په ورته مهال کې، دغه سندونه بورډ ته د کتنې لپاره استول کیږي. همدارنګه، د دولتي پروژه لپاره پروپوزلونه او د سیمیزې همکارۍ او د هیواد د ګډون ستراتیژي پروپوزلونه به د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې چې بورډ ته استول کیږي خپاره شي، خو دغه خپریدل د اړونده هیواد د رضایت له مخې خپریدای شي.

24.  **د عامه اړیکو چلند.** ددې لپاره چې د پالیسي ملاتړ وشیو د بهرنیو اړیکو ستراتیژي چې په 2005 کال په سند کې ترتیب شوې وه، دعامه اړیکو په چوکات کې په شاملولو به تمرکز وشي. د معلوماتو ښکاره کول په یواځې ډول سره د اړونده او مطلوبه وګړو ته د معلومات د رسولو د باورې کولو لپاره بسنه نه کوي. پداسې حال کې چې د 2005 کال پالیسي کې بیلابیلو وګړو ته د معلوماتو ته د لاس رسي اسانتیاوې برابرې شوې دي، خو په ځینو حالاتو کې دغه هڅې نه دی بریالی شوې. د بیلګې په توګه، په ځینو حالاتو کې د معلوماتو د شریکولو لپاره ډیرر مخامخ او د کمې ټکنالوژي د کارونې چلند ته ارتیا ده. ددې په ځای چې په ټولیزه توګه د بهرنیو اړیکو په عمومي ستراتیژي چې د ستراتیژي د ملاتړ څخه هم په لویو موضوعاتو تراو درلود، د معلوماتو د شریکولو په عملي اړخ چې د پالیسي عمومي موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، پاملرنه اړول شوې ده. د پروژه د سایکل یا دوران په مهال د اغیزمنو وګړو او نورو دلچسپي لرونکو وګړو ګډون به د اړینو اړیکو سره نور هم ځواکمن شي او د معلوماتو- شریکولو اړخ به د آسیا پرمختیایي بانک په پروژو او پروګرامونو کې شامل شي. د آسیا پرمختیایي بانک به د خپلو تولیداتو د

پوهاوي په اړه د معلوماتو خپرول نور هم ډیر کړي- په مستقیم او چاپي ډول- څو چې په سیمه کې د پوهاوي په بنسټ د اقتصاد د ودې ملاتړ وکړي. برسیره پر دې د آسیا پرمختیایي بانک به د تولیداتو په اړه د معلوماتو د شریکولو او له حکومتي چارواکو او نورو کلیدي دخیلو اړخونو سره د نظرونو د تبادلې لپاره نورې وسیلې لکه سیمیز او ملي کنفرانسونو او نور مراسم وکاروي.

25. **د معلوماتو د ښکاره کولو ډیرول.** د 2005 کال په پالیسي کې د بورډ د ناستو متن ته لاس رسی نه وه ذکر شوی. پالیسي به د بورډ د رسمي ناستو د خبرو متن د ښکاره کولو اجازه به د لسو کلونو څخه وروسته د غوښتني په بنسټ ورکړي= په دې شرط چې په دغه متن کې هغه معلومات شامل نه وي چې د پالیسي په استثناءتو کې راځي ( پراګراف 84). دغه پالیسي به همدارنګه د تفتیش شوېو پروژو د حسابونو د ښکاره کولو (پراګراف 62)، د مدیریت او د بورډ د غړو تنخواه ( پراګراف 90)، او اړونده ملي ژبو باندې د پروژو د اطلاعاتو د پاڼو ژباړلو (پراګراف 42) اجازه ورکړي. ■

5

# پالیسي یا تګلاره

د عامه اړیکو
پالیسی 2011

26. د عامه اړیکو پالیسي موخه دا ده چې د برخه والو باور زیات او د هغوی ورتیا ته وده ورکړي چې څرنګه د آسیا پرمختیایي بانک سره راکړه ورکړه وکړي او همدارنګه د آسیا پرمختیایي بانک د عملیاتي کارونو داغیزوپراختیا ته وده ورکړي. دغه پالیسي روښتیا، مسولیت پیژندنې او ونډه ایزې پراختیا پیاوړې کوي. دې پالیسي د آسیا پرمختیایي بانک د اسنادو د تیارولو لپاره ښکاره غوښتنې او یا هم په راتلونکې کې د اسنادو د تولیدولو لپاره داړتیا غوښتنې تر سره کوي. ددې پالیسي بنسټیز توکي د ۲۷ م نه تر ۳۳ فقرې پورې تشریح شوي دي.

27. **سمدلاسي ښکاره کول:** د آسیا پرمختیایې بانک باید په سمدلاسي ډول د خپل کارپه اړه خپله پوهه، نظریات او معلومات د خلکو او برخه والو سره شریک کړي. د آسیا پرمختیایې بانک ویب سایټ به د سمدلاسي څرګندونی لومړنۍ وسیله وي. دا پالیسي د څرګندولو او یا هم د بحث لپاره وسیلې ته هم اړتیا لری چې دغه وسیلې بیا نظر ترلاسه کوونکي، اوریدونکي او یا هم د معلوماتو د څرګندولوموخې ته یو د بل سره توپیر لري. سمدلاسي ډول د معلوماتو څرګندول ډیر اړین دي تر څو برخه اخیستونکو ته دا ډاډ ورکړای شي، چې د آسیا پرمختیایې بانک او کارونو په اړه معلومات د ټولولپاره په ټاکلي وخت کې برابر شوي دي. او دغه کار به د پریکړې کولو لپاره ګډون اسان کړي. د آسیا پرمختیایې بانک به همدارنګه، د غوښتې به صورت کې هم خلکو ته معلومات وړاندې کوي.

28. که څه هم پدې باندې د پالیسي په نورو برخو کې بندیز دی، خو د بورډ لپاره چمتو شوي اسناد باید پدې خاطر چې ټولو غړو ته ورسیږي، د آسیا پرمختیایې بانک ویب سایټ ته پورته شي. هغه ډیرې اسناد چې د بورډ لپاره چمتو کیږي، باید مخکې تر دې چې د بورډ غړو لخوا تصویب شي، باید د آسیا پرمختیایې بانک ویب سایټ ته پورته شي. (۳۸، ۵۸ او ۷۲مې فقرې) سره سم.

29. **د ښکاره کولو احتمال:** دا پالیسي د ښکاره کولو د احتمال په بنسټ ولاړه ده. نو ځکه ټول هغه اسناد چې د آسیا پرمختیایې بانک له خوا تیاریږي، نو باید ښکاره او خپاره شي، پرته د هغه چې داسې معلومات ولري چې هغه ددې پالیسي په استثنا کې وی چې په ۹۷ او ۱۰۱ مه فقره کې یې یادونه شوی ده.

30. **معلوماتو او نظریاتو ته د لاسرسی او تر لاسه کولو حق:** د آسیا پرمختیایې بانک دا د خلکو حق ګڼي چې د آسیا پرمختیایې بانک د مرستې کارونو په اړه معلومات او نظریات ترلاسه کړي اوپلټنه یې وکړي. د آسیا پرمختیایې بانک باید په خپل وخت، په روښانه ډول او مناسبې رویې سره سم معلومات چمتو کړي. دا به د آسیا پرمختیایې بانک ته ددې توان ورکړي، چې د برخه والو او متاثره خلکو سره په اړیکه کې شي، ورته غوږ کیږدي او ددوی نظر یا فیډ بیک تر لاسه کړي. متاثره خلکو ته باید له وړاندې معلومات ورکړل شي، تر څو د اړونده پروژې په ډیزاین کولو او پلي کولو کې مهم توکي هم ورزیات شي. د آسیا پرمختیایې بانک باید په سلیقه یي ډول معلومات خپاره نه کړي. خلک باید هغه معلوماتو ته چې د آسیا پرمختیایې بانک لخوا د دې پالیسي د اصولو او مقرراتو په رڼا کې چمتو کیږي، او ددغه پالسي د پلي کیدلو په اړه ګامونه اخیستلو، ته یو شان لاسرسی ولري.

31. **د هیواد ملکیت:** د آسیا پرمختیایې بانک د یو هیواد دکړنو ملکیت اړین ګڼي او په خپلو پراختیایي غړو هیوادونو کې یی ملاتړ کوي. نو پدې اساس، د ځانګړې معلوماتو د خپرولو لپاره دا اړینه ده، چې د پراختیایي غړو هیوادونه نظر د معلوماتو د محتوا او د خپرولو وخت په اړه ، واخیستل شي.

32. **ټاکلي استثنا:** د بشپړ ډول سره د معلوماتو خپرولو هر وخت شوني ندي. د بیلګې په ډول، د آسیا پرمختیایې بانک دې ته اړتیا لري چې نظریاتو ته وده ورکړي، معلومات شریک کړي، په دننه کې او د خپلو

غږو سره په ازادانه ډول بحث وکړي او د خپلو ترلي مرستو کارونو په اړه ځانګړی غوښتنو په اړه فکر وکړي.[6] د آسیا پرمختیایي بانک د خپل کارکوونکو ، د پروژې د اصلي ګټې اومراجعینو د محرمیت او خوندیتوب حق د ځان سره خوندي ساتلی دی. دا په داسي حال کې ده چې دغه استثنات ټاکلي دي. د آسیا پرمختیایي بانک ټول هغه معلومات چې تولیدیږي او یا یي تولیدولو ته اړتیا لیدل کیږي، خپروي او ښکاره کوي پرته د هغه معلوماتو څخه چې د پالیسي په ځانګړو فقرو کې لکه ۹۷ او ۱۰۱ کې ترې استثنا شوي وي. د آسیا پرمختیایي بانک ددې واک لري چې د پالیسي په اړه استثناتو کې زیاتوالی راولي اویا هم که چیرې داسي بریښیدله چې ددغه معلوماتو په خپریدلو سره عامه ګټه د زیان سره مخامخ کیږي. نودغه بانک دا واک هم لري چې هغه عادي معلومات هم په ځانګړو شرایطو کې، چې د خپرولو زیان یي تر ګټې لوړ وي، خپاره نه کړي.

33. **د دعوې یا اپیل حق:** پدې پالیسي کې د معلوماتو غوښتونکو په اړه د دعوې پروسه په دوه مرحلو کې ترسره کیږي، خو دا په هغه وخت کې چې اپیل کوونکی پدې باوري وي چې د آسیا پرمختیایي بانک د پالیسي څخه سرغړونه کړیده او معلومات یې ورسره ندي شریک کړي. ددې لپاره چې د اپیل یا دعوې پروسه روښتیا ولري نو دغه دوهمه مرحله به د آسیا پرمختیایي بانک څخه خپلواکه وي. دغه دعوه د عامه څرګندونې مشورتي کمیټې سره هم ثبت کیدایشي او په هغه استثنایي شرایطو کې چې، معلوماتو ته د لاسرسي باندې بندیز لګول شوی وي. او دا بندیز پدې خاطر وي چې د معلوماتو په خپرولو سره عامه ګټې د زیان سره مخامخ کیږي.

34. **د نورو پالیسي ګانو یا ګرنلارو سره اړیکه:** پدې پالسي کې هغه د ښکاره کولو او یا خپرولو غوښتنې ځای پر ځای شوي دي چې د هغه معلوماتو په اړه ویچې د آسیا پرمختیایي بانک یي تولیدوي او یا هم ددې اړتیا لیدل کیږي چې باید دغه معلومات چمتو شي. او دا پالیسي د دغه ډول معلوماتو د تولیدولو څخه د باندې نه وځي. او د آسیا پرمختیایي بانک د نورو پالیسي ګانو په اړه ماخذ، د عامه اړیکوپالیسي له لارې برابریږي. او د دغه بانک بلې پالیسی ته رجوع کول کې دا هم شامل وي، چې پدغه پالیسي کې د آسیا پرمختیایي بانک له لورې وخت پر وخت بدلون راغلی دی. که چیرته د عامه اړیکو پالیسی دڅرګندونې پالیسي او د بورډ له لوري بلي تایید شوي پالیسي تر منځ ټکر راشی، نو باید د عامه اړیکو پالیسی د څرګندولو اصولو ته غوروالی ورکړل شي. ټول هغه پالیسي ګانې او یا ستراتیژي ګانې چې د اسیایي پراختیایي بانک د عامه اړیکو د پالیسي وخت څخه وروسته یکې بدلون راغلی وي او نو ددغه معلوماتو خپرول او یا هم ښکاره کولو ته اړتیا او یا هم هغه معلومات چې ددغه پالیسي په رڼا کې تولید شوي وي، باید په واضح ډول سره تشریح شي. او دغه د ښکاره کولو غوښتنه باید د عامه اړیکو پالیسي سره یو شان وي. ■

[6] خصوصي سکتور ادارو لپاره حقوقي اقدامات ترسره کول څو چې د مشتري محرمیت له منځه لاړ نشي، د معیار یوه اړتیا ده، او همدارنګه د آسیا پرمختیایي بانک سیالانو ته چې له مشتریانو سره په سوداګرۍ فعالیتونو کې داخلیږي دغه اړتیا پوره کول اړین دي. معلوماتو ته د لاسرسي په قانون کې د سوداګرۍ د معلوماتو محرمیت هم پیژندل شوې دې، چې له مخې یې د سوداګرۍ محرمو معلوماتو څرګندول په استثنا کې راځې چې باید څرګند نشي.

# 6 د ښکاره کولو جزییات

35. دآسیاپرمختیایيبانکدخپلو پوراخیستونکواومراجعه کوونکو سره له نږدې څخه کار کوي تر څو پراختیایي کړنې برابرې او تر سره يې کړي. دداسې کارونو په ترسره کولو سره به د آسيا پرمختيايي بانک ، دوی ته د خپلو مرستې پروګرامونو د معلوماتو د خپرولو په اړه خبر ورکړي. او ددې څخه وروسته به دغه معلومات د آسیا پرمختیایي بانک په ویب سایټ باندې د یوې ټاکلې مودې لپاره خپاره شي، مګردا به په هغه وخت کې خپریږي چې پدې اړه د اړونده پور اخیستونکو او مراجعینو نظر واخیستل شي، تر څو د څرګندلو د استثنا د پالیسی سره برابر نه وی چې په ۹۷ او ۱۰۱ ماده کې ذکر کیږي.

## د هیواد د شراکت او سیمه ایزې همکاري ستراتیژیګانې

36. د هیواد د شراکت ستراتیژي ګانې د آسیا پرمختیایي بانک ته ددې چوکاټ برابروي تر څو د خپلو پراختیایي غړو هیوادونو سره په سمه توګه معامله وکړي. ددې لپاره چې د یو هیواد په کچه پراختیایي لاسته راوړنې ولرو، نو دا کار د عملیاتي کارونود ډیزاین کولو لپاره یو منشور جوړوي. د سیمه ایزې همکاري ستراتیژي ګانې، د آسیا پرمختیایي بانک له لوري په اسیا کې په ګوته شوې سیمو او یا هم فرعي سیمو لپاره یو ستراتیژي ده تر څو د سیمه ایزې همکارۍ اړونده موخې تر لاسه شي.

37. د آسیا پرمختیايیبانک په دوراني ډول سره په خپل ویب سایټ کې د هیواد د ملګرتیا نوی پالیسي ګانو لست او لنډ محاله هیواد پالیسي ګانې او سیمه ایزې همکاري ستراتیژي ګانې چې د راتلونکي کال لپاره د تیاریو لپاره برابر شوي وي. ددې لپاره چې د برخه والو د مشورې لپاره لاره هواره شي[7]او دوی ته دا اجازه ورکړل شي تر څوددوی په هیواد او یا هم سیمه کې د هیواد د ملګرتیا ستراتیژي، د لنډ محاله هیواد د ملګرتیا ستراتیژي او هم د سیمه ایزې همکاري ستراتیژي ته په وده ورکولو کې ونډه واخلي. او ددې اسنادو او نورو ګټورو اضافي معلومات به هم په هیواد کې د برخه والو د نظر ورکولولپاره د تیاریو پر محال شریک شي.

38. د آسیا پرمختیایي بانک بانک باید خپل ویب سایټ ته د هیواد د ملګرتیا ستراتیژي او لنډ محاله هیواد ستراتیژي او سیمه ایزې همکاري ستراتیژي ګانې په هغه وخت کې پورته کړي، کله چې دغه ستراتیژیګانې بورډ ته د تایید لپاره، د غړو هیواد د خوښې سره سم، واستول شي.
که چیرې یو هیواد له مخکې معلوماتو ښکاره کولو سره هوکړه ونه کړه، نو دغه اسناد به د بورډ د تایید څخه وروسته د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي.
په ورته وخت کې د معلوماتو ښکاره کولو غوښتنه د هیواد د ملګرتیا ستراتیژي، لنډ محاله هیواد ستراتیژي او سیمه ایزې همکاري ستراتیژي ګانې باندې پلې کیږي چې په هغې باندې د مدیریت د کمیټې لیدنه او یا هم همدې ته ورته لیدنه تر سره شوي وي او یا هم د پالیسی د اعتبار وړ نیټې د پیل څخه وروسته.

39. هغه مهم ملاتړي معلومات چې د هیواد د ملګرتیا ستراتیژي او یا هم د سیمه ایزې همکاري ستراتیژي لپاره اړین وی، نو د بریښنایي لنکونو[8] په ورکولو سره باید د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته په عین محال پورته شي. او نور د متن اړونده او سکتور تحلیل او ارزونې[9]ددې لپاره کارول کیږي چې دد هیواد د ملګرتیا ستراتیژی، د سیمه ایزې همکاري ستراتیژي او د هغې نوي بڼې باید د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي.

40. د هر بورډ د مشرتابه بحث لنډیز د هیواد د ملګرتیا ستراتیژي، لنډ محاله هیواد د ملګرتیا ستراتیژي او سیمه ایزه همکاري ستراتیژي په اړه یی کړی وي، باید د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي. که چیرته په نوموړي هیواد کې انګلیسي په پراخه کچه نه کارول کیدله نو پدغه صورت

[7] په دخیلو اړخونو کې د پرمختګ په حال کې د غړیو هیوادونو حکومتونه، پرمختیایي شریکان، خصوصي سکتور، او مدني ټولنې د غیرې حکومتي سازمانونو په ګډون چې څرنګه مناسب وي، شامل دي.
[8] د بیلګې په توګه، د هیواد عمومي شاخصونه
[9] د بیلګې په توګه، اقتصادي، بیولې او د جندر تحلیل، او د خصوصي او حکومتي سکتور د خطرونو ارزونه

کې به د آسیا پرمختیايي بانک دغه ستراتیژۍ ګانې ملي ژبو ته د بورډ د تایید څخه وروسته په ۹۰ ورځو کې ژباړي او ژباړل شوی ډول به يي ویب سایټ ته پورته کوي.

41. د اسیا پراختیا یي بانک باید د بورډ غړو ته د رسولو څخه وروسته، د هیواد عملیاتي بزنس پلان او د سیمه ایزو همکاریو د کړنو بزنس پلان ( د یو ځانګړي غړي هیواد، ځانګړي سیمې او فرعي سیمې لپاره د پورونو او غیر پورونو پروژو لست) او همدارنګه دغه اړونده اسنادو د لنکونو سره یو ځای د دغه بانک ویب سایټ ته پورته کړي.

# پروژې او پروګرامونه

## د پروژې د معلوماتو پاڼه

42. ددې لپاره چې د پروژو او پروګرامونو بهرني برخه وال د پروسې او پلي کیدولو پر محال خبر شي، نو آسیا پرمختیايي بانک باید د پروژې د معلوماتو پاڼې[10]او د پروژو او پروګرامونو لنډیز ویب سایټ ته پورته کړي. ځکه چې د پروژې معلوماتي پاڼې یو محالني کار دی چې پدې کې کیدای شي چې په لومړیو کې بعضې معلومات شامل نه وي، خو دغه معلومات چې که تیاریږي نو ورته به وراچول کیږي. د پروژې او یا هم پروګرام د تیارولو پرمحال، یو خاکه ډیزاین او د څارنې چوکاټ برابریږي چې دا یي د پروژې د کړنو ارزولو لپاره یو بنسټ وي. د دغه چوکاټ اړین معلومات به د پروژې په معلوماتو کې شامل شي.[11]

د پروژې د معلوماتي پاڼې د اړونده معلوماتو لپاره د پروژې دوران پر محال تولید شوي وي، یو لینک برابروي. د ټولو پورونو او مرستو پروژې او د پروژو د تیاریو لپاره د تخنیکي مرستې پروژې لپاره به دآسیا پرمختیايي بانک د پروژې معلوماتي پاڼې اړونده ملي ژبې ته په مناسب وخت کې ژباړي او دغه ژباړل شوي معلومات به د دغه بانک په ویب سایټ کې چاپ کوي او په هیواد کې به یي د یومناسب چینل له لارې خپرولو لپاره چمتو کوي. دغه ژباړل به د پورونو، مرستو پروژو اود پروژو د تیاریو لپاره د تخنیکي مرستې پروژې لپاره ، چې کنسپټ پاڼې یی تایید شوي وی او یا هم د پلي کیدلو وړ وي.

### د خپلواکه پروژو لپاره د پروژې معلوماتي پاڼه

43. د خپلواکه پروژو او یا هم پروګرامونو لپاره د پروژې معلوماتي پاڼې د کنسپټ پاڼو د تایید څخه وروسته باید د آسیا پرمختیايي بانک ویب سایټ ته پورته شي.د پروژې معلوماتي پاڼې په ډیرو قسطونولرونکي پروژه کې باید د لومړي قسط لپاره د لومړی پور د حقیقت موندنې څخه وروسته ویب سایټ ته پورته شي او همدارنګه د هر یو قست د حقیقت موندنې څخه وروسته باید دغه معلوماتي پاڼې پاڼې ویب سایټ ته پورته شي. که چیرته د حقیقت موندنې ماموریت تر سره نشي، نو د پروژې معلوماتي پاڼې باید په هغه وخت کې ویب سایټ ته پورته شي چې د د قسط لپاره لاسلیک شوی رسید د آسیا پرمختیايي بانک له لوري تر لاسه شي.

44. آسیا پرمختیايي بانک باید د پروژې معلوماتي پاڼې نوې کړي، تر څو د پروژې د حالت په اړه خلکو ته معلومات ورکړي. او دغه نوي کول باید د اړتیا په صورت کې لږتر لږه په کال کې یو یا دوه ځلې تر سره شي تر څو د پروژې کړنو، ستونزو او پایلو به اړه پرمختیا، او د پلی کولو کار جریان ته انعکاس ورکړل شي. که چیرته د آسیا پرمختیايي بانک په یو خپلواک پروګرام او یا هم پروژه څخه بندوي نو باید دغه د پروژې معلوماتي پاڼه کې دغه پروژې دبندولو دلیلونه ولیکي. د بندولویا لغوه کولوڅخه تر دولسو ۱۲ میاشتو پورې باید د آسیا پرمختیايي بانک د لغوه شوې پروژې ریکارډ په ویب سایټ کې وساتي.

### د ترلویا دولت له لوري تضمین شوي پروژو لپاره د پروژې معلوماتي پاڼې

45. آسیا پرمختیايي بانک به په خپل ویب سایټ کې د ترلو پروژو لپاره د پروژې معلوماتي پاڼې خپل ویب سایټ ته په هغه وخت کې پورته کوي، کله چې دغه بانک پدې پوه شي چې دغه پروژه نږدې ده چې بورډ ته وړاندې شي، مګر دا پورته کول به د بورډ د نظر څخه ۳۰ ورځې څخه کم وخت مخکې ویب پاڼې ته پورته نشي. ددې لپاره چې یو ښه چاپیریال مو برابر کړي وي، نو د لومړي درجه پروژو لپاره د آسیا پرمختیايي بانک د بورډ د نظر لپاره وړاندې کولو څخه ۱۲۰ ورځې وړاندې دغه د پروژې معلوماتي پاڼې ویب سایټ ته پورته کوي.

46. آسیا پرمختیايي بانک باید د پروژې معلوماتي پاڼې نوې یا اپډیټ کړي، تر څو د پروژې د حالت په اړه خلکو ته معلومات ورکړي. او دغه نوي کول باید د اړتیا په صورت کې لږتر لږه په کال کې یو یا دوه ځلې تر سره شي تر څو د پروژې کړنو، ستونزو او پایلو به اړه پرمختیا، او د پلی کولو کار جریان ته انعکاس ورکړل شي. که چیرته د آسیا پرمختیايي بانک په یو ترلي پروګرام او یا هم پروژه بندوي نو باید دغه د پروژې معلوماتي پاڼه کې شامل کړي چې دوی دغه پروژې بنده کړی ده. د لغوه کولوڅخه تر دولسو

[10] PDS د پروژو د معلوماتو سند بدیل دې، څرنګه چې د 2005 پالیسې مطابق یوه اړتیا وه.

[11] د عموم مشر د ریپورټ او وړاندیزونو د برخې په توګه به ورستنې دیزاین او د څارنې کارې چوکاټ به د اسیا پرمختیاې بانک په ویب پاڼه کې خپور شي.

۱۲ میاشتو پورې د آسیا پرمختیایي بانک د لغوه شوې پروژې ریکارډ باید په ویب سایټ کې وساتي.

## متاثره خلکو او نورو مینه لرونکو ونډه والو لپاره معلومات

47. ددې لپاره چې د متاثره خلکو او نورو مینه لرونکو برخه والو تر منځ د ښځو، غریبو خلکو او نورې اسیب پزیرو ډلوپه شمول خبرو ته لاره همواره شي، نو د خپلواکه او ترلي پروژو او پروګرامونو (د چاپیریال او ټولنیزو موضوعات پکې هم شامل دي) لپاره معلومات باید په داسې ډول، شکل او ژبه برابر کړای شي چې د ټولو لپاره د پوهیدلو وړ وي او ټول ورته لاس رسی ولري. آسیا پرمختیایي بانک باید له نږدې څخه د پوراخیستونکو او مراجعیونو سره پدې کار وکړي چې دا یقیني کړي چې دغه معلومات ورته چمتو شوي دي او د پروژې د ډیزاین لپاره یې د خلکو فیډبیک یا عکس العمل غوښته کړې وي او د پروژې مرکزي ټکی پداسې ډول ډیزاین شوي وي چې د متاثره او نورو مینه لرونکو برخه والو تر منځ په دوامدار ډول اړیکه ټینګه شي. دا پروسه به د پروژې د تیاریو په لومړۍ مرحله کې پیل شي، اوپدې کې به د پروژې د ډیزاین لپاره ددوی نظریات شامل کړی شي، او ددغه نظریاتو شاملول به د پروژې د تیاریو، پروسس کولو او پلي کولو په هره مرحله کې شامل کړی شي. آسیا پرمختیایي بانک باید دا ډاډ تر لاسه کړي چې په پروژه او یا هم پروګرام کې د پلي کولو پر محال د برخه والو فیډ بیک ته ځای ورکړل شوی وي. او دا ډاډ باید هم تر لاسه کړي چې د پروژې د سکوپ او اغیزو په اړه د سترو بدلونو په اړه معلومات د متاثره خلکو او نورو مینه لرونکو برخه اخیستونکو سره شریک شوي وي.

48. ددې لپاره چې د ۴۷ مې فقرې غوښتنو ملاتړ وشي، نو آسیا پرمختیایي بانک به د پرمختیایي غړی هیواد د دولتونو او خصوص سکتور مراجعینو سره مرسته وکړي چې د یو پروګرام او یا هم د پروژې د اړیکو ستراتیژۍ ته وده ورکړي او دا وده ورکول به د متاثرو خلکو او نورو مینه لرونکو خلکو د ګډون او سلا مشورو ورکولو یوه مهمه برخه وي. دا ډول ستراتیژۍ به د پوراخیستونکو او مراجعینو سره مرسته وکړی، تر څو متاثره خلک د آسیا پرمختیایي بانک له لورې په ګوته شوي کار په پلي کولو او ډیزاین کولو کې ورشامل شي. او په پرمختیایی پروسه کې د ځایي خلکو او مدني ټولنې د ګډون د زیاتولو له لارې دوی عامو خلکو ته د معلوماتو لاسرسي ته وده ورکړي او د متاثرو خلکو سره څرنګه معامله تر سره کړي. او دا کار د بیلابیلو اسنادو په ښودولو سره تر سره کیږي، د بیلګې په توګه مشوره ورکولو او ګډون پلان او یا هم د پروژې د مدیریت کتاب. ـ۱ څه ډول معلومات باید ښکاره شي. ـ۲ د عامه یاداشت میکانیزم ډول، ژبه او وخت او ـ۳ د معلوماتو د ښکاره کولو او ویشلو د کار ترسره کیدلو او څارلو مسولیت.

## د پروژې دخوندیتوب اسناد

49. د متاثرو خلکو په اړه د معلوماتو ښکاره کول د آسیا پرمختیایي بانک د چاپیریال او ټولنیز د خوندیتوب غوښتنې د خپلواکو او ترلي مرستو په اړه یو شان دي.

50. پور اخیستونکي او یا هم مراجعین باید د چاپیریال، بیا ځای پر ځای کیدولو او ځایي خلکو په اړه اړونده معلومات وړاندې کړي او پدې اسنادو کې به هغه معلومات هم شامل وي چې د ۵۱ څخه تر ۵۳ فقرې پورې ذکر شوي دي اوباید په ټاکلی وخت او ځای کې چمتو شي او همدارنګه په داسې ژبه ولیکل شی چې د خلکو لپاره د پوهیدلو وړ وي[12]

### چاپیریال

51. د خوندیتوب د پالیسی د بیانیې په رڼا کې د غوښتنو سره سم، دآسیا پرمختیایي بانک باید خپل ویب سایټ ته لاندې اسناد چې د پوراخیستونکو او مراجعینو له لورې چمتو شوي وي، پورته کړي:

(i) د د چاپیریال د اغیز ارزونې مسودې رپورټ د چاپیریال پورې اړونده لومړي درجه پروژې لپاره او دغه معلومات باید د بورډ د نظر ورکولو څخه ۱۲۰ ورځې مخکې پورته شي.

(ii) د چاپیریال د ارزونې او بیا کتنې چوکاټ مسوده، چې د ارزونې څخه د مخه د پلي کیدلو وړ وي.[13]

(iii) د د چاپیریال د اغیز ارزونهوروستنۍ مسوده او د چاپیریال لومړنی ازموینه چې د آسیا پرمختیایي بانک له لورې تر لاسه شوی وی.

(iv) یوه نوی شوی د د چاپیریال د اغیز ارزونهاو د چاپیریال لومړنۍ ازموینه او همدارنګه اصلاحي

[12] دغه معلومات د برشور یا د کتاب په توګه د هغه وګړو لپاره چې اغیزمن شوي دي، وړاندې کیداي شي. د نالوستو وګړو لپاره، د اړیکو نورې وسیلې کارول کیداي شي.

[13] که چیرې د ارزونې بل ماموریت ته ارتیا نه وي، نو د دولتي پروژو سند کیداي شي چې د مدیریت کمیټې ته بیا کتنې او یا د کارکونکو د لومړي کتنې وړاندې په ویب پانه کې خپور شي، او یا د پانګې اچونې د کمیټې د وروستنۍ ناستې څخه وړاندې د غیرې دولتي پروژو سند، څرنګه چې د پلي کیدو وړ وي، خپور شي.

کاریز پلان، کې چیرته د پروژوې د پلي کیدلو په وخت کې تیار شوی وی او د آسیا پرمختیایي بانک له لوري تر لاسه شوی وي.

(v) د چاپیریال د څارنې رپوټونه چې د آسیا پرمختیایي بانک له لوري تر لاسه شوي وي.

**بیا ځای پرځای کیدل**

52. د خوندیتوب پالیسی د بیانیي په رڼا کې د غوښتنو سره سم، د آسیا پرمختیایي بانک باید خپل ویب سایټ ته لاندې اسناد چې د پور اخیستونکو او مراجعینو له لوري چمتو شوي وي، پورته کړي:

(i) د بیا ځای پر ځای کیدلو پلان او چوکاټ چې د پوراخیستونکو او مراجعینو له لوري منل شوی وي مخکې لدې چې تایید شي (۱۳م فوټ نوټ)

(ii) د متاثرو خلکود احصایی د بشپړیدلو څخه وروسته د ځای پر ځای وروستني پلان چې د پور اخیستونکو او مراجعینو له لوري منل شوی وی

(iii) یونوی او تازه د بیا ځای پر ځای کیدلو پلان او اصلاحي کاري پلان که چیرته د پروژې پرمحال برابر شوی وي او د اسیایي پراختیایي بانک له لوري تر لاسه شوی وي او

(iv) د بیا ځای پر ځای کیدلو د څارنې رپورټونه چې د آسیا پرمختیایي بانک له لوري تر لاسه شوي وي.

**د یو ځای اصلي خلک**

53. د خوندیتوب یا ساتنې د پالیسی بیانیي په رڼا کې د غوښتنو سره سم به د آسیا پرمختیایي بانک لاندې توکي چې د پور اخیستونکو او مراجعه کوونکو له لوري بشپړ شوي وي، ویب سایټ ته پورته کیږي.

(i) د ځایي خلکو لپاره د پلان مسوده او یا هم د ځایي خلکو د پلانولو چوکاټ چې د پور اخیستونکو او یا مراجعینو لخو تایید شوی وي، مخکې لدې چې منظور شي. (فوټ نوټ ۱۳)

(ii) د ځایي خلکو لپاره وروستني پلان چې د اسیایي پراختیایي بانک له لوري تر لاسه شوی وي.

(iii) د ځایي خلکو نوی شوی او اصلاح شوی پلان

(iv) کاري پلان، که چیرته د پلی کیدلو پر محال تیار شوی وي او د اسیایي پراختیایي بانک له لوري تر لاسه شوی وي او

(v) همدارنګه د ځایي خلکود څارنې رپوټونه چې د دغه بانک له لوري تر لاسه شوي وي.

**د هیواد د ساتنې یا خوندیتوب سستم**

54. د ساتنې د پالیسي د بیانیي په رڼا کې د غوښتنو سره سم به د آسیا پرمختیایي بانک به لاندې توکي خپل ویب سایټ ته پورته کوي، تر څو د دغه بانک له لوري مرسته کیدونکی پروژو لپاره د هیواد د خوندیتوب سستم پلي شي.

(i) د عامه خلکو نظریات، د انډول توب مسوده په ملي، ولایتي، سکتوري او د ایجینسي په کچه د منل کیدو ارزونې مسوده او دا ارزونه تر بشپړو پورې تر سره کیږي

(ii) د انډول توب او منل کیدلو د ارزونې رپورټونه تر بشپړیدلو سره سم، اوهمدارنګه که چیرې شتون ولري نو نوی شوی ارزونې تر څو د هیواد خوندیتوب په سستم کې بدلونونو ته انعکاس ورکړي.

(iii) د انډول توب او منل کیدلو د ارزونې وروستني رپورټونه، چې د بشپړیدلو سره سم تیاریږي

(iv) نوی شوې وروستني ارزونې تر څو د هیواد خوندیتوب په سستم کې بدلونونو ته انعکاس ورکړي، که چیرې دا شتون ولري نو د بشپړیدولو سره سم تیاریږي.

55. د پروژې په کچه د منل توب ارزونې ښکاره کول یا خپرول به د عادي خوندیتوب لپاره د اسنادو د ښکاره کولو پروسه چې د ۵۱-۵۳ فقرو کې یې یادونه وشوه، تعقیبیږي.

56. لومړنی د فقر او ټولنیزه څیړنه (IPSA)د ټولو پانګوني پروژواو پروګرامونو لپاره تر سره کیږي، تر څو فقر پراختیا او په هیواد کې اوسنې ټولنیزې موضوعګانې په ګوته کړي، د بیلګې په توګه مشوره ورکول، تیاری نیول، د جنسیت یا جنډرته وده ورکول، ټولنیز خوندیتوب تر سره کول او همدارنګه نور ټولنیزخطرونه چې د پروژې د ډیزاین پر محال په ګوته کولو ته اړتیا لري. دآسیا پرمختیایي بانک باید لومړنی د فقر او ټولنیزه څیړنه د خپلواکه پروګرام او یا پروژې د کنسیپټ پاڼې د تایید څخه وروسته خپل ویب سایټ ته پورته کړي. د دولت لخوا تظمین شوې یا تړلې پروژې لپاره باید IPSA د قرضې د تایید د پروسې نه وروسته د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي.

## دتخنیکي مرستي رپورټونه او د تخنیکي مرستي لاندې برابرشوي رپورټونه

57. د تخنیکي مرستي رپورټ یو داسې سند دی چې د آسیا پرمختیایي بانک له لوري تخنیکي مرستي او بودیجې ورکول پکې تشریح شوي دي. د اړونده اداري د تایید څخه وروسته

باید د آسیا پرمختیایي بانک تخنیکي رپوټونه ویب سایټ ته پورته کړي.[14] او همدارنګه ددې د بشپړیدلو وروستني رپوټونه باید هم ویب سایټ ته پورته کړي چې د تخنیکي مرستې لخوا تیار شوي وي. لکه څرنګه چې د پالیسي او مشورتي تخنیکي مرستې او د وړتیالوړولو تخنیکي مرسته کې شاید حساسې موضوع ګانې شاملې وي، نو د آسیا پرمختیایي بانک باید دولت ته دا فرصت ورکړي چې د وروستنیو تخنیکي مرستو رپوټونود ښکاره کولو یا خپرولو په اړه خپلې نیوکې وکړي.د ښکاره کولو په اړه د پالیسي احتمال شتون له امله کموالی او یا ددغه اسنادو د خپرولو څخه ډډه کول، به د پالیسي د استثناتو پر بنسټ تر سره کیږي.

## د جمهور رییس رپورټ او سپارښتنې او مرستندویه اسناد

58. د جمهور رییس رپورټ او سپارښتنې(RRP) د آسیا پرمختیایي بانک د پروګرامونو او پروژو لپاره د تصمیم نیولو سند دی چې د تایید لپاره بورډ ته وړاندې کیږي. د آسیا پرمختیایي بانک باید خپلواکه پروژو RRP په هغه وخت کې به ویب سایټ کې خپور کړي په کوم وخت کې یې چې بورډ غړو ته لیږدول کیږي او د غړو هیوادونو هوکړې ته لیږدول کیږي. که چیرې هیواد پدې هوکړه ونه کړه چې دغه RRP د تایید څخه د مخه خپور شي نو بیا بایدد آسیا پرمختیایي بانک د بورډ د تایید څخه وروسته دغه آر آر پي ویب سایټ ته پورته کړي. په عین وخت کې د معلوماتو ښکاره کول په هغه وخت کې پلي کیږي کله چې د آسیا پرمختیایي بانک پروژو او پروګرامونه پر سر خبرې اترې تر سره شوي وي او یا د پالیسي د اعتبار د پیل نیټې څخه وروسته. د خپلواکه پروژو لپاره د پروژې اداري کتاب، چې د پلی کیدلو معلومات یې پکې ذکر کړي وي، په شمول مرستندویه اسناد باید بیل ښکاره شي او عین وخت کې چې RRP د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته کیږي، دغه اسناد باید د بریښنایي لینک له لارې ورسره ونښلول شي. او که داسې نه وي نو په پالسي کې دا داسې اسناد شامل شي.[15] د خپلواکه پروژو لپاره به د آسیا پرمختیایي بانک د RRP لنډه شوی ډول د بورډ د تایید څخه وروسته خپل ویب سایټ ته پورته کړي. پدې کې به محرم معاملاتي معلومات او د آسیا پرمختیایي بانک د پروژې ارزونه یا د پیسو د لیږد خطرونه شامل وي.

## قانوني تړونونه

59. د آسیا پرمختیایي بانک باید د خپلواکه پروژو ټول هغه قانوني تړونونه ویب سایټ ته پورته کړي چې د اعتبار نیټه یې پیل شوي وي او یا هم د لاسلیک کولو نیټې څخه وروسته وي. مګر ددې اسنادو څخه باید هغه معلومات لرې د بحث پر محال لرې کړای شي چې د پالیسي په ۹۷ مه فقره د استثنا سره برابروي.[16] که چیرته د پور اخیستونکو موافقه وه نو د آسیا پرمختیایي بانک کولای شي چې قانوني تړون مسوده ښکاره کړي او دغه بانک به دغه اسناد د تغیراتو راوستلو په صورت کې د دوه اونیوپه موده کې ویب سایټ ته پورته کولای شي، وروسته تر دې چې هغه معلومات ترې لرې کړي چې د ۹۷ مې مادې د استثنا سره سمون خوري.

60. د آسیا پرمختیایي بانک باید هغه خپلواکه پروژو لپاره قانوني اسناد جوړ کړي چې د ۱۹۹۵ زیږدیز کال د جنوري د لومړۍ نیټې او ۲۰۰۵ کال د سپټمبر لومړۍ نیټې تر منځ وي او دغه تړونونو کې بدلونونه راوستل به د غوښتنې سره سم دغه معلومات محرم کیږي کله چې د خبروپر محال د دولت لخوایي غوښتنه وشي.

61. د خپلواکه پروژو قانوني تړونونه او په هغوی کې بدلونونه چې د ۱۹۹۵ کال د جنوري د لومړنۍ نیټې څخه مخکې وي، نو د آسیا پرمختیایي بانک د دولت هوکړې ددغه اسنادودچمتو کولو څخه مخکې اړتیا لري.[17]

## د پروژې د حساب مالی تفتیش

62. د آسیا پرمختیایي بانک به خپل ویب سایټ ته د خپلواکه پروژو چې خبرو او بحث لپاره ورته بلنه ورکړل شوي وي، پروژې ټول کلني حسابونه پورته کوي او یا هم د پالیسی د اعتبار د ورځې د پیل څخه وروسته خپرولای شي[18]

[14] د تخنیکي مرستې پروژو د چمتو کولو لپاره تر 1.5 میلیونه ډالره، د تخنیکي مرستې د رپورټ او د سند پاڼه باید د آسیا پرمختیاېي بانک په ویب پاڼه د تصویب سره سم خپره شي.

[15] د بیلګې په توګې، حقوقي هوکړه

[16] د آسیا پرمختیایې بانک د غیرې دولتي پروژو حقوقي ژمنې ته ورسید، او یا دغه ډول ژمنې یې تعدیل کړي. په دغو کې همدارنګه د ګډ تمویل سوداګریزې هوکړې هم شاملې وې.

[17] که چیرې اړونده حکومت د دغه ډول ښکاره کولو په اړه په 30 ورځو کې د اسیا پرمختیایي بانک ته خبر ورنکړي، نو د آسیا پرمختیاېي بانک به دغه ډول معلومات او تړون غوښتونکي ته د غوښتنې په 60 ورځو کې ښکاره کړي.

[18] د پروژو د کلني تفتیش حسابونو د ښکاره کولو پروسیجیر به د هر پور اخیستونکي سره وڅیړل شي او هوکړه به پرې وشي او د هرې پروژې د پور برخه به وګڼل شي.

## ستربدلونونه

63. د آسیا پرمختیایي بانک به هغه اسناد چې د پروژې د پراختیا په خاطر پکې لوی بدلونونه راغلي وي، د بورډ ته د تایید لپاره د لیږلو څخه وروسته ویب سایټ ته پورته د تایید نه وروسته پورته کوي. د تړلي یا د دولت لخوا تضمین شوي پروژو لپاره يي لنډيز ډول چې محرم د معاملې معلومات پکې نه وی، به ویب سایټ ته پورته کوي.

## د پالیسي پر بنسټ پورونو او مرستو د قسط ورکول لپاره مهالني رپورټونه

64. د قسط د ورکولو لپاره محلني رپورټ د بیا کتنې او د ارزولو لپاره لیږل کیږي چې د پالیسي پر بنسټ د پرمختیایي غړو هیوادونو د پورونو او مرستو سره سمون خوري. د آسیا پرمختیایي بانک باید د بورډ او مدیریت د تایید څخه وروسته دغه ډول رپورټونه په ویب سایټ کې خپور کړي.

## د پای رپورټونه

65. د آسیا پرمختیایي بانک باید د تایید څخه وروسته د پروژې، پروګرام او تخنیکي مرستې د پای رپورټونه د بورډ غړو ته د لیږلو وروسته ویب سایټ ته پورته کړي. د تړلي پروژو لپاره د بشپړیدلو رپورټ چې غزول شوی کلنۍ د بیا کتنې رپورټ هم ورته وایي، باید په لنډو ډول سره پداسې حال کې چې سوداګریز ډول سره حساس محرم معاملاتې معلومات ترې لرې شوي وي، ویب سایټ ته پورته کړي.

# پروژو اوپروګرامونو پورې نور اړونده معلومات

## خپلواکه ارزونه

66. د آسیا پرمختیایي بانک باید د ازادو ارزونو هغه لیست چې د ددې بانک د ارزوني خپلواکه څانګې‌لخوا پلان شوی وي،خپل ویب سایټ ته پورته کړي. او دا لیست د درې کلن څرخیدونکې پروګرام د کار پر بنسټ چې د بورډ لخوا تایید شوی وي، برابریږي.

67. د آسیا پرمختیایي بانک باید ټول د خپلواکه ارزونې رپورټونه د بورډ او مدیریتي غړو ته د لیږلو څخه وروسته ویب سایټ ته پورته کړي، پرته د ارزونې د خپلواکه اداری کلنۍ د ارزونې رپورټونه چې دا په د بورډ د پراختیایي موثریت کمیټې د بحث نه وروسته ویب سایټ ته پورته کیږي. د دولت لخوا تضمین شوي یا تړلي کارونو د ارزونولپاره ډول پرته له هغه سوداګریز ډول حساسو او محرم سوداګریز معلومات.

68. هغه د ارزونې رپورټونه چې د پراختیایي موثریت کمیټې لخوا پرې بحث شوی وي، د آسیا پرمختیایي بانک يي باید د غونډې لنډیزبورډ ته د لیږلو وروسته خپل ویب سایټ ته پورته کړي. که چیرته شتون ولري، نو د آسیا پرمختیایي بانک به ټول د مدیریت غړو د ارزونې په اړه عکس العمل هم ویب سایت ته پورته کړي او پدغه هکله د ارزونې خپلواکه څانګې‌نظرونه هم پکې شامل شي.

## د ګډ تمویل معلومات

69. د آسیا پرمختیایي بانک باید خپل ویب سایټ ته د هغه پروژو لنډیز چې ګډ تمویل ته اړتیا لري، ویب سایټ ته پورته کړي. که چیرته شتون ولري نو د رسمي ګډ تمویل پروژو معلومات، د بیلګې په توګه اصول او مقررات باید په اړونده د تخنیکي مرستې په رپورټونو کې او یا هم د جمهور رییس رپورټ او سپارښتنې (RRP) کې چمتو کړای شي او ویب سایټ ته پورته شي. د پروژې ځانګړي ګډ تمویل تړون، د چوکاټ تړونونه، او د خیراتي صندوق تړونونو په شمول دغه ډول ګډ تمویل پروژو لپاره باید د آسیا پرمختیایي بانک د ګډې مرستې تړون چمتو ګړي. چې دغه تړون به د آسیا پرمختیایي بانک ، دوه اړخیز او یا هم څو اړخیز ګډ تمویلوونکو له لوري لاسلیک کیږي. او دغه تړونونه به د غوښتنې پر بیسټ برابریږي، که نه نو د ګډ تمویلوونکو د نیوکې سبب ګرځي.

## ددرغلۍ په وړاندې معلومات

70. د آسیا پرمختیایي بانک د روڼتیا او فساد ضد اداره به خپل کلنۍ رپورټ د بشپړولو څخه وروسته ددغه بانک ویب سایټ ته پورته کوي.[19] او پدې کلني رپورټ کې به د پلټنو په اړه ټول احصایوي معلومات شامل وي اوارزښت لرونکي سپارښتنې، هغه موضوعات چې د پلټنو پر محال رپورټته

[19] OIA د آسیا پرمختیایي بانک ټاکل شوي مرکزي تن دي چې د د اسیا پرمختیایي بانک د تمویل شویو فعالیتونو او کارکونکو د درغلي، فساد او د آسیا پرمختیایي بانک د فساد ضد پالیسي دنورو تخطیو په اړه معلومات ترلاسه کوي.

شوي وي او د پروژې د تدارکاتو اړونده کتنه شامل وي. د آسیا پرمختیایي بانک به هغه ټول د تدارکاتو اړونده رپوټونه چې د روڼتیا او فساد ضد ادارهلخوا تر سره شوي وي، د بشپړیدلو څخه وروسته ویب سایټ ته پورته کړي. د روڼتیا او فساد ضد اداري رپوټونه باید ددې لپاره تیار وي چې هغه معلومات چې د پالیسي په استثنا کې شامیلیږي تر لرې کړای شي. د آسیا پرمختیایي بانک کیدای شي چې ددغه پلټنو پایلې د دغه بانک غړو دولتونو سره شریک کړي.

71. د آسیا پرمختیایي بانک باید ټولو خواووسره هغه معلومات او نور هغه اړین مواد چې دوی باید پرې پوهه شي، چې دغه معلومات د آسیا پرمختیایي بانک ، غړي هیوادونو، نورو څوارخیزو بانکونو او دوه اړخیز تمویلوونکولخوا منع شوي وي. د آسیا پرمختیایي بانک باید دخپل ویب سایټ د سرغړونې په برخه کې د لاندې شیان ځای پر ځای کړي. ۱- د هغه ادارو نوملړ چې د تړونونو څخه یې سرغړونه کړې وي. ۲- د هغه ګروپونو نوملړ چې د فساد ضد پالیسي (دغه پالیسي په ۱۹۹۸ کال چې جوړه شوی او تر اوسه یکې بدلونونه راغلي دي) څخه یې د دوهم ځل لپاره او یا هم په تکراري ډول سره سرغړونه کړې وي. ۳- هغه بندیز لګول شوي ګروپونه چې د هڅو سره سره هم ورسره اړیکه نشي ټینګیدلای. او ۴- هغه ګروپونه چې دآسیا پرمختیایي بانک د تړون اود نورو څو اړخیز پراختیایي بانکونو او متقابل بندیز سره سم پرې بندیز لګول شوی وي.[20]

# پالیسي ګاني او ستراتیژي ګاني

## د عامه سلا مشورو اړونده پالیسي ګاني او ستراتیژي ګاني

72. د خوندیتوب ، سکتور او محتوا د پالیسي او ستراتیژي ته وده ورکولو او بیا کتنې لپاره د آسیا پرمختیایي بانک د خپلو برخه والو او نورو مینه لرونکو برخه والو ګډون په لټه کې دی. د آسیا پرمختیایي بانک به دا په خپل ویب سایټ کې هغه پالیسي ګاني او ستراتیژیګاني په څرخیدونکي ډول سره د ۱۲ میاشتو لپاره د وده ورکولو او یا هم د بیا کتنې لپاره خپرې کړي. د آسیا پرمختیایي بانک باید په خپل ویب سایټ کې هغه د مشورتي پلانونه د تیارولو وروسته شریک کړي چې د خپلو بهرني مینه والو سره مخامخ لیدنې هم یکې تر سره کوي. او دغه بانک به لړ تر لړه د پالیسي ګانو او یا هم ستراتیژیګانو لپاره یوه مشورتي مسوده ویب سایټ ته پورته کړي. دغه بانک باید د پالیسي ګانو او ستراتیژیګانو کاري پاڼې او وروستني غوښتنلیکونه چې د عامه مشورې د پروسې څخه او په عین وخت کې د بورډ د غړو ترمنځ څرخیدلي وي، به ویب سایټ ته پورته کوي. دغه غوښتنه یوازې هغه پالیسي ګانو او ستراتیژیګانو د کاري پاڼو او وروستني غوښتنلیکونو باندې د پلي کیدلو وړدي چې د بورډ غړو تر منځ تر منځ خپره شوي وي او یا هم ددغه پالیسي د اعتبار د نیټې د پیل څخه وروسته نیټې څخه.

## نورې پالیسي ګاني او ستراتیژیګاني

73. د آسیا پرمختیایي بانک باید هغه وخت د ستراتیژي او پالیسي پاڼې ویب سایټ ته پورته کړي چې تایید او لاسلیک شي.

## د غونډې لنډیز

74. د هرې پالیسي او یا هم ستراتیژي لپاره د غونډې لنډیز چې د بورډ رسمي غونډې لخوا تایید او لاسلیک شوي وي، باید د وروستي ځل لپاره د بورډ غړو ته لیږلو څخه وروسته باید د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي.

# عملیاتي اصول او پروسیجرونه

75. کارکوونکو ته د لیږدولو څخه وروسته به د آسیا پرمختیایي بانک د عملییاتي کتاب یا منول څپرکي ( د بانک پالیسي ګاني او عملیاتي پروسیجرونه)، د پروژې عملیاتي لارښودنې او د کارکوونکو کوچنې کتابونه، خپل ویب سایټ ته پورته کوي.

# نور معلومات

## تدارک

76. د آسیا پرمختیایي بانک باید لاندې معلومات او اسناد خپل ویب سایټ ته پورته کړي:

(i) ټولې هغه خپلواکه پروژې چې د آسیا پرمختیایي بانک د مالي مرستې لپاره برابرې شوي دي، د پیژندنې څخه تر د بورډ لخوا تاییدیدلو پورې

[20] د منع شوي تصمیمونه د پلي کولو ګډ تړون، 9 اپریل 2010، د آسیا پرمختیایي بانک، د افریقا پرمختیایي بانک، د بین الامریکا پرمختیایي بانک، د اروپا د بیار غونې او پرمختیا بانک، او د نړیوال بانک پله: http://www.adb.org/documents/agreement-mutual-enforcement-debarment-decisions

(ii) د پروژې لپاره د پور اخستونکو د تدارکاتو پلان، چې د پروژې د اداري کتاب گوټې یوه برخه ده.[21] او پدې کې لاندې شیان تشریح کیږي. الف-د توکو، کار، مشورتي او نورو خدماتو هریو تړون چې د لومړني ۱۸ میاشتو پروژې لپاره اړین دي. ب- د هر تړون لپاره د تدارکاتو وړاندیز شوی میتودونه. ج- د آسیا پرمختیایي بانک پلی کیدونکی د بیا کتنې پروسه

(iii) د پور اخستونکي لخوا د تدارکاتو د پلان نوي کول (لږ تر لږه د پروژې د دوران پر محال په کال کې یو ځل تر سره شي)

(iv) ټول هغه بلنلیکونه چې د یوځانگړې یاداشت لرونکي وي او د پلې کیدونکي ادارو او د آسیا پرمختیایي بانک له خواوی ددې لپاره چې خپله لیوالتیا پکې وښایي، دوباره یې وړ وگڼي او یا د نړیوالې د تدارکاتو د داوطلبی لپاره وی او یا هم د مشورتي دندو لپاره وي.

(v) ټول هغه تړونونه چې د آسیا پرمختیایي بانک د حساب کتابونو ته داخلیږي، نو د تړون کونکي نوم، د تړون کوونکي تشریح، د تړون د پیسو کچه چې د آسیا پرمختیایي بانک لخوا ورکول کیږي او د هر یو داوطلب نوم چې د داوطلبی په پروسه کې یې برخه اخیستلې وي.

(vi) د آسیا پرمختیایي بانک د تدارکاتو اداري ته د درناوي لپاره، د پروپوزل او یا هم داوطلبي لپاره بلنلیک او یا هم هغه تړون چې په لویه کچه تدارکاتي کړنو لپاره ورکړل شوی وي.

## داسیا پراختیایي صندوق څخه مرسته ترلاسه کوونکي هیوادونو د کړنو ارزونه

.77 د آسیا پرمختیایي بانک د فراغت پالیسي د آسیا پرمختیایي وجوه د سرچینو لپارهمستحق والی په گوته کوي.[22] د مستحق هیوادونو لپاره، د کړونو پراساس د ځانکړني پالیسي د پیسو ځانگړي کولو لپاره اصول او مقررات ټاکي.[23] هر هغه هیواد چې د آسیا پرمختیایي وجوه سرچینو ته لاسرسی ولري، نو د آسیا پرمختیایي بانک باید ددغه هیواد د کړنو کلنی ریپوټ خپل ویب سایټ ته پورته کوي چې پدې کې باید د کړنو اندازه د شمیرو پوسیله ښودل شوي وي. د هیواد د پالیسي او ادارو ارزوني لاربنود باید د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي.

## کلنی رپورټ، اقتصادي معلومات او ریسرچ

.78 دآسیا پرمختیایي بانک باید خپل کلنی رپورټ او همدارنگه د اسیا پراختیایی کتنه،د اسیا پراختیایی کتني نوی شوې بڼه، او مهم شاخصونه چې اقتصادي، ټولنیزه ډاټا، تحلیل او وړاندوینه پکې شامل وي، ویب سایټ ته پورته کړي.

.79 د آسیا پرمختیایي بانک به همدارنگه د انلاین کتابونو، کنفرانس پاڼو، دوره یي معلومات، رپورټونه، څیړني او همدارنگه تخنیکي لنډې لیکنې چې څیړنې، رپورټونه او تحلیل پکی شامل وي، لپاره کیټالوگ ویب سایټ ته پورته کړي.

## اداري او نور معلومات

.80 د آسیا پرمختیایي بانک باید لاندې معلومات او اسناد خپل ویب سایټ ته پورته کړي:

(i) د آسیا پرمختیایي بانک د لخوا تیار شوی رسمي سند یا تړون (چارټر)

(ii) د آسیا پرمختیایي بانک خپل قوانین

(iii) د آسیا پرمختیایي بانک د گورنرز بورډ اصول او مقررات

(iv) د آسیا پرمختیایي بانک د بورډ اف ډایرکټرزیا مدیره هیت اصول او مقررات

(v) د آسیا پرمختیایي بانک او د فلیفاین جمهوري دولت تر منځ تړون ددغه بانک د مرکزي دفتر په اړه

(vi) د کوربه هیواد د منلو تړونونه دآسیا پرمختیایي بانک او غړو هیوادونو تر منځ

(vii) د آسیا پرمختیایي بانک غړو نوملړ، د هغوي لخوا اخیستل شوی سرمایه اود رایه ورکولو توان

(viii) د آسیا پرمختیایي بانک اداري تشکیل

(ix) د گورنرز د بورډ د غړو نوملړ

(x) د مدیره هیت د غړو نوملړ او د هغو د رایه ورکولو ډلې

(xi) د مدیره هیت د کمیټو نوملړ او د هغو غړي

(xii) د آسیا پرمختیایي بانک د مدیریت او مشرتابه غړو نوملړ

(xiii) د پورتني هر یو د اړیکې معلومات

21 د RRP او د اړونده سندونو، د پروژو د اداري د لارښود په گڼون د ښکاره کولو د وخت لپاره 58 پراگراف وگورئ.

22 د آسیا پرمختیایي بانک، 2008. د 1998 کال د آسیآ پرمختیایي بانک د فراغت پالیسي بیاکتنه. مانیلا، د آسیا پرمختیایي بانک. د ودې په حالت کې غړیو هیوادونو د آسیا پرمختیایي بانک د فراغت یوه پالیسي، کوریگندوم 1. مانیلا.

23 د آسیا پرمختیایي بانک 2008. د اجرائتو په بنسټ د آسیا پرمختیایي بانک د وجوه د سرچینو تخصیص. مانیلا.

81. د آسیا پرمختیایي بانک باید د کلني غونډو او لیدنو جریان او همدارنګه د بورډ اف ګورنرز بحثونه او ویناوې د هر کلني غونډې څخه وروسته د ۶۰ ورځو په جریان کې ویب سایټ ته پورته کړي. د اسیا پراختیا یي بانک باید د بورډ اف ګورنرز پریکړه لیکونه چې د پالیسي د اعتبار د نیټې د پیل څخه وروسته پرې هوکړه شوې وي، خو دا په هغه صورت کې ویب سایټ ته پورته کېدای شي چې د مدیره هیت لخو تایید یې د خپرولو اجازه ورکړل شي.

82. د بورډ د بحث نه وروسته به د آسیا پرمختیایي بانک د هر مالي کال لپاره د پروګرام کار او د بودیجه چوکاټ ویب سایټ ته پورته کوي.

83. د آسیا پرمختیایي بانک باید د بورډ د تایید نه وروسته د هیوادونوطبقه بندي ویب سایټ ته پورته کړي.

84. د مدیره هیت کارونه محرمانه دي.[24] دا پداسي حال کې ده چې د آسیا پرمختیایي بانک کولای شوی چې د غوښتني په صورت کې د تشکیل څخه لس ۱۰ کاله وروسته خپاره کړي. او کولای شي چې دغه معلومات په بشپړ ډول او ټکي په ټکي خپاره کړي او وخت ورسره ذکر کړي چې دغه د مدیره هیت غونډې په کوم وخت کې تر سره شوې، خو ددغه معلوماتو څخه به هغه شیان لرې کړای شي چې د استثنا د پالیسي د حکم لاندې راځي.

85. د آسیا پرمختیایي بانک باید خپل ویب سایټ ته لاندې شیان پورته کړي. ۱- د بورډ د پاملرنې لپاره د راتلوونکو درې اونې کې د محال ویش برابرول، د بورډ د تایید نه وروسته د هرې لیدنې مهم ټکي یا میټنګ مینټس، چې دا باید لیدنې نه وروسته د ۶۰ ورځې په جریان کې ورواچول شي.

86. د آسیا پرمختیایي بانک باید په خپل ویب سایټ کې د بورډ د کمیټې او د بشپړ بورډ رپورټون پورته کړي، خو دا په هغه صورت کې چې د کمیټې لخوا وړاندیز شي او د بورډ لخوا تایید شي.

## مالي معلومات

87. د آسیا پرمختیایي بانک باید د عادي سرمایی سرچینې او ځانګړې بودیجې د تفتیش څخه وروسته مالي رپورټونه ددغه بانک ویب سایټ ته د آسیا پرمختیایي بانک دبورډ اف ګورنرز د کلني غونډې څخه مخکې، پورته کړي.

88. د بورډ د تایید نه وروسته باید لاندې شیان د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي:

(i) د آسیا پرمختیایي بانک د عادي سرمایی او ځانګړې بودیجې چې پدې کې د هرې بودیجې لپاره مالي ډاټا شامله ده، په اړه د مدیریت لخوا بحث او تحلیل

(ii) د تفتیش نه پرته درې میاشتني مالي رپورټونه

(iii) د پرمختیایي غړو هیوادونو دپورونو خدمتونو په اړه کلني رپورټ او

(iv) د هر مالي کال لپاره د آسیا پرمختیایي بانک بودیجه.

89. د آسیا پرمختیایي بانک باید ټول عامه غوښتنې پورې اړونده اسناد ویب سایټ ته په هغه وخت کې پورته کړي کله چې مالي مارکیټ قوانین او اصول غوښتنه وکړي چې دغه اسناد باید دولتي اداري سره ثبت شي.

## د استخدام معلومات

90. د آسیا پرمختیایي بانک باید خپل ویب سایټ ته لاندې شیان پورته کړي:

(i) د آسیا پرمختیایي بانک د معاشونو لومړنې جوړښت

(ii) د مدیریت او نورو کارکونکو د معاشونو د ټاکنې لپاره طرزالعمل

(iii) د مدیریت او بورډ غړو کلني معاشونه

(iv) د ګمارنې، ځای پرځای کیدنې، بیا ځلې زیاتولو او د کارکوونکو د ساتلو په اړه د آسیا پرمختیایي بانک پراخه موخې او کړنلاره یا ستراتیژي.

د آسیا پرمختیایي بانک باید همدارنګه د کارکوونکو د استخدام څخه لږ تر لږه دوه اونۍ مخکې ددغه دندو تشریح خپل ویب سایټ ته پورته کړي. د اداري محکمې یا ډلې هره یوه پریکړه به د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي او دا به په هغه وخت کې پورته کوي کله چې د د اداري ډلې لخوا سکرتر ته دا خبر ورکړل شي چې دغه پریکړه دې سایټ ته پورته شي.

[24] د آسیا پرمختیایي بانک 1966 وګورئ. د آسیا پرمختیایي بانک د رییسانو د بورد قواعد او پروسیجر. مانیلا، نهمه برخه، همارنګه د دغه سند (iii)97 وګورئ

## د آسیا پرمختیایي بانک دمسولیت پیژندنې میکانیزم په رڼا کې تولید شوي معلومات

91. د آسیا پرمختیایي بانک باید هغه معلومات چې د مسولیت پیژندنې میکانیزم په رڼا کې پداسې ډول تیار شوي وي چې د آسیا پرمختیایي بانک د مسولیت پیژندنې میکانیزم د پالیسي سره سم برابر شوي وی او وخت پروخت پکې بدلونونه راغلي وي، خپل ویب سایټ ته پورته کړي.

## د آسیا پرمختیایي وجوه بحث اړونده معلومات

92. په ټولیزه توګه، د آسیا پرمختیایي بانک هغه معلومات خپل ویب سایټ ته پورته کوي چې د اسیا پراختیایي صندوق د بشپړوالي او منځنې وخت بیا کتنې بحث پورې اړونده وي. د آسیا پرمختیایي بانک به همدارنګه غیر مالي بحثونو پانې ډونر ته د لیږلو څخه وروسته ویب سایټ ته پورته کړي. د هرې غونډې څخه وروسته به دغه بانک د غونډو لنډیز ویب سایټ ته پورته کوي. د بورډ د تایید څخه وروسته باید د ډونرانو رپورټ د آسیا پرمختیایي بانک ویب سایټ ته پورته شي.

## بورډ ته وړاندې شوي نور اسناد

93. د آسیا پرمختیایي بانک باید نور هغه اسناد چې د تایید او معلوماتو لپاره یې د بورډ غړو ته لیږلي وي او په پالیسي کې نه وي،خو مدیریت بورډ ته خبرورکړی وي او بورډ تایید کړي وی، خپل ویب سایټ ته پورته کوي.

## د احتمالي ښکاره کولو استثناات

94. د معلوماتو د احتمالي ښکاره کیدنې څخه استثنا د ۹۷ مادې په څلورمه برخه کې او همدارنګه په ۱۰۷ مه ماده کې ځای پرځای شوي دي. دغه د استثنا لست د آسیا پرمختیایي بانک له لورې ددې په بنسټ برابر شوی دی چې د ښکاره کولو زیان به یې یوې ځانګړې ډلې ته د ښکاره کولو د ګټې څخه زیات وي.

95. که چیرته ویب سایټ ته د پورته کولو لپاره تیار، یوسند او یا یې هم یوه برخه یې، ددې له امله ویب سایټ ته پورته نشوه چې هغه معلومات یې لرل چې د استثنا د مادې سره یې سمون درلود، نو د آسیا پرمختیایي بانک باید داسې حواله ورکړي چې دغه معلومات او سند ددغه اسنادو څخه لرې کړای شوی، که چیرته داسې ونکړي نو د معلوماتو لرې کول ددغه استثنا څخه سرغړونه وي. [25] که چیرته داسې معلومات د غوښتنې په صورت کې یو چا ته لیږل کیږي، دغه هغه برخه چې دښکاره کولو څخه استثنا وي، باید ترې لرې شي او غوښتنه کوونکې باید د معلوماتو د لرې کولو په علت باندې خبر کړای شي.[26]

96. د آسیا پرمختیایي بانک څخه باید دا غوښتنه ونه شي چې تکراري او نامعقوله د معلوماتو غوښتنو ته د عین نفر، او یا اداري او یا هم ډلې لخوا وي، غاړه کیږدي او یا یی هم ومنې پداسې حال کې چې د آسیا پرمختیایي بانک ورته د لومړۍ غوښتنې څخه وروسته دغه معلومات برابر کړي وي او یا یې ورته دلیل ویلی وي چې ولې دوی دغه معلومات ورته نشي برابرولای.

## اوسنې معلومات

97. د ۹۹ مادې د مقرراتو پر بنسټ د آسیا پرمختیایي بانک باید لاندې معلومات ښکاره نکړي:

**د سنجش او پریکړه کولو پروسه**

(i) داخلي معلومات که چیرې دا ښکاره کړای شي نو کیدای شي چې د آسیا پرمختیایي بانک په سنجش او پریکړه کولو پروسه د خطر سره مخامخ کړي. او دغه د خطر سره مخامخ کیدل د ګورنرانو، دوی ځای ناستي، د بورډ غړو، د ریسانو مشاورینو، د مدیریت غړو، د آسیا پرمختیایي بانک کارکوونکو او د دغه بانک مشاورینو، د صادقانه نظریاتو او مفاهمې تبادلې څخه د مخنیوي له لارې وي چې پدې مفاهمه کې داخلي اسناد، هوکړه لیکونه او داسې نورې ورته مفاهمې شاملې دي.

(ii) تبادله شوي اسناد، چې د سنجش او پریکړې کولو پروسې لپاره تیار شوي وي او یا هم د هغه نه تر لاسه شوي وي او دغه داسنادو تبادله د آسیا پرمختیایي بانک او د هغه غړو او نورو ادارو ترمنځ چې دغه بانک پکې برخه لري، تر سره شوي وي. که چیرته دغه اسناد ښکاره شي نو داسې به وګڼل شي چې د آسیا پرمختیایي بانک ، غړو او نورواداروتر منځ د سنجش او پریکړې کولو پروسه او د آسیا پرمختیایي بانک

[25] په اړونده ویب پاڼې کې به لیءې شوې سند ته اشاره وشي، چې بیا هم به د لیرې شوي یا اصلاح شو سند عنوان ته اشاره شوي وي.

[26] د بورد د ناستو متنونه، لکه څرنګه چې په 84 پراګراف کې ورته اشاره شوې ده، اصلاح شوې نه دي. که په دې برخه کې هر ډول معلومات د استثنا په لیست کې راشي، نو نه ښکاره کیږي.

ونډې او په ځانګړي ډول د پرمختیایي غړو هیوادونود صادقانه نظریاتو او مفاهمې تبادله د خطر سره مخامخ شوی ده.

د مدیره پلاوې کتنې[27] چې د کټ مټ متن استثنا پکې وي ( چې په ۸۴ مه مادهکې راوړل شوي دي)، د پلاوي یا بورډ د لیدنو لنډیز چې په ۸۵ مه ماده کې او همدارنګه د ځانګړي پلاوي یا بورډ د غونډو لنډیز چې په ۴۰مه او ۷۴ مه ماده کې ذکر شوي.

**هغه معلومات چې محرم وي**

(iii) هغه معلومات چې په محرمانه ډول سره د بهرنۍ اداري لخوا برابر شوي وي او که دغه معلومات ښکاره شي نو کیدای شي چې دغه ډلې او یا بل غړي سره د آسیا پرمختیایي بانک اړیکو ته زیان ورسوي.

(iv) هغه معلومات (د ملکیت معلوماتو په شمول) چې د آسیا پرمختیایي بانک لپاره د یوې ډلې لخوا برابر شوي وي، که چیرې دغه معلومات ښکاره کړای شي نو کیدای شي چې ددغه ډلې او یا هم بل چا سره چې ددغه معلوماتو سرچینه وه، سوداګریزې ګټو، مالي ګټو او نور د سیالۍ حالت ته زیان ورسوي. او یا هم هغه محرم سوداګریز معلومات ( هغه معلومات چې محرموالي او یا هم نه ښکاره کولو تړونونو نه د د آسیا پرمختیایي بانک لخوا د خپل مراجعینو سره او یا هم د اړونده ډلو سره لاسلیک شوي وي)

(v) هغه معلومات چې د آسیا پرمختیایي بانک لپاره په محرمانه ډول سره برابر شوي وي، دټګۍ څرګندونه، درغلۍ او یا هم د آسیا پرمختیایي بانک د درغلۍ ضد پالیسي څخه د سرغړونې او د بد سلوک یادونه پکې شوي وي او یا هم د اجازې د کچې څخه استثنا او یا هم د آسیا پرمختیایي بانک د کارکوونکو د اصولو او د پلټنو اصول په اړه معلومات وي او یا هم د هغه ډولې پیژندنه پکې وي چې دغه دعوه یې کړې وي اویا هغه چارواکي چې دغه ډول واک لري، خو په هغه صورت کې یې ښکاره کولای شي دغه مسول چارواکي دا اجازه ورکړې چې د هغه یا د هغې نوم دې نشر شي.

**شخصي معلومات**

(vi) د پلاوي یا بورډ غړو، د ریسانو مشاورینو، د مدیریت غړو، د آسیا پرمختیایي بانک کارکوونکو او مشاورینو په اړه شخصي معلومات چې په ښکاره کولو سره ددوی مشروع محرمیت ګټو ته زیان رسیږي. پدغه ډول معلوماتو کې د پلاوي یا بورډ غړو، د ریسانو مشاورینو، د مدیریت غړو، د آسیا پرمختیایي بانک کارکوونکود کارکولو اصول، د کړنوارزونې او شخصي روغتیایي معلومات شامل دي او همدارنګه د کارکوونکو د ګمارنې، د ټاکنې پروسو، شخصي اړیکې اود داخلي شخړو د حل غونډې، د دعوی میکانیزم، د پلټنو معلومات، د کارکوونکو په اړه د اجازې د کچې څخه استثنا، د کارکوونکو اصول، د مدیره پلاوي یا بورډ اف دایرکټر اصولو او مقرراتو په اړه معلومات پکې شامل وي.

**مالي معلومات**

(vii) مالي معلومات که چیرته ښکاره شي نو کیدای شي چې د آسیا پرمختیایي بانک او یا یې هم کارونو مالي مشروع او سوداګریزو ګټو ته زیان ورسوي. او یا هم هغه مالي معلومات چې د پانګې او مالي مارکیټ ورسره حساسیت ولري. پدې کې کیدای شي چې د آسیا پرمختیایي بانک د راتلونکو پورونو تخمین، مالي وړاندوینه، د آسیا پرمختیایي بانک د خزانې کړنو په اړه د افرادو د پانګونې د پریکړنو په اړه ډاټا، د پورونو ارزونې، د پورونو د ارزښتونو تحلیل، د پورونو کچه معلومول، د پوراخیستونکو او نورو مراجعینو د خطرونو ارزونه شامل وي.

(viii) هغه مالي معلومات چې کیدای شي چې په ښکاره کولو سره یې د یو غړو هغه وړتیا ته زیان ورسیږي تر څو خپل اقتصاد اداره کړای شي.

**امنیت او خوندیتوب**

(ix) هغه معلومات که چیرته ښکاره شي نو کیدای شي چې د یو چا ژوند، روغتیا، خوندیتوب په خطر کې واچوي، اوهر وګړي امنیت، د آسیا پرمختیایي بانک د سرمایې امنیت او خوندیتوب او یا هم د یو چا دفاع او ملي امنیت ته زیان ورسوي.

[27] د دغه پالیسې لپاره، د ریيسانو د بورد کړنې د ریيسانو د بورد یا د کمیتې د بورد په نوم یادیږي، او ټولو هغه بیانیو ته راجع کیږي چې د کمیتې د ناستو او یا د کمیتو د ناستو په مهال ثبت شوې وي، لکه د خبرو متن، د ناستو یاداښت، او آسیا پرمختیایي بانک د مدیریت، څانګو او د بورد د دارلانشاء ترمنځ په هر ډول هوکړو په ګډون، د بریښنایې اړیکو په ګډون

**قانوني او تحقیقاتي موضوعات**

(x) په څارنوال او مراجعه کوونکي پورې اړونده معلومات( د آسیا پرمختیایي بانک مشاور اوی ا هم بهرني قانوني مشاور سره اړیکه نیول)، د ټګی ، درغلی، بد سلوک، د اجازی د کچې استثنا کول، د آسیا پرمختیایي بانک د پلټنو په اړه اصولو او نورو معلوماتو پلټنو پورې اړونده معلومات، که چیرې ښکاره شي نو دغه پلټنو ته، د قضا اداري او یا هم د سرغړونې پلې کیدونکي قانون ته زیان رسوي.[28]

**داخلی تفتیش رپورټونه او خیریه صندوق د تفتیش رپورټونه[29]**

(xi) (a) دآسیا پرمختیایي بانک د عمومي تفتیش کوونکي لخوا داخلي تفتیش، چې پدغه رپورټونو کې د داخلي سستم په اړه ډیرحساس معلومات شامل دي چې ددغه معلومات څخه دریمګړي ډله ناوړه ګټه پورته کولای شي تر څو د آسیا پرمختیایي بانک ته زیان ورسوي.[30] او (b)او یا هم د آسیا پرمختیایي بانک د بهرني تفتیش کوونکو لخوا د دغه بانک لخوا اداره کیدونکي خیریه صندوقونو په اړه ځانګړي د مالي تفتیش رپورټونه، چې عامو خلکو ته ددغه رپورټونو ښکاره کول به د پلي کیدونکي تفتیش د معیارونو څخه سرغړونه وي.[31]

## تاریخي معلومات

98. د آسیا پرمختیایي بانک لخوا مرسته شوي پروګرامونو، پروژو، پالیسي ګانو، ستراتیژیګانو او عامه کړنو په اړه هر ډول معلومات چې د آسیا پرمختیایي بانک لخوا د ۲۰ کلونو څخه مخکې تیار شوي وي او یا هم د دغه بانک لپاره تیار شوي وي، نو دغه ډول معلوماتو ته د تاریخي معلوماتو په سترګه کتل کیږي. تاریخي معلومات، پرته د بورډ یا پلاوي د غونډو معلومات، باید د غوښتنې په صورت کې چمتو کړای شي.[32] مګر هغه معلومات به نه چمتو کیږي چې د استثنا په لست کې د ۹۷ مې مادې په (xii)(b) او ,(iv)–(vii), (ix)–(xi) کې شامل وي.

## عامه ګټه د پښنو لاندې کول
## (مثبت د پښنو لاندې کول)

99. د ۹۷ مې مادې د معلوماتو ډولونو چې باید ښکاره نشي، که چیرته بهرنې برخه وال د آسیا پرمختیایي بانک څخه غوښتنه وکړي چې یو خاص معلومات د عامه ګټې په خاطر ښکاره کړي، نو د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه به پدغه ډول غوښتنو باندې فکر کوي. د آسیا پرمختیایي بانک کولای شي چې غوښتل شوي معلومات ښکاره کړي که چیرته دغه بانک معلومه کړي چې ددغه معلوماتو په خپرولو عامه ګټه د زیان په پرتله زیاته ده. ددغه ډول معلوماتو په اړه د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټې سپارښتنې او یا هم انکار کول د بورډ یا پلاوي تایید ته اړتیا لري او د نورواسنادو په اړه د رییس اجازې ته اړتیا ده.

100. که چیرته عامه ګټه زیاته وي، خو دا چې د آسیا پرمختیایي بانک د یوې ډلې سره قانوني ژمنه کړې وي چې دغه معلومات په محرم ساتي، دغه معلومات به ښکاره ساتي، خو په هغه وخت کې یې ښکاره کولای شي چې د دغه ډلې ورته اجازه ورکړي.

## د آسیا پرمختیایي بانک په لاسرسی د بندیز حق
## (منفي د پښنو لاندې کول)

101. د آسیا پرمختیایي بانک دا حق د ځان سره خوندي ساتلی دی، چې پرته د ځانګړي شرایطو څخه، په عادي حالاتو کې معلومات ښکاره نکړي او دا په هغه وخت کې چې دغه بانک فکر کوي چې ددغه معلوماتو په ښکاره کولو سره کیدای شي چې ښکاره کولو د ګټې څخه یې زیان زیات دی. دغه حق یوازې د بورډ (پلاوي) لخوا تر سره کیدای شي. ■

---

28 په دې کې کیداې شي چې د مصؤنیت، او د بانکونو د قوانینو او د چاپ د حقوقو قانون محدودیتونه شامل وي.

29 د تفتیش نظرونه او مالي بیانیه عامه وګړو ته د آسیا پرمختیاېي بانک د کلنې رپورټ د برخې په توګه خپریږي، او په استثناء کې نه راځي (87 پراګراف)

30 د آسیا پرمختیایي بانک داخلي تفتیش او د تفیش ټولې موندنې چې د منځنې او لوړ خطر په کچه تخمین شوې وي، د تفتیش له کمیټې سره شریک کیږي.

31 ځانګړې مالي صندوق بیانیې د تمویل کوونکو د حسابونو مطابق جوړیږي (چې کیداې شي په عمومي ډول سره په متحده ایالاتو کې د حسابونو سره توپیر ولري)، او په عمومي ډول سره تفتیش یې په متحده ایالاتو کې د منل شویو معیارونو مطابق ترسره کیږي (چې په متحده ایالاتو کې د پلي کیدو وړ وي).دغه ډول د تفتیش معیارونه د حسابونو د معیار له مخې چې له متحده ایالاتو پرته بل ځای کې د منلو وړ دي او مالي ګټې پکې په ګوته شوې وي، د مالي بیانیه ښکاره کول محدودوي، د بیلګې په توګه، هغه وګړي چې په فند کې ونډه لري او هغه وګړي چې د فند په مدیریت او/یا اداره کې مسؤلیت لري.

32 د بورد کارې پروسه به د 84 ,74 ,40 او 85 پراګراف له مخې ښکاره شي.

# 7

# د عامه اړیکو کړنلاره

د عامه
اړیکو
پالیسی 2011

102. د پالسي د موخو د لاسته راوړلو لپاره په فعاله ډول عامه اړیکه ډیره مهمه وسیله ده. د برخه والو سره د اړیکو لپاره به لاندې روش یا لاره یو لاربنود وي.

103. د آسیا پرمختیایي بانک به په دوامداره توګه خپلې عامه اړیکو کړنلاره قوي او پرمخ بوځي او پدې اړه به خپلو لومړیتوبونو او د برخه والو غوښتنو ته بدلون ورکړي. او په ځانګړي ډول سره د آسیا پرمختیایي بانک په لاندې کړنې سرته ورسوي:

(i) د عامه اړیکو کړنلارې پلې کول چې مرکزي پاملرنه يې تلپاتي،بشپړ او اغیزناکه اړیکه نیول دی چې دغه کړنلاره د مینه والو د اړتیا سره برابره ده.

(ii) د خپل ماموریت په اړه مفاهمه تر سره کول تر څو د فقر کچه راکمه کړي او هراړخیزه ودې ملاتړ وکړي او همدارنګه چې د پوهې بانک او په سیمه کې د پراختیا لومړنې غړ وي

(iii) یو شمیرمیتودونو او وسایلو کارول چې د نوی تکنالوژي څخه نیولې تر مخامخ اړیکه نیولو پورې او د نور قانوني کړنلارې چې د مینه والو ته په اغیزناک ډول سره ورسیږي.

(iv) او خپل شتون په نړیوالو، سیمه ایزو او ملي میډیا کې په قوي کچه وساتي

(v) د پروژو په اړه مفاهمې ته وده ورکړي او ستراتیژیکي اړیکه نیولو ته وده ورکړي( د بحران اړیکه نیولو په شمول) اود ملګرو سره په ګډو پروژو کې ګډ اړیکه نیولو لپاره فرصتونه په ګوته کړي، او

(vi) داخلی اړیکه نیولو او په بهرني اړیکه نیولو کې د کارکوونکو وړتیا لوړولو ته وده ورکول.

## د پام وړکتونکي

104. د آسیا پرمختیایي بانک ددې هڅه کوي چې په پراخه کچه د کتونکو سره په پراختیایي غړي هیواد کې او یا هم د پور نه اخیستونکو غړو سره اړیکه ټینګه کړي. مهم کتونکي په لاندې ډول دي:

(i) دولتونه، د نظر پربنسټ مشران، پریکړه کوونکي، د پارلمان غړي په پراختیایي غړي هیوادونو کې او پور نه اخیستونکي غړو کې،

(ii) میډیا

(iii) مدني ټولنه، په شمول، متاثر خلک او

(iv) اکاډومیک خلک.

د آسیا پرمختیایي بانک به د کتونکو یا اوډیاینس په پروفایلونو او غوښتنو کې بدلون څاري او دې ته په کتلو سره به خپله د اړیکو ساتلو ستراتیژي برابروي.

## دپام وړ کتونکو ته د رسیدلو کړنلاره

105. د آسیا پرمختیایي بانک به خپل د نظراخیستلو سروې جاري ساتي د بیلګې په توګه درکلني د ادراک سروې، او د بیلابیلو د فیډ بیک چینلونو کارول تر څو ددې سره مرسته وکړي چې د آسیا پرمختیایي بانک به دوامداره توګه خپلې د مفاهمې کړنو ته وده ورکړي.

106. د یوشمیر وسایلو او تکنالوژي، لکه پرلیکه میډیا، ویب سایټونه، خبري رسنې، ټولنیزې رسنې، د ټولنو رسنی، ګرځنده تلیفونونه، ملټي میډیا چې پرلیکه ویډیوګانې، انځورونه، چاپي اثار او ځانګړي پروګرامونو په کارولو سره به آسیا پرمختیایي بانک خپل د پام وړ کتونکو یا اوډینسز سره په اړه کې شي او ورته به ورسیږي.

107. عامیانه مخامخ اړیکې د بیلګې په ډول لیدنه، لنډ معلومات ورکول او د معلوماتو وړاندې کولو سربیره د ټولنې میډیا لکه پوسټرونه، کوچنې رسالې او بروشورونه یا کوچنی کتاب ګې به د هغه خلکو لپاره چې تکنالوژي ته لاسرسی نه لري، دا د اړیکو نیولو د یوې ښې وسیلې په توګه پاتې شي.

108. د آسیا پرمختیایي بانک به ددې زیار باسي چې په نړیوالو رسنیو کي خپل نوم د پخواپشان په لوړه کچه د فعاله میډیا اړیکو ستراتیژي له لارې وساتي تر څو د خپل ماموریت، پالیسي ګانو، پروګرامونو، پروژو او د

پوهې تولیداتو ته د رسنیو زیات پوښښ ورکړي. د آسیا پرمختیایي بانک به پدې کار وکړي تر څو ددې کارونه په سیمه ایزه او نړیواله کچه د لیدلو وړ وګرځي.

109. د آسیا پرمختیایي بانک به خپل اړیکو نیولو ته د پروژو په اړه پراختیا ورکړي او دغه د مفاهمې کړنې به په ګډو پروژو کې د ملګرو سره شریکې کړي.

110. د آسیا پرمختیایي بانک به د امکان تر بریده ډیر معلومات ددغه بانک او عملیاتو په اړه ویب سایټ ته پورته کړي. او ویب سایټ ته به په دوامدار ډول سره وده ورکول کیږي تر څو د کارونکو د غوښتنو او هیلو سره سم وي. د آسیا پرمختیایي بانک به همدارنګه خپل د چاپي خپرونو پروګرام پیاوړی کړي، د خپل چاپي توکوویشل، پوهې ته وده ورکول، په پراخه کچه خلکو ته د معلوماتو رسول چې پدې کې د پراختیایي غړو هیوادونو ژبو ته ژباړه هم شامله ده، تر څو په سیمه کې د پوهې پر بنسټ اقتصاد ته وده ورکړل شي. د آسیا پرمختیایي بانک په دې ته دوام وکړي چې اصلي پوهې توکي د آسیا پرمختیایي بانک د کتابخانې د پروګرام له لارې د خلکو سره شریک کړي او په اغیزناکو چینلونو وده ته به پاملرنه وکړي تر څو د دغه بانک نشریو ته لاسرسې اسان کړي. ددې تر څنګ چې د آسیا پرمختیایي بانک خپل د پوهې توکي پر لیکه او چاپي بڼه وویشي، د آسیا پرمختیایي بانک به د یوې بلې وسیلې څخه کار واخلي چې هغه سیمه ایز او ملي کنفرانسونه جوړول او داسې نورو کړنې تر سره کول دي تر څو د پوهې توکي د خلکو سره شریک شي، د دولت د چارواکو اونورو مهمو کتونکو سره د نظرونو تبادله ده.

## ژباړه

111. د آسیا پرمختیایي بانک کاري ژبه انګلیسي ده[33]. دا پداسې حال کې ده چې اسناد او نور معلومات باید ډیری وخت نورو ژبو ته وژباړل شي تر څو برخه اخیستنه وهڅول شي او همدارنګه د خلکو د پوهې کچه زیاته کړي او د آسیا پرمختیایي بانک لخوا مرسته شوي کړنو لپاره د خپلو برخه والو او نورو برخه والو ملاتړ زیات کړي[34].

112. د آسیا پرمختیایي بانک به ژباړې د ژباړې د هغه چوکاټ سره سم تر سره کوي چې په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې یې جوړ کړي وو. پدې ډول ژباړو کې به لاندې معلومات شامل وي:

(i) د آسیا پرمختیایي بانک ټول کاروبار، پالیسی ګانې او ستراتیژیک خیال په ګوته کول او په پراخه کچه نړیوالو کتونکو او لوستونکو ته وړاندې کول

(ii) د عامه مشورو لپاره په ځانګړي ډول سره د متاثرو خلکو( ۴۷ مه ماده)

(iii) د ځانګړي هیوادونو، پروژو او پروګرامونو پورې اړونده

(iv) د اسیا پراختیایي ویب سایټ لپاره.

د ژباړې لپاره یې معیارونه د اړونده کتونکو او لوستنکو د پوهې کچه ده، هغه ژبه چې دغه خلک پرې پوهیږي، د ژباړې بدیل، د ژباړي لپاره وخت او لګښته ته اړتیا ده. ■

---

[33] د آسیا پرمختیایي بانک. 1966. د هوکړې کول، د آسیا پرمختیایي بانک، مانیلا، ( 39.1 ماده)

[34] که چیرې د انګلیسي ژبې او کومې بلې ژبې ته د ژباړل شوې سند تر منځ توپیر وي، نو د انګلیسې ژبه سند د اعتبار وړ دې.

# د پلي کولو تنظیمات

## دندې او مسؤلیتونه

### مدیریت

113. د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو د رهبرۍ او څارنې د اغیز د لوړولو لپاره مدیریت کلیدي ونډه لوبولې شي. مدیریت به د عامه اړیکو په فعالیتونو کې ګډون وکړي او داخلي اغیزمنې اړیکې به ترویج کړي، څو دا باوري شي چې کارکونکي د مدیریت د نظر او موقف څخه خبر دي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه به د مدیریت د څارنې د څانګې په توګه دنده ترسره کړي تر څو چې د پالیسي د ښکاره کولو اړتیا تفسیر، څارنه او بیا کتنه ترسره کړي.

## تولې څانګې او دفترونه

114. د آسیا پرمختیایي بانک ټولې څانګې او دفترونه به د پالیسي د پلي کولو مسؤلیت په غاړه لري. د آسیا پرمختیایي بانک کلیدي اړیکي نیونکي، د څانګو او دفترون مشران، د هیواد د ریيسانو او د دفترونو د مشرانو په ګډون به په فعاله توګه د بهرنیو وګړو سره اړیکي نیسي او د آسیا پرمختیایي بانک د هوډ او موخو په اړه د پوهاوۍ د لوړولو په هڅو کې به ګډون کوي او د دخیلو اړخونو باور به را منځ ته کوي. د عملیاتو یا آپریشن کارکونکي به د دخیلو اړخونو د ځانګړو پروژو په اړیکو کې کلیدي ونډه ولوبوي، او دا به باوري کوي چې د ښکاره کولو اړتیا پوره شوې ده. دغه څانګه به د آسیا پرمختیایي بانک د عامه وګړو د معلوماتو د لاس رسي د حق په اړه د عامه، خصوصي سکتور او مدني ټولنې د وګړو د پوهاوۍ د لوړولو په ترویج کې کار وکړي. د آسیا پرمختیایي بانک د غیر دولتي موسسو او د مدني ټولنې مرکز به د مدني ټولنو سره د اړیکو ملاتړ کوي. د پوهاوۍ او د بهرنیو اړیکو څانګه به په ګډه کار وکړي څو چې د تولیداتو د پوهاوۍ په اړه د توکو خپرول لوړ کړي.

## د بهرنیو اړیکو څانګه

115. د بهرنیو اړیکو څانګه د پالیسي د د منظم او دوامداره پلي کولو مسؤلیت په غاړه لري. د بهرنیو اړیکو څانګه به د مدیریت، څانګو او دفترونو او سیمیزو دفترونو سره له نږدې کار کوي څو چې بهرنې دخیل اړخونه او عامه اړیکي په اغیزمنه توګه ترسره کړي. ددې لپاره چې د شته سرچینو په مرسته خپل فعالیت لوړ کړي، نو د بهرنیو اړیکو څانګه به خپله ونډې تنظیم او کارونو ته به لومړیتوبونه ورکړي، څو چې د پالیسي ملاتړ وکړای شي.

### ښکاره کول

116. د عامه اړیکو څانګه د آسیا پرمختیایي بانک د کارکونکو تر منځ د معلوماتو د ښکاره کولو کلتور هڅوي او د هغه کارکونکو لپاره چې په فعاله توګه معلومات شریکوي، په دوامداره توګه امتیازات په پام کې نیسي.

117. د بهرنیو اړیکو په څانګه کې د عامه معلوماتو او ښکاره کولو واحد به د آسیا پرمختیایي بانک ټولو څانګو او دفترنو ته مشوره ورکوي او د پالیسي د ښکاره کولو د اړتیا څارنه به کوي. دغه واحد به همدارنګه هد عملیاتو د څانګي کارکونکو ته د پالیسي د ښکاره کولو د اړتیا په اړه لازمي روزنې دیزاین او ترسره کړي، او د کارکونکو امتیازاتو ته به د آسیا پرمختیایي بانک د پالیسي سره د مطابقت لپاره دوام ورکړي. دغه واحد به په مستقیمه توګه د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټي د فعالیتونو ملاتړ وکړي، او د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټي ته به د پالیسي د پلي کولو د پرمختګ په اړه د څارنې رپورټ سپاري (142 پراګراف). دغه واحد به عام خلک د عملیاتي اسنادو په اړه چې د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې شتون لري، خبروي. دغه واحد به همدارنګه د غوښتنو راټولولو د سیستم د ساتلو دنده د پالیسي د اړتیا په بنسټ به ترسره کوي.

118. د ویب پاڼې ډله به د واحد او د آسیا پرمختیایي بانک له څانګو او دفترونو سره به د اسنادو خپرولو او د معلوماتو پراختیا او د آسیا پرمختیایي بانک د ویب پاڼې د پلټنې د ښه فعالیت په موخه ګډ کار کوي.

### ژباړه

119. د ژباړې کاري چوکاټ چې په 2007 کالي کې تصویب شو، د اسیا پرمختیایي بانک پد انګلیسي پرته په

نورو ژبو د معلوماتو د لاس رسي د ډېرولو لیارې چارې په ګوته کوي. په 2011 کال کې د دغه کاري چوکاټ د سرچینو د اغیز په ګډون بیا کتنه ترسره شوه.

120. د بهرنیو اړیکو څانګه به د آسیا پرمختیایي بانک په چوکاټ کې د ژباړه پروژو مدیریت په غاړه واخلي، او عامه وګړو ته د ژباړو برابرولو کې مرسته وکړي، او د هغه اسنادو چې د بهرنیو اړیکو له لیارې ژباړل شوې دي، یو ریکارد له ځانه سره وساتي. هر میشت ماموریت به د بهرنیو اړیکو د څانګې په لارښوونې د وړو ژباړونکو او ایډیټرانو یوه ډله چې په هیواد کې کار وکړي، ولري. د بهرنیو اړیکو څانګه به د آسیا پرمختیایي بانک د څانګو تر منځ د شته ژباړو د خدمتونو په اړه معلومات او پوهاوې لوړوي.

**د ښکاره کولو لارښود کتاب او د پوهاوې د لوړولو توکي**

121. د بهرنیو اړیکو د څانګې کارکونکي به د عامه اړیکو د پالیسې د ښکاره کولو لارښود کتاب[35] پړاو په پړاو سره نوې کړي، تر څو چې د آسیا پرمختیایي بانک کارکونکو ته د عملیاتي معلوماتو او اسنادو د شریکولو په اړه لارښوونه ترلاسه کړي. د اړتیا په بنسټ د پوهاوې د لوړولو نور توکي به جوړ او نوې شي، تر څو چې د آسیا پرمختیایي بانک پور اخیستونکو او مشترکینو او نورو دخیلو اړخونه ته د پالیسې د احکامو د پلي کولو په اړه لارښونه وشي. ټول دغه مواد به د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه کې خپاره شي او په هیواد کې به په مناسب ډول د نورو وسیلو له لیارې خپاره شي.

**د هیواد په کچه د معلوماتو خپرول**

122. د آسیا پرمختیایي بانک به د خپلو اساسي تولیداتو په اړه پوهاوې د بانک د زیرمه یې کتابتون د پروګرام له لیارې خپروي. د آسیا پرمختیایي بانک د عامه معلوماتو د فعالیتونو اصلي موخه به د آسیا پرمختیایي بانک د عملیاتو په اړه معلوماتو او خبرونو ته لاس رسي او ښکاره کولو لوړول دي. نوې کارپوهان علمي ادارو، او نور پرمختیایي شریکانو سره به د پرمختګ په حال غړي هیوادونو کې شراکت ته لومړیتوب ورکړل شي.

## استازي دفترونه او میشت ماموریتونه

123. استازي دفترونه او د میشت ماموریتونه د عامه اړیکو په برخه کې د لومړې کرښې په توګه ونډه لوبوي، ځکه چې دوي اړونده وګړو سره نږدې دي، ددوې فعالیت او اقتصادي وړتیا، او په اړونده هیواد او سیمه کې چې دوي میشت دي د کلتور او د اړیکو له واقعیتونو څخه خبر دي.

124. د استازي دفترونو او د میشت ماموریتونو مشران د آسیا پرمختیایي بانک کلیدې اړیکې نیونکي دي او په اړونده هیواد او یا سیمه کې د رسنې، د نظر لرونکو مشرانو او تصمیم نیونکو سره د آسیا پرمختیایي بانک د فعالیت د هڅو پراختیا او وده په برخه کې کار کوي.

125. د آسیا پرمختیایي بانک به هڅه وکړي چې په میشتو ماموریتونو کې د بهرنې اړیکو مامورین ډیر کړي. دوې به د ماموریتونو او یا دفترونو مشرانو ته مسلکي ملاتړ او مشورې ورکوي، او د میشت ماموریت د مدیریت د ډلې برخه به وي، او د ماموریت د ټولو فعالیتونو څخه به پوره خبر وي. د میشت ماموریت د بهرنیو اړیکو کارکونکي به کره د دندو کاري لایحه او زده کړې ولري اومنظم او رغنده روزنې به ورکول کیږي.

126. د میشت ماموریت د بهرنیو اړیکو د کارکونکو لوې مسؤلیتونو په لاندې ډول دي (i) د عامه او خصوصي لویو ډلو سره د اړیکو جوړول او وده ورکول ترڅو چې د آسیا پرمختیایي بانک د لوړپوړو کارکونکو سره اړیکې او فعالیت را منځ ته کړي، (ii) د آسیا پرمختیایي بانک استازو او معلوماتو ته د سیمیزو او نړیوالو رسنیو منظم لاس رسې اطمینانی کول، (iii) د آسیا پرمختیایي بانک د دلچسپې وړ موضوعاتو لپاره د سیمیز، ملي او نړیوال خبرونو چې په انګلیسي او سیمیزه ژبو دې، څارنه ترسره کړي، او (iv) د ماموریت له کارکونکو او عامه وګړو سره د پالیسې د ښکاره کولو په اړتیا کې مرسته وکړي. ددې لپاره چې تداوم ته وده ورکړل شي او د معلوماتو شریکولو ګټه لوړه شي، په سیمیزو دفترونو کې د بهرنیو اړیکو کارکونکي او د بهرنیو اړیکو په څانګه کې ددوي همکاران به په منظمه توګه ناستې ترسره کوي او یا به ویډیو کنفرانسونه ترسره کوي او یا به د اړتیا په بنسټ په مستقیم ډول اړیکې نیسي. د میشت مامورین د بهرنیو اړیکو کارکونکي به د رپورټ ورکونې دوه مسؤلیتونه لري چې یو به خپل اړونده هیواد یا سیمیز رییس او بل به د بهرنیو اړیکو څانګې ته رپورټ ورکوي.

## د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته

127. د عامه ښکاره کولو مشورتې کمیته د پالیسې د ښکاره کولو د اړتیا تعبیر، څارنه او بیا کتنه ترسره کوي. د عامه ښکاره کولو مشورتې کمیته د اداري عمومي رییس

[35] د کارکونکو د ښکاره کولو لارښود کتاب: //www.adb.org/Documents/Handbooks/Disclosure/

( رییس په توګه)، د بهرنیو اړیکو د څانګې رییس، منشی او عمومی مشاور څخه جوړه شوې ده. دغه کمیته به عمومي رییس ته په مستقیمه توګه رپورټ ورکوي. دغه کمیته به د اړتیا له مخې د معلوماتو د هغه غوښتنو د بیاکتنې لپاره چې د آسیا پرمختیایي بانک د نورو څانګو او دفترونو له لورې رد شوې دي، ناسته ترسره کوي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته، د بورد د تصمیم پرته چې د معلوماتو لاس رسې یې محدود کړې وي (پراګراف 101)، صلاحیت لري چې معلوماتو ته د لاس رسي نیول شوې تصمیم لغو او یا د رد فیصله یې تایید کړي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته به همدارنګه د معلوماتو د ښکاره کولو غوښتنې چې د عامه وګړو په ګټه وي او په پالیسې کې د معلوماتو د ښکاره کولو په استثنا کې راځې هم د غور لاندې ونیسې ( پراګراف 99). د بهرنیو اړیکو په څانګه کې د عامه معلوماتو او ښکاره کولو واحد به د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیتې ته د دارلانشاء ملاتړ برابر کړي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته به د عامه اړیکو د پالیسې به اړه د کلنې رپورټ بیاکتنه به کوي او دغه رپورټ چې د پالیسې مطابق د ښکاره کولو اړتیاوې ارزوي، تصویب کوي. دغه کلنې رپورټ کې به د عامه معلوماتو د غوښتنو د رد لنډیز او د پالیسې اړونده د بدلونونو وړاندیزونه او د عملیاتي لارښود د څانګې او یا د آسیا پرمختیایي بانک د عامه معلوماتو د ښکاره کولو د ملاتړ په برخه کې د جوړښتیزو بدلونونو په اړه وړاندیزونه شامل وي.

## د شکایتونو خپلواکه بورد

128. د شکایتونو خپلواکه بورد هغه تورونه د غور لاندې ونیسې چې د آسیا پرمختیایي بانک باندې لګول شوې چې د عامه اړیکو پالیسې یې د معلوماتو په پټولو سره چې باید په عادي حالت کې یې ښکاره کړې وای، ماته کړې ده. دغه بورد به ددې صلاحیت ولري چې معلوماتو ته د لاس رې په اړه د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیتې تصمیم رد او یا په خپل حال پریږدي. د شکایتونو خپلواکه بورد د هغه تصمیمونو په اړه چې د آسیا پرمختیایي بانک له لورې د 99 او 101 پراګراف له مخې نیول شوې وي، د غور کولو صلاحیت نلري. د شکایتونو خپلواکه بورد کې درې بهرنې کارپوهان غړیتوب لري چې معلوماتو ته د لاس رسي په اړه پوهاوې لري.[36] د شکایتونو خپلواکه بورد به په نوبتې ډول سره او یواځې هغه مهال کار کوي چې د عامه اړیکو د ښکاره کولو مشورتي کمیتې د تصمیم په اړه شکایت د غور لاندې ونیسي. تر شونې کچې پورې، د شکایتونو خپلواکه بورد به خپل بحثونه د تیلیفون، بریښنالیک، او/یا ویدیو له لیارې ترسره کوي. د دارلانشاء دفتر به د شکایتونو خپلواکه بورد ته د منشي اړونده مرستې برابروي.

## پور اخیستونکې او/یا مشتري

129. د آسیا پرمختیایي بانک د پروژو لپاره، به د معلوماتو د ښکاره کولو ډیر مسؤلیت په پور اخیستونکي او/یا مشتري پورې اړه ولري. پوراخیستونکې یا مشتري به د عملیاتو د څانګې له کارکونکو سره کار کوي څو چې د پروژې د سیمي په اړه معلومات د فوکل پاینټ په مرسته چمتو کړي او د پروژې له امله اغیزمنه وګړوسره ډیالوګ ترسره کړي (پراګراف 47). د پروژو فوکل پاینټ به د آسیا پرمختیایي بانک ویب پاڼه د پروژې او د هیواد اړونده معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره وکاروي، او هغه معلومات چې اړونده ډلو ته په سیمیزه کچه مناسب دي د کلتوري حساسیتونو د میکانیزم په چوکاټ کې ښکاره کړي.

# د معلوماتو د ترلاسه کولو پروسیجر

## عاله ښکاره کول

130. د آسیا پرمختیایي بانک ویب پاڼه به د پالیسې د اړتیا په بنسټ د معلوماتو او اسنادو د فعالو ښکاره کولو لپاره لومړنې وسیله وي. د آسیا پرمختیایي بانک به د معلوماتو او اسنادو د فعالو ښکاره کولو لپاره نورې وسیلې هم وکاروي ( د بیلګې په توګه د مشورې د پروسې لپاره معلومات) او همدارنګه پور اخیستونکي او مشتریان به د معلوماتو د ترلاسه کوونکو وګړو او د معلوماتو د ښکاره کولو د موخو په بنسټ وکاروي.

## د معلوماتو غوښتنه

131. د معلوماتو او اسنادو غوښتنلیکونه باید ټول په لیکلي ډول سره وي (ایمیل، پست، د انټرنیت د فیدبک فورمه او یا فکس). معلومات باید د آسیا پرمختیایي بانک د عامه معلوماتو او ښکاره کولو واحد ته واستول شي: د پستې له لیارې د آسیا پرمختیایي بانک، ADB 6

[36] د شکایتونو د خپلواکه بورد غړي به د عمومي رییس له لورې ونومول شي او بورد به یې تاییدوي. د شکایتونو د خپلواکه بورد درې تنه غړي کیداي شي چې (i) د د پرمختګ په حال کې غړي هیوادونو یو تن استازې چې معلوماتو ته د لاس رسي په برخه کې ډیره تجربه ولري، (ii) د معلوماتو د لاس رسي یو کارپوه، یو مستقل تن چې د هر حکومت څخه وي، او (iii) په سوداګریزه برخه کې یو تن معلوماتو ته د لاس رسي کار پوه

جاده، مندولوینګ ښار، 1550 میترو، مانیلا، فلپاین، د بریښنالیک له لیارې disclosure@adb.org یا د فکس له لیارې په 2649 636 2 63+ واستول شي. د معلوماتو غوښتنه کیدای شي چې میشت ماموریت، استازي دفتر، یا د آسیا پرمختیایي اړونده څانګې او یا دفتر ته واستول شي. په غوښتنه کې باید د معلوماتو په اړه وضاحت ورکړل شوی وي، تر څو چې د آسیا پرمختیایي بانک وتوانیږي چې په مناسب وخت کې معلومات په ګوته کړي.

132. اړونده دفتر یا څانګه به دا معلومولي چې هغه سند دغه معلومات پکې دي د 97 پراګراف د احکامو په بنسټ ښکاره شي. د آسیا پرمختیایي بانک به له پور اخیستونکي، مشتري، یا ګډو تمویل کوونکي سره چې څرنګه مناسبه وي په دې اړه مشوره وکړي. د عامه معلوماتو او ښکاره کولو واحد به د آسیا پرمختیایي بانک کارکونکو ته مناسبه لارښوونه وکړي.

133. تاریخي معلومات د غوښتنې په بنسټ د 98 پراګراف د احکامو له مخې وړاندې کیدای شي. د تاریخي معلوماتو لپاره غوښتنه باید ځانګړې غوښتل شوي معلومات په ګوته کړي، د نا مشخصو تاریخي معلوماتو د ترلاسه کولو غوښتنه نه منل کیږي.

## د ځواب ویلو لپاره زماني حدود او د اوسنی معلوماتو لپاره غوښتنه

134. د آسیا پرمختیایي بانک د معلوماتو د ترلاسه کولو د غوښتنې ترلاسه کول تایید په پنځه کاري ورځو کې وکړي. د آسیا پرمختیایي بانک باید د معلوماتو غوښتونکي ته د تصمیم سره سم خبر ورکړي، او که چیرې کومه پیښه را منځ ته شوې وي، نو د 20 کاري ورځو وخڅه باید ډیر وخت ونه نیسي. په ځواب کې د آسیا پرمختیایي بانک باید غوښتل شوي معلوماتو ورکړي او یا هغه لاملونه چې ولې د معلوماتو غوښتنه رد شوې ده، چې ورسره د پالیسي احکام چې دغه رد توجیه کړي، ذکر شي. که چیرې د آسیا پرمختیایي بانک د غوښتل شویو معلوماتو ورکولو څخه انکار وکړي، نو باید غوښتونکي دپالیسي د 141-136 پراګرافونو مطابق د شکایت کولو د حق څخه خبر شي.[37] د آسیا پرمختیایي بانک باید د هغه غوښتنو او اړونده تصمیمونو لیست په ویب پاڼه کې خپور کړي چې بیا کتنه یې شوې ده، د بیلګې په توګه تصمیم منیل شوی یا رد شوی او د رد لاملونه د ذکر به ګډون

## د غوښتنې ژبه

135. غوښتنه کیدای شي چې د آسیا پرمختیایي بانک ته په انګلیسي او یا د بانک د غړي هیواد په هره رسمي یا ملي ژبه وسپارل شي. د معلوماتو او اسنادو هغه غوښتنې چې د انګلیسي نه پرته په بله ژبه شوې وي، د اړونده میشت ماموریت ته راجع کیږي.

## شکایتونه یا غوښتنه

136. د آسیا پرمختیایي بانک به د شکایتونو د ځواب لپاره دوه پړاونه تصویب کړي چې له مخې یې غوښتونکي کولای شي د غوښتل شویو معلوماتو د نه ترلاسه کیدو په صورت کې چې د پالیسي څخه تخطي شوې ده، شکایت وکړي. د پالیسي د استثناء په برخه کې چې د معلوماتو ورکول محدودي، هم کیدای شي چې شکایت وشي، خو دغه شکایت باید په دې بنسټ وي چې د معلوماتو ښکاره کولو ګټه عامه وګړو ته د زیان په پرتله ډیره وي. غوښتونکي ته چې د غوښتنې په بنسټ کوم معلومات ترلاسه کولای شي، یواځې د غوښتل شویو معلوماتو پورې محدود دي. د دوه پړاونو شکایتونو پروسه به د 141-137 پراګرافونو په بنسټ جوړ شي.

### د شکایتونو لومړی پړاو:

#### د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته

137. که چیرې د آسیا پرمختیایي بانک له لوري یو غوښتونکي ته معلومات ور نه کړل شي، نو غوښتونکي کولای شي چې د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیتې ته شکایت وکړي که چیرې غوښتونکي وکړای شي چې (i) مناسب دلایل برابر کړي چې د آسیا پرمختیایي بانک د غوښتل شویو معلوماتو باندې د محدودیت له امله د پالیسي څخه تخطي کړې ده، یا (ii) یا د عامه دلچسپي موضوع مطرح کړي چې د پالیسي استثنا د غوښتل شویو معلوماتو په اړه رد کړلای شي.

138. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته باید په پنځه کاري ورځو کې د شکایت د ترلاسه کولو تایید وکړي. دغه کمیته به په شکایت باندې د غور کولو لپاره ژر تر ژره ناسته ترسره کړي. د شکایت د بیاکتنې په مهال د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیته به د

[37] دغه مهال ویش به په هغه قضایاو کې چې د آسیا پرمختیایي بانک د 101 پراګراف له مخې خپل صلاحیت کاروي چې هغه معلومات چې معمولاً خپریږي، خپور نه کړي. په دغه قضیه کې، د آسیا پرمختیایي بانک به موضوع د وروستني تصمیم لپاره بورد ته سپاري.

پالیسي استثناءت چې به 97 پراګراف کې بیان شوې دي د غور لاندې ونیسي. که چیرې شکایت دلچسپي په بنسټ لکه څرنګه چې په 99 پراګراف کې ښودل شوې دي، نو بیا د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه به دغه ډول غوښتني باندې غور وکړي، خو هر ډول سپارښتنه چې د معلوماتو ښکاره کول او یا ردول به د بورډ تصویب ته اړتیا ولري، د بورډ او د عمومي رییس د ثبت او سجل لپاره، د نورو سندونو او ددوی تصامیم وروستني وي. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه باید په لیکلي ډول سره د معلوماتو غوښتونکي ته د آسیا پرمختیایي بانک د تصمیم په اړه خبر ورکړي، او د تصمیم نیولو سره جوخت باید اړوند دلایل هم وړاندې کړي، او د هر ډول پیښې په صورت کې دغه کار باید د شکایت د ترلاسه کولو له وروسته د 20 ورځو په موده کې ترسره شي، خو یوازې په استثنایي ډول سره که چیرې بورډ د 99 پراګراف په بنسټ تصمیم نیولی وي. په دغه ډول حالاتو کې باید غوښتونکي د بورډ د تصمیم څخه خبر شي.

## د شکایت دویم پړاو:

### د شکایتونو خپلواکه بورډ

139. که چیرې د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټې د معلوماتو د رد لومړني تصمیم په پاتې کیدو باندې فیصله وکړي، نو غوښتونکي کولای شي چې د شکایتونو خپلواکه بورډ ته شکایت وکړي. د شکایتونو خپلواکه بورډ به شکایت په دې موخه د غور لاندې ونیسي چې د آسیا پرمختیاېي بانک په معلوماتو باندې د محدودیت وضع کولو له امله له پالیسي څخه تخطي کړې ده. د شکایت د بیاکتنې په مهال، د شکایتونو خپلواکه بورډ باید شکایت، د پالیسي استثناءات او همدارنګه بیانیه چې د آسیا پرمختیایي بانک او/یا د دریمي ډلې له لورې چې د اړونده معلوماتو د ښکاره کولو مخالفت کوي، د غور لاندې ونیسي. د شکایتونو خپلواکه بورډ به دا صلاحیت ولري چې د عامه ښکاره کولو مشورتي بورډ تصمیم رد او یا قبول کړي او دغه تصمیم به وروستني وي. د شکایتونو خپلواکه بورډ باید ټول درخواستونو د ترلاسه کولو وروسته په 45 ورځو کې بیا کتنه وکړي. د شکایتونو خپلواکه بورډ باید هغه تصمیمونه چې د بورډ او یا رییس په خلاف شوې دي د غور لاندې ونه نیسي، څکه کیدای شي چې قضیه کې د عامه ګټو موضوع لکه څرنګه چې په 99 پراګراف کې راغلې ده، شامله وي، او یا شکایت د بورډ له لورې د تصمیم په اړه وي، چې د بورډ تصمیم د امتیازي صلاحیت له مخې د معلوماتو د ترلاسه کولو د رد په اړه وي، چې په عادي حالت کې دغه ډول معلومات د 101 پراګراف له مخې ښکاره کیدای شي.

### د شکایت سپارل او د تصمیم په اړه خبرول

140. د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټې ته ټول شکایتونه باید په لیکلي ډول سره معلوماتو ته د لاس رسي د رد د تصمیم څخه وروسته په 90 ورځو کې وشي. د شکایتونو خپلواکه بورډ ته باید ټول شکایتونه د عامه ښکاره کولو د تصمیم څخه وروسته چې د آسیا پرمختیایي بانک د معلوماتو د رد لومړني تصمیم په خپل حال پریږدي، په 90 ورځو کې په لیکلي ډول سره وشي. شکایت کیدای شي چې وسپارل شي: د پستي له لیارې چې د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټې او یا د شکایتونو خپلواکه بورډ ته د آسیا پرمختیایي بانک د عامه معلوماتو او ښکاره کولو د واحد له لیارې واستول شي. ADB 6 جاده، مندولوینګ ښار، 1550 میترو، مانیلا، فلپاین، د بریښنالیک له لیارې disclosure@adb.org یا د فکس له لیارې په 2649 636 2 63+ واستول شي. هغه شکایتونه چې له 90 ورځو څخه وروسته ترلاسه کیږي، باید په پام کې و نه نیول شي او د وخت څخه تیر باید وګڼل شي. هر شکایت باید په یو لنډ مکتوب کې ولیکل شي او باید لاندې محتویات ولري:

(i) د هغه اصلي معلوماتو په اړه توضیحات چې غوښتل شوې وه، او

(ii) یوه توضیحي بیانیه چې ټول هغه حقیقتونه پکې لیکل شوې وي چې له مخې یې غوښتونکي دا وښیې چې د آسیا پرمختیایي بانک د پالیسي څخه تخطي کړې ده او یا د عامه وګړو دلچسپي (99 پراګراف) د معلوماتو په ښکاره کولو کې ډیره ده

141. غوښتونکي یا شکایت کوونکي ته باید خبر ورکړل شي چې شکایت رد شوې دی، څکه چې (i) په خپل وخت یې شکایت نه دی کړی، (ii) نه دی توانیدلی چې د شکایت په اړه کافي معلومات برابر کړي، څو چې دعوا یې تایید کړي، یا (iii) د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه یا د شکایتونو خپلواکه بورډ د شکایت شوې موضوع په اړه د غور کولو صلاحیت نلري. که چیرې د آسیا پرمختیایي بانک او یا د شکایتونو خپلواکه بورډ د غوښتل شویو معلوماتو په اړه د رد لومړني تصمیم عملي وګڼي، نو د آسیا پرمختیایي بانک باید غوښتونکي ته د تصمیم او دلایلو په اړه خبر ورکړي. که چیرې د آسیا پرمختیایي بانک او یا د شکایتونو خپلواکه بورډ د معلوماتو د لاس رسي د رد لومړني تصمیم لغو کړي، د آسیا پرمختیایي بانک بیاد دغه تصمیم د غوښتل شویو معلوماتو سره یو ځای غوښتونکي ته ورکړي. د آسیا پرمختیایي بانک باید د ټولو ترلاسه شویو شکایتونو لیست او د هر شکایت ډول او اړونده تصمیم په ویب پاڼه کې خپور کړي. دغه لیست به د تصمیم نیولو وروسته نوې کیږي.

## څارنه او رپورټ ورکونه

142. د آسیا پرمختیایي بانک به د پالیسي د پلي کولو څارنه کوي او اغیز به یې ارزوي (څلورمه ضمیمه د پالیسي د کارې چوکاټ پایلي توضیح کوي). د آسیا پرمختیایي بانک به د څارني د پایلو په اړه کلني رپورټ په خپله ویب پاڼه کې خپروي.

143. د آسیا پرمختیایي بانک خپلو دخیلو اړخونو ته اجازه ورکوي چې موضوعاتو په اړه خبرې وکړي، معلوماتو ته لاس رسی ترلاسه کړي، او د آسیا پرمختیایي بانک د پالیسي په پلي کول کې دخیل شي. د آسیا پرمختیایي بانک به د هغه وګړو او ډلو نومونه ښکاره نه کړي چې د پالیسي د پلي کولو په اړه اندیښني وښیي.

## د پالیسي د پلي کیدو نیټه او بیا کتنه

144. دغه پالیسي باید د 2012 میلادي کال د اپریل په دویمه د تطبیق وړ ده. د آسیا پرمختیایي بانک به د دغه پالیسي بیا کتنه له یوې مودې وروسته چې د تطبیق څخه یې وروسته د پنځه کلونو ډیره نشي، ترسره کړي. په بیا کتنه کې به هغه وګړي او سازمانونه چې دلچسپي لري، شامل شي. ■

9

# د سرچینو اغیز او ونډه

د عامه
اړیکو
پالیسی 2011

145. د پالیسۍ د بریالۍ پلي کول لپاره اضافه او ډېرو لګښتونو ته اړتیا ده. د پروژې د اطلاعاتو پانه د ژباړې لپاره به اضافي سرچینو ته اړتیا وي، او د کلنۍ بودجې کاري چوکات نور هم ځواکمن شي. د ژباړو نورو خدمتونو لپاره به د بودجې اضافي اړتیاوې د 2011 کال د ژباړې کاري چوکاټ د ارزونې په مهال ترسره شي.

146. د آسیا پرمختیایي بانک کارکونکي، دولتي مامورین، او نور اړوند دخیل اړخونه باید د پالیسۍ د نوې احکامو او څرنګه د آسیا پرمختیایي بانک کارونه به اغیزمن کړي، خبر شي. د پوهاوي لپاره به بیلابیل مودلونه د مخامخ روزنو په ګډون، د آسیا پرمختیایي بانک په مرکز او سیمیزو دفترونو کې او که شونې وې د ویدیو کنفرانسونه و کارول شي. د هیواد په اړه به لنډیز معلومات په ځانګړې توګه د منځنۍ او اوږدمهالی ماموریتونو د استازیو په دفترونو کې د وضعیت په بنسټ به چمتو شي. د بهرنیو اړیکو څانګه د پالیسۍ د تصویب څخه وروسته د روزنې یوې بودجې ته اړتیا لري.

147. د شکایتونو خپلواکه بورد بودجه به د شکایتونو په شمیر پورې چې دغه بورد ته وړاندې کیږي، اړه ولري، او د کلنۍ بودجې د پروسې په چوکات کې به مناسبه مالي وجوه ورته وغوښتل شي. د شکایتونو خپلواکه بورد غړي به په نوبتې ډول او هغه مهال به کار کوي چې شکایت شوې وي. دوې ته به د هرې کارې ورځې لپاره فیس ورکړل شي.

148. په راتلونکو پنځه کلونو کې د دغه پالیسۍ د پلي کولو لپاره به 700,000 ډالره اضافه بودجې او دپوهاوې لوړولو روزنې لپاره 120,000 ډالره ته، لکه څرنګه چې په 145-147 پراګرفونه کې توضیح شوې ده، اړتیا ده. دغه سرچینې به د کلنۍ بودجې تخصیص په پروسې پورې اړه ولري، چې په دغه وخت کې به د سرچینو اړتیاوې و ارزول شي. د نړیوال درک د سروې لپاره به چې هرو درې کلونو کې به ترسره کیږي، بودجه ځانګړې شیږ.

149. برسیره پردې، سیمیزه دخیلو اړخونو ته د معلوماتو د لاس رسې په ډیروالي تاکید، د آسیا پرمختیایي بانک د پروژو په شمیر کې د پام وړ ډیروالي له امله، د عملیاتو په څانګو کې به ډیرو کارکونکو ته اړتیا وي، څوچې د پروژو لپاره د اړیکو ځانګړې پلانونه جوړ کړي. ددې لپاره چې په ساحه کې د پوهاوې فعالیتونه ډیر شي، په راتلونکې پنځه کلونو کې به د منځنې او لوېو میشتو ماموریتونو کې چې د بهرنیو اړیکو مامورین نلري، نور ملي او ادارې کارکونکي په پام کې ونیول شي. د کلنۍ بودجې د چمتو کولو په مهال به د کارکونکو اړتیا به په تفصیل سره بیاکتنه وشي. ■

# د بیاکتنه مطابقت

150. د پالیسۍ د ښکاره کولو اړتیاوې باید د بیاکتنې مطابقت پورې تړاو ولري چې د آسیا پرمختیایي بانک د حساب ورکونې د میکانیزم په بنسټ وي. پالیسۍ د 34-26 پراګرافونو کې، د ښکاره کولو جزییات په 101-35 پراګرافونو کې راغلي دي، او د پلې کولو تنظیمات یې په 144-113 پراګرافونو کې ترتیب شوې دي چې د آسیا پرمختیایي بانک د حساب ورکونې د میکانیزم د بیاکتنې مطابقت په بنسټ باید ولاړ وي. ■

## لومړۍ ضمیمه 1

# د بهرنۍ مشورې پروسه

1. د عامه اړیکو پالیسي بیا کتنه د 2010 میلادي کال په فبروري کې د یو لوړ پوړې داخلي رییسه هییت په ګمارنې چې مشري یې عمومي اداري رییس کوله پیل شوه. د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو د پالیسي د بیاکتنې لپاره یوه ځانګړې ویب پاڼه جوړه کړه، څو چې د بیا کتنې د پروسي د پیل اعلان وکړي. دغه موضوع همدارنګه د آسیا پرمختیایي بانک د شراکت د خبر پاڼي د بریښنایي بولتین د سر خبر وه چې دغه بولتین له 1,000 څخه ډېر ګډون کوونکي لري، چې ډېر یې د مدني ټولنې، اکادمیک وګړي او د نورو پرمختیایي ادارو څخه دي.

2. د آسیا پرمختیایي بانک عامه وګړو ته بلنه ورکړه چې د 2005 کال د پالیسي په اړه د عامه اړیکو د پالیسي د بیاکتنې د ویب پاڼې له لیارې نظرونه ورکړي. د عامه وګړو د نظرونو ورکولو دوه میاشتو موده د 2010 کال د اپریل په 15 پای ته ورسیدله. په دغه موده کې د آسیا پرمختیایي بانک د داخل او بهر څخه د نظرونو غوښتنه وشوه تر څو چې د پالیسي د مشورې لومړۍ مسوده برابره شي. هغه نظرونه چې تر لاسه شوي وه د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو د پالیسي په ویب پاڼه کې د بانک د ځوابونو سره خپاره شول.

3. د مشورې مسوده د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼه باندې د 2010 کال د جون په دویمه خپره شوه. په دغه مسوده کې یواځې اداري بدلونونه او د آسیا پرمختیایي بانک د کاري پروسو په اړه نوښتونه منعکس شوې وه. د پالیسي په اړه دغه مسوده او نظرونه په هیوادونو کې د اړونده مشورو بنسټ جوړ شو. دغه سند بیا په بهاشې اندونیزیایي، چینایي، هندي، خمر او روسي باندې و ژباړل شو.

4. د 2010 اګست د جون د 15 څخه تر اګست دویم پورې پراخه مشورې ترسره شوې. د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پاڼې باندې د عامه مشورې پلان او مهال ویش خپور شو. دغه مشوره د پاور پاینټ په پریزنتشن کې واضح شوې وه چې د مشورې د شالید او محتوا، د بحث لپاره کلیدي ټکي، او د پالیسي لومړۍ مسودې په اړه پکې توضیحات ورکړل شوي وه.

5. په ټولیزه توګه د مشورې 20 ناستې په 12 هیوادونو کې ترسره شوې: آسترلیا، بنګلادیش، کمبودیا، کانادا، د چین جمهوریت، هند، اندونیزیا، جاپان، فلپاین، تاجکستان، او متحده ایالات. له 500 څخه ډېرو دخیلو اړخونو په دغه مشوره کې ګډون وکړ. دغه دخیل اړخونو کې د حکومت استازي، مدني ټولنه، د اغیزمنو وګړو په ګډون، سیالي کوونکي سازمانونه، علمي وګړي، او د خصوصي سکتور استازو ګډون کړی وه. دغه مشورې په انګلیسي ژبه او د اړونده هیوادونو په ژبه باندې ترسره شوې چې د اړتیا له مخې تسهیل کوونکي او ژباړونکي ګمارل شوي وه.

6. پداسې حال کې چې ډېرو ګډونکونکو دا ومنله چې د پالیسي موخې او لیدلورې ښه وه، خو بیا هم یې لاندې بنسټیز وړاندېزونه وکړل:

(i) دغه پالیسي ته د نورو څو اړخیزه پرمختیایي بانکونو د ښکاره کولو د ښه فعالیتونو سره مطابقت ورکړل شي.

(ii) د رد شویو غوښتنو لپاره د شکایتونو یو خپلواک کمیسیون تاسیس کول

(iii) د ښکاره کولو د استثنا د پالیسي بیا کتنه

(iv) د ساحې په کچه د اغیزمن شویو وګړو د دخیلولو وده

(v) د بورډ د روڼتیا ډېرول
(vi) د خصوصي سکتور د عملیاتو په اړه د معلوماتو د ښکاره کولو ډېرول
(vii) د ژباړو ډېرول او ښه کول
(viii) د تفتیش رپوټونو او ټول هغه معلومات چې دلیرې شویو شرکتونو او وګړو په اړې دي، ښکاره شي.

7. د د ټولو مشورو لنډیز، د ګډونکونکو د لیست په ګډون د عامه اړیکو د پالیسي د بیاکتنې په ویب پاڼه کې خپاره شوي وه.

8. د 2010 میلادي کال، د نومبر د میاشتې په 26، د پالیسي په اړه دویمه مسوده او د بهرنیو نظرونو لنډیز او د آسیا پرمختیایي بانک ځوابونه د یوې میاشتې لپاره په ځانګړي ویب پاڼه کې خپاره شول. دغه بیا په بهاشي اندونیزیایي، چینایي، هندي، خمر او روسي باندې و ژباړل شو. تر شونې کچې پورې د مشورې په مهال بیا ددغې مسودې په اړه تر لاسه شوي نظرونه داخل شول.

9. وروسته له دې چې په دویمې مسودې باندې نظرونه د غور لاندې ونیول شول، یو کاري سند برابر شو څو چې د بورډ له لورې د 2011 کال د فبرورۍ په میاشت کې د غور لاندې ونیول شي. دغه کاري سند په دویمه مشورتي مسوده باندې د ترلاسه شویو نظرونو په ځواب کې د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو د پالیسي د بیاکتنې په ویب پاڼه باندې خپور شو.

10. د مشورې د پروسې د برخې په توګه، د عامه اړیکو د پالیسي د بیاکتنې ډلې همدارنګه څو ځلې د غیردولتي موسسو د ټولنو له استازو سره د آسیا پرمختیایي بانک او د نړیوالې روڼتیاې د نوښت په اړه په 2010 کال کې په مانیلا کې ناستې ترسره کړې تر څو چې د بیا کتنې په اړه بحث وکړي او نظرونه ترلاسه کړي. د 2011 کال د جنورۍ په میاشت کې د نړیوالې روڼتیا نوښتونو په مانیلا کې د عامه اړیکو د پالیسي د بیاکتنې په اړه یو ګردې میز دایر کړ. د 2011 کال د مې په میاشت کې، د آسیا پرمختیایي بانک د یوه پینل په بحث کې چې د عامه اړیکو د پالیسي په اړه او د غیر دولتي موسسو له لورې تنظیم شوې وه، ګډون وکړ، چې دغه بحث د آسیا پرمختیایي بانک په اړه د نوموړي بانک د 44 ناستې په دوران کې د ویتنام د ها نوي په ښار کې ترسره شوې وه. په دغه دواړو ناستو کې، د آسیا پرمختیایي بانک د عامه اړیکو د پالیسي او بیا کتنې په اړه یو پریزنټشن وړاندې کړ او د ګډونکونکو پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.

## دویمه ضمیمه 2

# د نورو څو اړخیزه پرمختیایي بانکونو کې د معلوماتو ښکاره کول

1. د څو اړخیزه پرمختیایي بانکونو د معلوماتو د ښکاره کولو د پالیسي ګډ او اساسي لارښود دا اړتیا په ګوته کوي چې په خپلو فعالیتونو کې باید ډیر ښکاره او روڼتیا ولري. د آسیا پرمختیایي بانک سیالي کوونکي سازمانونو په دې وروستیو کې د معلوماتو د ښکاره کولو پالیسۍ کې بدلونونه راوستلي دي او یا خپلې پالیسۍ ګانې د ډیرې روڼتیا او حساب ورکونې لپاره تعدیلوي. په هر یو دغه ادارو کې، د پالیسي په تعدیل کې د اسنادو د ښکاره کولو د پراختیا او دغه ډول معلوماتو ته لاس رسی ډیرول شامل دي.

## د افریقا پرمختیایي بانک

2. د 2004 کال د مارچ په میاشت کې، د افریقا پرمختیایي بانک د معلوماتو د ښکاره کولو پالیسي تصویب کړله، چې د 2005 کال په اکتوبر کې بیا تعدیل شوه. په دغه پالیسي کې دا ښکاره شوې دي چې د افریقا پرمختیایي بانک اړوند فعالیتونو او عملیاتو په اړه ټول معلومات ښکاره شي، یواځې د هغه حالاتو پرته چې ډیر اړ دلایل شتون ولري چې دغه معلومات ښکاره نشي.

3. د عملیاتي معلوماتو لپاره، په پالیسي کې یو لړ پراخه اسنادونه په ګوته شوي دي چې باید عام وګړو ورته لاس رسی ولري، د هر سند لپاره د لنډو معلوماتو په ګډون هغه پړاونه هم په ګوته شي چې ددغه سندونو د چمتو کولو پروسه کې تیر شوي دي. په پالیسي کې د افریقا پرمختیایي بانک د مالي، اداري او حقوقي معلوماتو په اړه ځانګړې اشاره شوې ده چې دغه ډول معلومات باید عامو وګړو ته ورکړل شي.

4. د بیلګې په توګه، په پالیسي کې دا په ګوته شوي دي چې د عملیاتي پالیسي سند او د هیواد د ستراتیژۍ سند مسودې به د بورډ د بحث څخه 50 ورځې وړاندې عامه وګړو ته ښکاره کیږي، تر څو چې د دغه سندونو په اړه مشورې ترویج او د دخیلو اړخونو ګډون ډیر شي.

5. د هغه معلوماتو کټګورۍ چې باید محرم پاتې شي، د داخلي مالي معلوماتو په ګډون چې کیداې شي د افریقا د پرمختیایي بانک د ډلې فعالیتونه په پانګو او مالي بازار، او مالي سوداګرۍ کې اغیزمن کړي، او یا د شخصي ادارو د ملکیت په اړه معلومات چې د افریقا پرمختیایي بانک ترلاسه کړې دي اویا د پور په اړه مذاکرې رواني وي شاملیږي، خو د دغه ډول معلوماتو خپرول یواځې هغه مهال کیداې شي چې د شخصي ادارو له لورې یې اجازه ورکول شوې وي.

6. د افریقا پرمختیایي بانک بورد د معلوماتو د ښکاره کولو پالیسي په 2011 کال کې ترسره او بشپړه شوې ده.

## د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک

7. د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک د عامه اړیکو پالیسي د 2011 کال د جولاې په میاشت کې نوې کړه. دغه نوې پالیسي د 2011 کال په نومبر کې نافذیږي.

8.   د پروژو پروفایلونه (د پروژې د لنډیز سندونه) به د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک په ویب پاڼه کې د خصوصي سکتور د پروژو د بورډ له لورې د غور څخه 30 ورځې وړاندې په ویب پاڼه کې خپریږي، پرته له هغه حالاتو څخه چې پروژه د محرمیت د محدودیتونه په چوکاټ کې راشي، چې په دې حالت کې به د پروژې د لنډیز سند به ژرترژره او د لومړۍ قسط د ورکولو د مخه خپور شي. د عامه سکتور د پروژود لنډیز سندونه لږ تر لږه بورډ ته د غور لپاره د وړاندې کیدو څخه 60 ورځې مخکې خپریږي. د پروژو پروفایلونه په انګلیسي او د اړونده هیواد چې پروژه پکې پلي کیږي، په ملي رسمي ژبه کې خپریږي. که چیرې په مادي ډول سره په پروژه کې بدلون راشي، نو بیا معلومات نوې کیږي.

9.   د 2011 کال د نوې شوې پالیسي مطابق، عامه وګړو ته د هیواد د ستراتیژۍ د چمتو کولو لپاره 45 ورځې د نظر ورکولو لپاره وخت ورکول کیږي. کله چې نوې پالیسي نافذه شي، نو د هیواد د ستراتیژۍ مسوده به په اړونده ملي رسمي ژبه خپره شي، څو چې عامه مشورې ته لاره هواره شي. د عامه نظرونو لنډیز او د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک کارکونکو نظرونو به هیواد د ستراتیژۍ وروستنې تصویب لپاره د رییسانو بورډ ته واستول شي. د بورډ له لورې د هیواد د ستراتیژۍ د تصویب وروسته به د عامه وګړو نظرونه د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک په ویب پاڼه خپاره شیو او وروستنۍ تصویب شوې ستراتیژۍ به په ملي رسمي ژبو خپره شي. پالیسي دا هم په ګوته کوي چې د سکتورنو د ستراتیژیګانو مسودې به د عامه نظرونو لپاره د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک په ویب پاڼه کې د 45 ورځو لپاره خپرې شي. د عامه نظرونو لنډیز او د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک کارکونکو ځوابونه د سکتور د ستراتیژۍ وروستنۍ تصویب لپاره د رییسانو بورډ ته واستول شي.

10.   د 2011 کال د عامه معلوماتو پالیسي کې د چاپیریال او ټولنیز اغیز د ارزونې د شاملولو ژمنه هم شوې ده چې بورډ ته د غور لپاره لږ تر لږه د خصوصي سکتور لپاره 60 ورځې او د عامه سکتور لپاره 120 ورځې وړاندې عامه وګړو ته په لندن کې د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک په مرکزي دفتر او اړونده هیواد میشت دفتر کې چې پروژه موقعیت لري، وړاندې شي.

11.   د اروپا پرمختیایي او بیارغوني بانک هر کال د عامه معلوماتو د پالیسي د پلي کولو په اړه کلنۍ رپورټ په خپل ویب پاڼه کې خپروي، چې د عامه معلوماتو د پالیسي په اړه د شویو ژمنو او دا چې د کال په دوران کې څرنګه پلي شوې دي، لنډیز وړاندې کوي.

## د اروپا د پانګې اچونې بانک

12.   د اروپا د پانګې اچونې بانک ژمن دی چې خپلو دخیلو اړخونو ته د معلوماتو لاس رسی ورکړي څو چې وتوانیږي د بانک د حکومتوالۍ، ستراتیژۍ، پالیسیو، فعالیتونو، کړنو، اجرائتو، اغیز او لاس ته راوړنو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي.  د اروپا د پانګې اچونې بانک د روڼتیا نوې ستراتیژۍ د 2010 کال د فبرورۍ د میاشتې څخه نافذه شوه. ټول معلومات چې د اروپا د پانګې اچونې بانک سره دي، د غوښتنې په بنسټ کیداې شي چې ښکاره شیو خو که چیرې د نه ښکاره کولو لپاره یې اړین دلیل وجود ولري. څرنګه چې د اروپا د پانګې اچونې بانک د یو بانک په توګه کار کوي، د معلوماتو د ښکاره کولو لپاره ځانګړي موانع هم شتون لري.

13.   ددې لپاره چې معلوماتو ته لاس رسي ترویج شي، د اروپا د پانګې اچونې بانک ژمن دی چې داسې یوه ژبه غوره کړي چې د عامه وګړو اړتیاوې پوره کړي.

14.   د هغه محدودیتونو سره چې د نافذه قوانینو او قواعدو له امله وضع شوې دي، عامه وګړو ته د معلوماتو د ښکاره کولو وروستنۍ تصمیم د اروپا د پانګې اچونې بانک سره دي، او دغه بانک به تصمیم نیسي چې کوم سندونه د خپل ویب پاڼې له لیارې او کوم سندونه په چاپي ډول سره خپاره کړي. په عمومي ډول سره، هغه سندونه چې د عامه دلچسپي وړ ګڼل کیږي، او کیداې شي چې ګڼ دخیل اړخونه یا د عامو وګړو د دلچسپي لامل شي، خپاره به شي.

15. پداسې حال کې چې د اروپا د پانګې اچونې بانک ژمن دی چې د معلوماتو ښکاره کولو روڼتیا پلې کړي، همدارنګه مسؤلیت لري چې مسلکې محرمیت د اروپایي قوانینو په بنسټ وساتي. ملي قواعد او د بانک د سکتور معیارونه چې سوداګریز تړونونه او د بازار فعالیتونه د پوښښ لاندې راولي هم د اروپا د پانګې اچونې بانک باندې پلې کیږي. د معلوماتو ښکاره کولو استثناءت په عمومي ډول سره د اروپا د پانګې اچونې بانک د خپلو شریکانو سره محرمې سوداګریزې اړیکې دي.

16. د اروپا د پانګې اچونې بانک ژمن دی چې په رضاکارانه توګه سره د ټاکل شویو پالیسیو په اړه رسمې عامه مشورې په لاره واچوي.

17. هر عام وګړی حق لري چې د اروپا د پانګې اچونې بانک څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي او تر لاسه یې کړي. غوښتنو ته هر ځواب باید له دلایلو سره یو ځای وي.

18. د سازمان په داخل کې د روڼتیا د پالیسي د پلې کولو لپاره سرچینې تخصیص کیږي. د اروپا د پانګې اچونې بانک په ټولو سیمیزو دفترونو کې د معلوماتو مرکز جوړ شي څو چې سیمیزو وګړو ته د اروپا د پانګې اچونې بانک د فعالیتونو په اړه معلومات ورکړي.

19. د اروپا د پانګې اچونې بانک د شکایتونو میکانیزم دخیلو اړخونو ته ، کله چې دخیل اړخونه داسې و انګیرې چې د اروپا د پانګې اچونې بانک د روڼتیا د پالیسي په بنسټ فعالیتونه نه دې عرضه کړي، د شکایت اجازه ورکوي.

## د بین الامریکا پرمختیایې بانک

20. د 2009 کال د دسمبر په میاشت کې بین الامریکایي پرمختیایې بانک د رییسانو اجرایوي بورد د روڼتیا د پالیسي د پراخه بیا کتنې اجازه ورکړه. بورد د بین الامریکایي پرمختیایي بانک معلوماتو د لاس رسي پالیسي د 2010 کال د مې په 12 تصویب کړه، او د 2011 کال د جنوري په لومړۍ نیټه نافذه شوه.

21. ددې لپاره چې د معلوماتو په ښکاره کولو باندې تاکید شوې وي، د بین الامریکایي پرمختیایي بانک به له دې وروسته ( مثبت لیست) د معلوماتو چې معمولاً یې ښکاره کوي، خپور نکړي. دغه پالیسي به هغه معلوماتو چې د بین الامریکایي پرمختیایي بانک له لوري تولیدیږي او یواځې د دغه بانک ملکیت وي د ښکاره کولو د استثناء لیست پورې تړاو ولري. برسیره پردې، په پالیسي کې یو شمیر ځانګړې معلومات لیست شوې دي چې باید خپاره نشي.

22. په دغه پالیسي کې د پخوا په پرتله اوس د ډیرو معلوماتو د څرګندولو اجازه ورکړل شوې ده، په ځانګړې توګه د بورد د کړنو او د پروژو د اجرا په اړه د معلوماتو ښکاره کولو اجازه ورکړل شوې ده. په پالیسي کې د بورد د کمیټو د اجندا او د ناستو یاداښتونو ته لاس رسي ورکړل شوې دې. د اجرایوي رییسانو بیانې به په رضاکارانه ډول سره ښکاره شي. د لومړۍ ځل لپاره به د یو شمیر پروژو د څارنې او ارزونې رپورټونه عامه وګړو ته وړاندې شي. په دغه پالیسي کې د بورد د ځینو اسنادو ښکاره کول په ورته وخت کې چې بورد ته لیږل کیږي، وړاند وینه کړې ده، لکه د هیواد ستراتیژۍ، د پور لپاره پروپوزل، او تخنیکي مرستې چې دغه ښکاره کول د دخیل هیواد رضایت پورې تړاو لري.

23. د پالیسي مطابق هغه معلومات چې عامه نه دې، د وخت په تیریدو سره ښکاره شي. که چیرې معلوماتو ته د لاس رسي یوه غوښتنه

24. رد شي، غوښتونکې کولای شي چې په دویم پړاو کې خپلواکه بورد ته شکایت وکړي.

# د نړیوال بانک ډله

## نړیوال مالي شرکت

25. د 2009 کال د سپتمبر په میاشت کې نړیوال مالي شرکت، د 2006 کال د ښکاره کولو د پالیسي بیا کتنه د یو اوږدمهالي کاري چوکاټ د برخې په توګه پیل کړه. د نړیوال مالي شرکت اوږدمهالي کاري چوکاټ د ریيسانو بورډ د 2011 کال د مې په 12 تصویب کړ، چې معلوماتو ته د لاس رسي پالیسي پکې شامله ده. په دغه نوې پالیسي کې د معلوماتو د ښکاره کولو په ملاتړ کې چې په پالیسۍ کې بیان شوې دي، توضیحات راغلي دیو چې د دغه ډول معلوماتو د ښکاره کولو لپاره باید مقنع دلیل شتون ولري. دغه پالیسي کې د نړیوال مالي شرکت د خپلو پروژو او پانګه اچونو په اړه توان لوړ شوې دې چې د ټولې پروژې د دوران په اړه خبرې وکړې او د پرمختیایي لاس ته راوړنو په اړه رپورټ ورکړي. همدارنګه دغه پالیسي د نړیوال مالي شرکت د پانګې اچونې او مالي مداخلو او مشورتي خدمتونو کې روڼتیا لوړوي، او د هغه وګړو لپاره چې د ښکاره کولو غوښتنې یې رد شوې وې، د شکایتونو لپاره دوه پړاو لرونکي خپلواکه میکانیزم را منځ ته کوي.

## څو اړخیزه پانګې اچونې د تضمین اداره

26. د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین ادارې د معلوماتو د ښکاره کولو پالیسي د 2007 کال د جولای په لومړۍ نیټه نافذه شوه چې د 1999 کال د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین ادارې د ښکاره کولو پالیسي او احکام یې لغوه کوي.

27. د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین اداره د خپلو فعالیتونو په اړه معلومات ښکاره کوي څو چې خپل مشتریان، دخیل اړخونه ( د اغیزمن شویو ټولنو په ګډون)، او نور دلچسپي لرونکو عامه وګړي په ښه ډول سره پوهه شي او ښه ونډه واخلي او د پوهاوي په بنسټ د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین ادارې د سوداګریزو فعالیتونو، د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین ادارې د عمومي پرمختیا او د نورو فعالیتونو د اغیز، او پرمختیا کې یې د ونډې، په اړه بحث وکړي. دغه معلومات چې د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین اداره یې ښکاره کوي، د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین ادارې، په اداري معلوماتو ، او د هغه فعالیتونو په اړه معلومات چې د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین اداره یې ملاتړ کوي، په کټګوري کې راځي. پداسې حال کې چې د ډېرو معلوماتو د ښکاره کولو مسؤلیت د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین ادارې د مشتریانو په غاړه دي، د څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین اداره، ځینې ځانګړي معلومات د خپلې پالیسي مطابق ښکاره کوي.

28. د هغه معلومات چې په پالیسي کې یې د ښکاره کولو وړاندوینه شوې ده، ښه ګڼل شوې ده، په هغه صورت کې چې د معلوماتو نه ښکاره کولو لپاره کوم قانع دلیل شتون ونلري.

## نړیوال بانک

29. د نړیوال بانک معلوماتو ته د لاس رسي پالیسي د اجراییوي رییسانو د بورډ له لورې د 2009 کال د دسامبر په میاشت کې تصویب شوه او د 2010 کال د جولای په لومړۍ نیټه نافذه شوه. دغه نوې پالیسي د معلوماتو په ښکاره کولو کې د نړیوال بانک په کړنلاره کې بنسټیز بدلون را منځ ته ک- چې د یوې کړنلارې څخه چې د هر ډول معلوماتو د ښکاره کولو په اړه به یې فیصله کوله، اوس داسې کړنلارې ته بدلون وموند چې ټول معلومات چې په واک کې لري د استثناء شوي لیست پرته یې ښکاره کړي.

30. پالیسي د ډېرو معلوماتو د ښکاره کولو اجازه ورکوي، په ځانګړې توګه د پروژو په اړه چې چمتو او پلې کیږي، د تحلیلي او مشورتي فعالیتونو او د بورډ د کړنو په اړه معلومات ښکار کړي. په ورته وخت کې دغه بانک ځینو پالیسي او ستراتیژیګانو، د پروژو اړونده اسنادو ته د بورډ رییسانو ته د بیاکتنې او غور سره سم، لاس رسي ورکوي. خو، پالیسي د بحثونو پروسه محرمه ساتي، ځکه چې د دغه پروسې

تصمیمونه او فعالیتونه د غړو دولتونو باور او اړیکي ساتي او دا تضمین کوي چې کارکونکي په ازاد ډول سره خپل نظر او وړاندیزونه په داخل کې او له خپلو مشتریانو سره شریک کړي.

31. پالیسي اعظمي معلوماتو ته د لاس رسي او د معلوماتو د محرمیت تر منځ چې ښکاره کول یې کیداې شي ښکاره ګټو ته زیان ورسوي، یو انډول جوړ کړې دی. په پالیسي کې یو لیست د معلوماتو شامل دی چې دغه ډول معلومات به ښکاره نشي، چې د استثنایي معلوماتو په توګه ګڼل کیږي. خو، نړیوال بانک حق لري چې په استثنایي حالاتو کې ځانګړي معلومات چې د استثنا په لیست کې راځي، ښکاره کړي، که چیرې نړیوال بانک دا ومومي چې د دغه ډول معلوماتو ښکاره کولو ګټو د معلوماتو د پټولو څخه ډیره ده. همدارنګه، دغه بانک حق لري چې هغه معلومات چې په معمولي حالاتو کې یې ښکاره کوي، په استثنایي ډول سره ښکاره نه کړي، که چېرې بانک ته دا جوته شي چې د دغه ډول معلوماتو ښکاره کولو زیان د ګټې په پرتله ډیر دی.

32. د نوې پالیسي مطابق، نړیوال بانک به ترشوني کچې معلومات له عامه وګړو سره شریک کړي، په ځانګړې توګه په خپل بهرني ویب پاڼه کې دغه معلومات خپاره کړي، او ښکاره او اغیزمني پروسې به د معلوماتو د غوښتنو او د غوښتل شویو معلوماتو د ځواب ویلو لپاره برابرې کړي. همدارنګه نړیوال بانک به د شکایتونو دوه پړاونو پروسه جوړه کړي، دویم پړاو به داسې میکانیزم وي چې د خپل مدیریت څخه به خپلواک وي، او دا به د هغه وګړو لپاره وي چې په دې باور وې چې نړیوال بانک په غیرې مناسبه توګه معلوماتو ته د دوی لاس رسي رد کړې دی. په پایله کې، پالیسي دا مني چې د وخت په تیریدو سره د ځینو معلوماتو حساسیت کمیږي، او د ځینو محرمو کټګوریو معلوماتو د ښکاره کولو لپاره یو وروستني مهال ویش هم برابروي.

## دريمه ضميمه 3

# د 2005 کال د عامه اړيکو پاليسي، د عامل اړيکو د پاليسي دڅيړنې سند او د نړيوال بانک او بين الامريکايي پرمختيايي بانک معلوماتو ته د لاس رسۍ د پاليسيو پرتله

(سپتمبر 2011)

| موضوع | د آسيا پرمختيايي بانک اوسني فعاليتون (د 2005 کال د عامه اړيکو پاليسي) | د عامه اړيکو د پاليسي د بيا کتنې د پلټنې پاڼه | نور څو اړخيزه پرمختيايي بانکونه |
|---|---|---|---|
| 1. د پاليسي عنوان | د آسيا پرمختيايي بانک د عامه اړيکو پاليسي: ښکاره کول او د معلوماتو تبادله | د پاليسي عنوان په خپل حال پاتې شو | نړيوال بانک: د نړيوال بانک معلوماتو ته د لاس رسي پاليسي<br><br>IDB: معلوماتو ته د لاس رسي پاليسي |
| 2. د پاليسي وضعيت | په 2005 کې پاليسي تصويب شوه. اوس مهال د بياکتنې لاندې ده | د پلي کيدو ور نه ده | نړيوال بانک: د 2009 کال د نومبر په 17 پاليسي تصويب او د 2010 کال د جولي په لومړي نافذه شوه.<br><br>IDB: د 2010 کال د مې په دولسمه تصويب او د 2011 کال د جنورۍ په لومړي نافذه شوه |
| 3. د بهرنيو اړيکو ستراتيژي په پاليسي کې شامله شوې ده؟ | هو، د عامه اړيکو پاليسي د ښکاره کولو د پاليسي او د بهرنيو اړيکو د ستراتيژي توليزه ده. | د بهرنيو اړيکو ستراتيژي د عامه اړيکو په مشخص تمرکز باندې بدله شو، تر څو چې دا باوري کړي چې د بيلابيلو وګړو سره اغيزمنې اړيکي ترسره شوي دي. | نړيوال بانک او IDB:<br>هيڅ پوښښ نشته: يواځې معلوماتو ته لاسرسی.<br>بهرني اړيک او عامه اړيکي بيلو سندونو کې څيړل شوي دي |
| 4. د اصولو په بنسټ تګلاره؟ | د عامه اړيکو پاليسي ځينې عمومي اصول ټاکي (38-28 پراګرافونه)، خو واضح تاکيد په کومه موضوع نه دي شوي | د پاليسي په بيانيه کې د پاليسي په بنسټيزو موضوعاتو تاکيد شوی دي (33-27 پراګرافونه) | نړيوال بانک او IDB پاليسي ګاني د اصولو په بنسټ کړنلارې باندې ولاړې دي. |
| 5. د ښکاره کولو په ملاتړ بيان شوی دی؟ | هو. | د معلوماتو د ښکاره کولو د ملاتړ وضعيت ساتل شوي دي. | نړيوال بانک او IDB: هو |
| 6. د وخت په بنسټ ښکاره کول؟ | هو، د سند وخت چې د آسيا پرمختيايي بانک کې به خپريږي، د سند د ډول له مخې په ښکاره ډول سره بيان شوي دي ( د بيلګې په توګه، ځينې سندونه بايد د ارزونې د مخه خپاره شي، او نور بايد د بورډ د غور وروسته په دوه اونيو کې دننه خپاره شي). | هو. د معلوماتو د ښکاره کولو وخت او د ارتيا په بنسټ تازه کول. د بورډ د ډيرو سندونو ښکاره کول د بورډ سره د شريکولو په مهال ترسره کيږي | نړيوال بانک او IDB :<br>د نړيوال بانک او IDB د پاليسي د سند له مخې د معلوماتو د ښکاره کولو لپاره کوم مهال ويش نه دي ورکړل شوي، يواځې د بورډ د سندونو په اړه چې د بورډ سره د شريکولو په مهال به ښکاره کيږي. |

د جدول ادامه

| موضوع | د آسيا پرمختيايي بانک اوسنی فعاليتون (د 2005 کال د عامه اړيکو پاليسي) | د عامه اړيکو د پاليسي د بيا کتنې د پلټنې پانه | نور څو اړخيزه پرمختيايي بانکونه |
|---|---|---|---|
| **6. د د وخت په بنسټ ښکاره کول ( د مخکني جدول ادامه)** | هو. پنځه کاري ورځو کې د غوښتنې رسيدل بايد تاييد شي او په 30 ورځو کې بايد ورته ځواب ورکړل شي. | هو. پنځه کاري ورځو کې د غوښتنې رسيدل بايد تاييد شي او په 20 ورځو کې بايد ورته ځواب ورکړل شي. | هو: نړيوال بانک:<br>هو. پنځه کاري ورځو کې د غوښتنې رسيدل بايد تاييد شي او په 20 ورځو کې بايد ورته ځواب ورکړل شي. چې د تاريخ د تمديد امکان شته<br><br>IDB: په پاليسي کې بهرنيو غوښتنو ته د ځواب لپاره کوم ضرب الاجل نه دي ورکړل شوي |
| **7. په پاليسي کې د مثبت ليست اسناد شامل دي يا هغه معلومات شامل دي چې بايد ښکاره شي؟** | هو، د عامه اړيکو پاليسي کې د هغه معلوماتو چې د آسيا پرمختيايي بانک په ويب پانه کې بايد خپاره شي او يا د پور اخيستونکي او مشتري له لوري اغيزمنو ته خپاره شي، شتون لري. (مثبت ليست) | هو، مثبت ليست ساتل شوي او نوي کيږي تر څو چې دخيل اړخونو خبر وي چې کوم مهال اسنادونه او معلومات په فعاله توګه ښکاره کيږي. | نړيوال بانک او IDB: د معلوماتو د ښکاره کولو لپاره هيڅ ډول مثبت ليست نلري.هر هغه معلومات چې په منفي ليست کې نه راځي، ښکاره کيدلای شي. |
| **8. د ښکاره کولو استثاءت (منفي ليست)** | هو (127-126 پراګرفونه) | د استثنا ليست واضح شوي دي (97 پراګراف). د اوه کټګوري معلوماتو لپاره چې بايد ښکاره نشي، عنوانونه ورکړل شوي دي. په ځينو قضيو کې، د استثنا ليدلوري نور هم د اړونده معلوماتو چې بايد ښکاره نشي، د ښکاره کولو سره د زيانونو د ډول په ګوته کولو سره نور هم مشخص شوي دي. | نړيوال بانک او IDB: هو. خو د معلوماتو نه ښکاره کولو استثناءت د هغه زيانونو په اړه چې د ښکاره کولو په صورت کې يې را منځ ته کيږي، نه بيانوي. |
| **9. د بحث لاندې موضوعاتو د معلوماتو محرمي؟** | هو، محرم معلومات چې د استثنا په چوکاټ کې راځي (126.3-126.1 پراګرفونه). هغه معلومات چې د 126.2-126.1 پراګرافونو لاندې راځي، ښکاره نشي، خو که چيرې ځانګړې کټې يې د ښکاره د زيان څخه ډيرې وي. د بورد د ناستو يادښتونو متن د (126.3 پراګراف) په بنسټ په استثنا کې راځي. | هو، د 2005 کال د عامه اړيکو د پاليسي د محرمو معلوماتو پروسه په 97 پراګراف (iii) -(i) پورې په خپل حال پاتې شوي ده. د بورد د ناستو د يادښتونو متن کيداي شي چې د غوښتنې په بنسټ لس کاله وروسته ښکاره شي (پرته له تيرو کړنو)، دا کار په هغه صورت کې کيداي شي چې په دغه يادښتونو کې داسې معلومات نه وي چې د پاليسي په استثناءتو کې راشي (84 پراګراف) | هو. نړيوال بانک او IDB: د بحثونو اړوند معلومات د استثنا په کټګورۍ کې راځي.<br>نړيوال بانک: د بورد او د بورد د کميټو د ناستو د يادښتونو متن د غوښتنې په بنسټ لس کاله وروسته شريک کيداي شي، خو په دې شرط چې دغه معلومات د محرومو معلوماتو په ليست کې شامل نه وي.<br>IDB: د بورد او د بورد د کميټو د ناستو د يادښتونو متن د IDB پاليسي کې د پوښښ لاندې نه دي راغلي. |

د جدول ادامه

ادامه لري

| موضوع | د آسیا پرمختیایي بانک اوسنی فعالیتون (د 2005 کال د عامه اړیکو پالیسي) | د عامه اړیکو د پالیسي د بیا کتنې د پلټنې پاڼه | نور څو اړخیزه پرمختیایي بانکونه |
|---|---|---|---|
| **10. د ټولو معلوماتو امنیتي محرمیت چې له بانک سره دي؟** | نه (د محرمیت سیستم یواځې د بورد اسنادو لپاره دی). | نه. د داخلي مصؤنیت د محرمیت سیستم بیاکتنه به بیله ترسره کیږي. | نړیوال بانک او IDB: هو |
| **11. د بانک د معلوماتو او اسنادو ښکاره کول؟** | هو، خو د معلوماتو د ښکاره کولو فعال سیستم باید نه وي. د معلوماتو هره غوښتنه باید د عامه اړیکو د پالیسي سره پرتله او بیا کتنه یې وشي. که چیرې سند په استثنا کې نه راځي، بیا نو غوښتل شوي معلومات باید ښکاره شي. تاریخي معلوماتو په برخه کې لږ استثناءت شتون لري. | هو. اوسني فعالیتونه په خپل حال پاتې کیږي. | نړیوال بانک او IDB: د 5، 10 او 20 کلونو وروسته د اسنادو ډول ته په کتو سره د معلوماتو ښکاره کول |
| **12. د بانک امتیازي اختیارات چې د عامه دلچسپي لپاره هغه معلومات چې په استثنا کي راځي ښکاره کړي (مثبت رد)؟** | هو، ټول معلومات چې د عامه اړیکو د پالیسي د استثنا په چوکاټ کي د پوښښ لاندې راځي، پرته د محرمیت د حقوقي ژمني څخه (129-130 پراګرافونه) د PDAC د تصمیم مثبته لغو | هو، اوسني فعالیت په خپل حال پاتي کیږي (100-99 پراګرافونه). د تصمیم مثبت لغو کول د بورد د ریکارډ لپاره د بورد تصمیم او د نورو اسنادو لپاره د عمومي رییس لغو کول | نړیوال بانک: هو، یواځې د ځانګړو شرکتي معلوماتو لپاره، محرم معلومات او مالي معلومات<br><br>IDB: هو |
| **13. بانک د خپل امتیاز له مخې هغه معلومات چې په استثنا کي نه راځي، نه ښکاره کوي ( منفی رد)؟** | نه | هو، په استثنایي حالاتو کي، او که چیرې بورد اجازه ورکړي (101 پراګراف) | نړیوال بانک: هو، په استثنایي حالاتو کي، او که چیرې د بورد له لوري ورته صلاحیت ورکړل شوي وي، د بورد د ریکارډ لپاره، او د معاون رییس او یا د بورد در رییس له لوري د نورو اسنادو لپاره.<br>IDB: هو، په استثنایي حالاتو کي، د بورد د ریکارونو لپاره د بورد لیکل شوي اجازه او معلوماتو ته د لاس رسي کمیته اجازه د نورو اسنادو لپاره |
| **14. د معلوماتو د رد په صورت کي د شکایتونو پروسه؟** | هو (داخلي). د شکایت یو پړاو میکانیزم دی چې د PDAC له لوري ترسره کیږي او غړي یې د عمومي مدیریت رییس، منشي، عمومي مشاور او د بهرنیو اړیکو عمومي رییس (158-159 پراګرافونه) | هو. د شکایتونو دوه پړاونه دي (136-141پراګرافونه):<br>(i) لومړي پړاو په PDAC پورې اړه لري ( داخلي)<br>(ii) دویم پړاو کي دري تنه خپلواک وګړي چې د معلوماتو په اړه کارپوهان وي په پروسه کي دخیل دي. | نړیوال بانک: هو. د دوه پړاونو د شکایت میکانیزم، چې دویم پړاو یې خپلواکه دی، چې دري تنه د معلوماتو د ازادي کارپوهان دي.<br>IDB: هو، د دوه پړاونو د شکایت میکانیزم، دویم پړاو یې بهرنی بورد دی (ترکیب په اړه یې جزییات نشته) |
| **15. شکایتونه: د بیاکتنې لیدلوري یا کچه؟** | د PDAC له لوري یې بیا کتنه کیږي که چیرې د غوښتنې د رد په اړه شکایت وشي چې پالیسي څخه تخطي شوي ده. | لومړي پړاو: د PDAC له لوري بیا کتنه (i) چې د معلوماتو د غوښتنې د رد له امله له پالیسي تخطي شوي ده، (ii) د پالیسي د استثنا د لغوې لپاره غوښتنه ( عامه کتې، 99 پراګراف) | نړیوال بانک او IDB: لومړي پړاو: د داخلي کمیټي له لوري بیاکتنه<br>(i) شکایت چې د معلوماتو په ردولو سره د پالیسي څخه تخطي شوي ده، یا (ii) د عامه ګټو لپاره د لغوې غوښتنه |

د جدو ادامه

| موضوع | د آسیا پرمختیایي بانک اوسنۍ فعالیتون (د 2005 کال د عامه اړیکو پالیسي) | د عامه اړیکو د پالیسي د بیا کتنې د پلټنې پانه | نور څو اړخیزه پرمختیایي بانکونه |
|---|---|---|---|
| | | دویم پړاو: د شکایتونو د څېلواکه بورډ له لورې د PDAC د تصمیم بیاکتنه د (i) قضیې په صورت کې | دویم پړاو: د شکایتونو د څېلواکه بورډ له لورې د داخلي کمیټې د تصمیم بیا کتنه (i). |
| 16. د اداري بودجې جزییاتو ښکاره کول؟ | هو. د اسیا پرمختیایي بانک بودجې کلني مالي رپورټ ښکاره کیږي. | هو. اوسني فعالیتونه په خپل حال پاتې کیږي. | نړیوال بانک او IDB: هو |
| 17. همزمانه ښکاره کول: (i) د پالیسیو او ستراتیژیو ښکاره کول چې بورډ سره د شریکولو په مهال عامه مشورې پرې ترسره شوې وي؟ | نه | هو. د پالیسي او ستراتیژي سندونه چې د عامه مشورې له پروسې څخه تیر شوي وي ( W او د R سند) به د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پانه کې بورډ سره د شریکولو په مهال خپره شي (72 پراګراف) | نړیوال بانک: هو، د پالیسي او ستراتیژي سندونه چې د عامه مشورې وروسته چمتو شوي وي، که چیرې مسوده د اجراییوي رییسانو له لورې بیاکتل شوې وي. IBD: هو، د عملیاتي پالیسیو او ستراتیژیک سکتور په اړه که چیرې د سند لومړنۍ نسخې د بورډ له لورې د غور لاندې نیول شوې وي. |
| (ii) هغه مهال د هیواد د ستراتیژیو ښکاره کول چې له بورډ سره شریکې شوې وي؟ | نه، خو د CPS مسوده باید په هیواد کې دخیلو اړخونو سره د مشورې په موخه د CPS د تصویب څخه وړاندې دوه ځلې شریکه شي. | هو. د CPS وروستنۍ پروپوزل به د ADB په ویب پانه کې بورډ ته د شریکولو په مهال خپور شي، په دې شرط چې د غړي هیواد له دغه ښکاره کولو سره موافق وي (38 پراګراف). | نړیوال بانک: هو، که چیرې غړي هیواد رضایت ولري. IDB: هو، خو د اړونده هیواد رضایت پورې تړاو لري. |
| (iii) د پور پروپوزلونه د بورډ ته د تصویب لپاره د استولو په مهال ښکاره کول | نه. د بورډ د تصویب څخه وروسته په دوه اونیو کې دننه د پور هیڅ پروپوزل نه ښکاره کیږي. | هو. د دولتي پروژو لپاره د پور پروپوزل، او کمکي اسناد بورډ ته د لیږد په مهاهل ښکاره کیږي، که چیرط غړي هیواد د دا ډول ښکاره کولو سره توافق ولري (58 پراګراف) | نړیوال بانک: هو، که چیرې غړي هیواد رضایت ولري. IDB: هو، که چیرې د دولتي تضمین شوي پروژو فعالیت وي، نو د غړي هیواد رضایت شرط دی. |
| 18. د پروژې جزییات ښکاره کول | هو. د PID د پیل او نوي کیدلو د برخې په توګه عمومي معلومات ورکول کیږي. | هو. د پروژې په اړه عمومي معلومات، د مهال ویش، وضعیت، او د پلي کیدو د پرمختګ په اړه معلومات به په PDS که منعکس شي (پخواني PID) | نړیوال بانک: هو، د پروژې د سند د لومړني یا نوي معلوماتو په توګه او د د پلي کیدو د وضعیت او پایلو رپورټ. IDB: هو |
| 19. د مالي تفتیش بیانیو ښکاره کول چې د بانک د مالي پروژو په اړه دي؟ | نه. | هو. د پروژو د تفتیش کلني حسابونه به د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پانه خپاره شي. چې د دولتي پروژو د مذاکرې بلنه د پالیسي د نافذیدو وروسته صادریږي (62 پراګرف) | نړیوال بانک: هو. د هغه پروژو د تفتیش کلني مالي بیانیه به ښکاره شي چې د خبرو لپاره یې بلنه د 2010 کال د جولاي په لومړي او یا د هغې وروسته شوې وي. IDB: د پور اخیستونکي او یا کټه اخیستونکي د اجازې سره به د پروژو د کلني تفتیش رپورټ د دولتي پروژو لپاره ښکاره شي. |

د جدول ادامه

ادامه لری

| موضوع | د آسیا پرمختیایي بانک اوسني فعالیتون (د 2005 کال د عامه اړیکو پالیسي) | د عامه اړیکو د پالیسي د بیا کتنې د پلټنې پانه | نور څو اړخیزه پرمختیایي بانکونه |
|---|---|---|---|
| **20. د داخلي تفتیش د ریورتونه ښکاره کول؟** | نه، کیداي شي په دغه ډول رپورتونو کې د داخلي سیستم په اړه حساس معلومات شتون ولري، چې کیداي شي د دریمې ډلې له لوري ناوړه وکارول شي تر څو چې د آسیا پرمختیایي بانک کارونه زیانمن کړي. | نه، اوسني تګلاره په خپل حال پاتي ده. | نړیوال بانک: نه، د داخلي تفتیش رپورتونه محرم ګڼل کیوي له دي امله د دغه ډول معلوماتو ښکاره کول عامه وګړو ته نه کیږي.<br>IDB: نه. |
| **21. د پروژي د څارني، د پروژي د اجرائتو، د پروژي د ارزوي او یا تعادل د رپورتونو ښکاره کول؟** | هو. د پروژي د څارني اړونده معلومات په PID کې ښکاره کیږي.<br>د پروژو د بشپړیدو او د ارزوني رپورتونه هم د آسیا پرمختیایي بانک په ویب پانه کې ښکاره کیږي | هو. اوسني تګلاره په خپل حال پاتي ده. | نړیوال بانک او IDB: هو |
| **22. ښکاره کول (i) د بورد د ناستو یاداښتونه، (ii) د بورد د کمیټو د ناستو یاداښتونه، او (iii) د بورد د کمیټو کلني رپورتونه؟** | (i) هو، د بورد د ناستو یاداښتونه ښکاره کیږي<br>(ii) نه، د بورد د کمیټې د ناستو یاداښتونه نه ښکاره کیږي<br>(iii) هو، د بورد د کمیټې کلني رپورتونه ښکاره کیداي شي که چیرې کمیټي دغه سپارښتنه وکړي او بورد یې تصویب کړي. | اوسني فعالیتونه په خپل حال پاتي کیږي. | نړیوال بانک او IDB: هو، د بورد د ناستو یاداښتونه ښکاره کوي، د بورد د کمیټو یاداښتونه، او کلني رپورتونو ښکاره کول د نړیوال بانک او د بین الامریکایي پرمختیایي بانک په پالیسیو کې روښانه شوي دي. |
| **23. ژباړه** | د ژباړي کاري چوکاټ په 2007 کې تصویب شو.<br>د اسیا پرمختیایي بانک د ټاکل شویو هیوادونو لپاره د CPSs ژباړي د هغه توکو د ساتنې لپاره ډیر اړین دي چې د پروژي مالکینو پوري تړاو لري، او همدارنګه د پوهاوي توکي تر 25 ژبو پوري ژباړل کیږي، چې حجم یې دوه میلیونه کلمي په کال کې دي. | اوسني تګلاره په خپل حال پاتي کیږي. برسیره پردي، PDSs به نورو اړونده ملي ژبو ته د ټولو پورونو او مرستو پروژو لپاره وژباړل شي او همدارنګه د پروژو د چمتوکیدو د تخنیکي مرستو لپاره هم ژباړه ترسره شي.<br>یادونه: په 2011 کال کې د آسیا پرمختیایي بانک د ژباړي کاري چوکاټ بیا کتنه وشوه. | نړیوال بانک: په 2003 کال کې یې د ژباړي کاري چوکاټ تصویب او 2006 کال کې یې بیا کتنه وکړه. نړیوال بانک ډلي په پراخه کچه عملیاتي او د پوهاوي مواد شپږو ژبو (عربي، چینایي، پرتګالي، روسي او هسپانوي) ته او نورو هغه ژبو ته چې غوښتني یې کیدله، وژباړل (د کال 30 میلیونه).<br>نړیوال بانک په واشنګټن کې د ژباړي یو مرکز لري چې په شپږو سیمو کې ورته نور مرکزونه لري.<br>د بین الامریکایي پرمختیایي بانک: رسمي ژبې انګلیسي، هسپانوي، فرانسوي، او پرتګالي ده. د بین الامریکایي پرمختیایي بانک د ژباړي کلني حجم 13 میلیونه کلمي ده او ټولو رسمي ژبو ته یو مشترک ویب سایټ لري. ټول اسناد چې د بورد مشرانو ته سپارل کیږي، په څلورو رسمي ژبو ژباړل کیږي. |

ADB = د آسیا پرمختیایي بانک, CPS = د هیواد د ګډون ستراتیژي, DER = د بهرنیو اړیکو څانګه, IAP = دشکایتونو خپلواکه بورد , IDB = بین الامریکایي پرمختیایي بانک, MDB = څو اړخیزه پرمختیایي بانک, PCP = د عامه اړیکو پالیسي, PDAC = د عامه ښکاره کولو مشورتي کمیټه, PID = د پروژي د معلوماتو سند, PDS = د پروژي د اطلاعاتو پانه,
RRP = د عمومي رییس رپورټ او وراندیزونه, TA = تخنیکي مرستي .
سرچینه: د آسیا پرمختیایي بانک

## ځلورمه ضميمه 4

# د عامه اړيکو د پالیسۍ د کارۍ چوکات پایلې

| د طرحي لنډيز | شاخصونه او موخي | د ربور او څارني ميکانيزمونه |
|---|---|---|
| **اغيز**<br>د پرمختيا د اغيز لوړيدل | د اصلاحي اجندا د پرمختک رپوټ له لیارې بې څارنه کيږي | د پرمختيا د اغيز د بياکتني کلني ربورتونه[a] |
| **پايلې:**<br>د آسياپرمختيايي بانک باندې د دخيلو اړخونو باور او کار په لوړه کچه ډير شوي دي. | د آسيا پرمختيايي بانک په اړه د دخيلو اړخونو د درک ښه والي، او د آسياپرمختيايي بانک د ازادي، حساب ورکوني او ګډون ارزونه | د نظر ورکونکو مشرانو د درک سروی (هر دري کاله)<br>د مشتريانو او ګډون سرويګاني، او د نورو دخيلو اړخونو ارزوني<br>د پنځه کلونو وروسته د پاليسي جامع بياکتنه |
| **لاس ته راورني**<br>1. د آسيا پرمختيايي بانک فعاله اړيکي | د آسيا پرمختيايي بانک د کليدي نوښتونو، پروژو، او پاليسيو د جوړلو او پلي کولو لپاره د اړيکو ستراتيژي<br>په کليدي نړيوالو، سيميزو او ملي رسنيو کې دوامدار شتون<br>له معلوماتو ډک او د کارونکو لپاره د آسيا پرمختيايي بانک ويب پاڼي اسانه کاروني دوام<br>د لوړ کيفيت د خپرونو توکو توليد او خپرول | د دخيلو اړخونو د درک سروی (هر دري کاله)<br>د عامه اړيکو د پاليسي کلني رپورتونه<br>د آسيا پرمختيايي بانک د ويب پاڼي او رسنيو د څارني توکي ( د بيلګي په توګه د ويب پاڼي کلني رپورټ)<br>د خپريدونکو توکو پيريدنه، ترلاسه کولو او يا کتل |
| 2. د آسيا پرمختيايي بانک عملياتي فعاليتونه معلوماتو ته د لاس رسي ډيريدل | د آسيا پرمختيايي بانک له لوري د ملاتړ شويو پروګرامونو او پروژو کې اړيکي او د معلومات شريکول شامل شوي دي.<br>د معلوماتو د غوښتني سل سلنه ځوابونه په شلو ورځو کې دننه ورکړل شوي دي.<br>د ښکاره کولو د اړتيا سره سل سلنه مطابقت ترلاسه شوي دي.<br>د آسيا پرمختيايي بانک په ويب پاڼي کې د اسنادو په خپرولو کې کلني ډيروالي راغلي دي.<br>د بوهاوي د لوړولو او نورو اسنادو د ژباړې په کيفيت کې ښه والي را منځ ته شوي دي | د عامه اړيکو د پاليسي کلني ربورتونه<br>د معلوماتو د غوښتني په ګوته کولو د سيستم اطلاعات، چې د غوښتنو لپاره پروسس شوي دي او د عامه اړيکو د پاليسي کلني ربورتونه<br>د عامه معلوماتو او د ښکاره کولو د واحد د ښکاره کولو د مطابقت ربورتونه او د عامه اړيکو د پاليسي کلني ربورتونه<br>د عامه اړيکو د پاليسي کلني ربورتونه |

د جدول ادامه

**ادامه لرى**

| **د طرحي لنډيز** | **شاخصونه او موخي** | **د رپور او څارني ميکانيزمونه** |
|---|---|---|
| **د فعالیتونو لاس ته راوړني مهم ټکي** | | |
| 1.1. د پاليسي لپاره د اړيکو پلان برابرول | د پاليسي د تنفيذ د نيتي سره | د اړيکو پلان |
| 1.2. د آسيا پرمختيايي بانک د ويب پاڼي بنه والي، تر څو چي د کارونکو هيلي او اړتياوی پوره کړي ( د بيلګي په توګه کارونه، لاس رسی) | په دوامداره توګه | د بهرني کاروني ازماينه يا د مستقيم کارونکو سروي |
| 2.1. د شکايتونو خپلواکه بورد تاسيس | د پاليسي د تنفيذ د نيتي سره | د شکايت خپلواکه بورد جوړه شوي ده او په خبرونو کي خپريږي، د اسيا پرمختيايي بانک ويب پاڼه، د عامه اړيکو د پاليسي کلني رپورټونه، د کارکونکو د فعاليت لارښود او کتاب |
| 2.2. د پاليسي په اړه د کاري لارښود او کتاب چمتو کول، نوي کول او خپرول | د پاليسي د تنفيذ د نيتي سره | د پوهاوي د لوړولو په اړه د توکو برابرول |
| 2.3. د پاليسي په اړه د پور اخيستونکو او مشتريانو د پوهاوي توکي جوړ او خپرول | د پاليسي د تنفيذ د نيتي څخه دري مياشتي وروسته | د عامه اړيکو د پاليسي کلني رپورټ |
| 2.4. کارکونکو او اړونده دخيلو اړخونو ته د نوي پاليسي په اړه د روزني او د پوهاوي لوړولو فعاليتونو ترسره کول | د پاليسي د تنفيذ د نيتي څخه يو کال وروسته | د ژباړي کاري چوکاټ نوي کول |
| 2.5. د ژباړي کاري چوکاټ نوي کول | د پاليسي د تنفيذ له نيتي سره بشپړ کيږي | د عامه معلوماتو او د بنکاره کولو واحد د څارني رپورټونه او د عامه اړيکو د پاليسي کلني رپورټونه |
| 2.6. د بنکاره کولو د اړتيا د مطابقت څارنه کول | په دوامداره توګه ( لړتړلړه په کلني ډول) | |

[a] د آسيا پرمختيايي بانک د پرمختيا د اغيز بياکتنه: http://www.adb.org/defr

سرچينه: د آسيا پرمختيايي بانک

**د آسيا پرمختيايي بانک په اړه**

د آسيا پرمختيايي بانک ليدلورې د آسيا او اقيانوس سيمه د بيوزلۍ څخه خلاصون دی. د آسيا پرمختيايي بانک ماموريت د پرمختګ په حال کې هيوادونو سره مرسته کول دي څو چې بيوزلي کمه کړي او د خلکو د ژوند کيفيت په لوړولو کې مرسته وکړي. سره له دې چې په دې سيمې کې په دغه برخه کې ډيرې برياوې تر لاسه شوې دي، خو بيا هم د نړۍ دوه دريمه بيوزلي په دغه سيمه کې ژوند کوي: 1.8 ميلیارده وګړي د ورځې له 2 ډالرو څخه لږ عايد باندې ژوند کوې، چې 903 ميليونه وګړي د ورځې 1.25 څخه په کمو ډالرو ورځ تيروي. د آسيا پرمختيايي بانک ژمن دې چې د ګډې اقتصادې ودې، د چاپيريال اوږدمهالې ودې او د سيمې د تماميت له لیارې د بيوزلي کچه را ټيټه کړي.

د آسيا پرمختيايي بانک مرکز په مانيلا کې دې او د 67 غړو، د 48 سيمو په ګډون، ملکيت دې. د پرمختګ په حال کې هيوادونو سره ددغه بانک بنسټيز توکي د پاليسې په اړه ديالوګ، پورونه، شتمنيو پانګه اچونه، تضمينو، بلاعوضه مرستې او تخنيکي مرستې شاملې دي.

**زمونږ سره اړيکه**
د ارزوني خپلواکه اداره
د اسيا پراختيايي بانک
۶ ای ډي بي جاده، ماندالوينګ ښار
**۱۵۵۰** ميټرو مانيلا، فيلپاينز
www.adb.org
ISBN 978-92-9254-396-9
د خپروني د زيرمې شميره. TIM146277

په داسې پاڼو کې چاپ شوې دي چې بيا کارول کيداې شي

طباعت فلپائن